منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي مياشتنۍ خپرونه

دافغانستان جهاد دهمدی قوماندانانو په قومانده پیل شوی او اوس
هم ددوی مسولیت دی چی ددښمنانو ټولی دسیسی شنډی کړی
الحاج „حقاني „



دقوماندانانو
ددریمي سرتاسري
شوراګډه اعلامیه

دقوماندانانو دسرتاسري شورا ددریمي غونډي رپوټ

دشهید مطیع الله
„مطیع„ په یاد

دالحاج مولوی جلال الدین „حقاني„ په
نوم دصبغت الله „مجددی„ لیک

الهي لارسووني

او تاسي دالله (ج) په لار کي له هغو کسانو سره وجنگيږي چي له تاسي سره جنگيږي خو تيري مه کوي په تحقيق سره چي الله (ج) تيري کوونکي نه خوښوي

البقره -۱۹۰ ايت

يادونه :

دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدين حقاني دپاکستان دکراچي ددينې جامعو مدرسو او علماوو په دعوت دروان کال ددلوي په مياشت کي کراچي ته سفر کړي ؤ هلته يي زياتو غونډو او کنفرانسونو ته ارزښتناکيويناوي کړي ددي سفر بشپړ رپوټ به راتلونکي گڼي کي انشاالله ولولي

اداره

منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي مياشتنی خپرونه

مؤسسس : الحاج مولانا جلال الدين «حقاني»

دتأسيس كال : ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱٤۰۹هـ ق

دريم كال ، اوومه ، اته گڼه د ۱۳۷۰ هـ ش مرغومی ، سلواغه د۱٤۱۲ هـ ق – جمادي الثاني ، رجب المرجب شعبان المعظم

په دې گڼه کې

شمېر	عنوان	مخ
۱:-	سرمقاله	(۲)
۲:-	يادي از يك روز ...	(٤)
۳:-	دخوست له فاتح سره دملگرو ملتو ...	(۷)
٤:-	دامام اعظم ژوند ...	(۱۰)
٥:-	دحضرت امام يوسف دفقاهت ...	(۱۳)
٦:-	دشهيد مطيع الله مطيع ...	(۱٦)
۷:-	اعلاميهء شوراي سوم سرتاسري	(۱۸)
۸:-	دافغانستان پر فضاي قلمرو ...	(۲۰)
۹:-	دپکتيا او پکتيکا دصحي...	(۲۲)
۱۰:-	داسلام په اړه دصليبيانو اويهوديانو...	(۲٤)
۱۱:-	دزيړوك دعلاقه داري فتحه ...	(۲۷)
۱۲:-	دافغانستان جهاد دهمدي ...	(۲۹)
۱۳:-	مجاهدينو دخوست اسيرانو...	(۳۷)
۱٤:-	درسول الله (ص) دژوند ...	(٤٦)
۱٥:-	كمونيزم يا دتكامل او ...	(٤۹)
۱٦:-	شعر وادب ...	(٥۲)
۱۷:-	اي دالجزاير خلكو ! ...	(٥٤)
۱۸:-	حوادث داغ ...	(٥٥)
۱۹:-	راغلي ليكونه ...	(٦۱)
۲۰:-	ابدي ژوندي ...	(٦۳)

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بكس نمبر (۱۰۳۳) يونيورسټي

ټاون – پېښور

دټيلفون نمبر :(۸۱۲۸۸۱)

بانكي پته

حبيب بانك ، كنت برانچ صدر روډ څانگه

دحساب نمبر : ۲۰٥٥۹

پېښور – پاكستان

كمپوزر: احمدضيا « ذهين بابري »

بسم الله الرحمن الرحيم

منبع الجهاد

ديوه پړاو بشپړيدل او دبل چيلنج

دادي دسلواغي د ۲٦ نيټي په رارسيدو سره دخپل اتل او سرښندونکي ملت دبرحقي مبارزي او جهاد ديوه پړاو دبشپړيدو شاهدان شو ، پر افغانستان باندي دروسيي قواو يرغل ، دافغانانو دمادي اومعنوي هستيو دلوټولو هڅي ، دکورونو او کليو خاورو سره خاوري کول ، ديو نيم ميلون څخه دزياتو خلکو په شهادت رسول دزرګونو معيوبول او دافغانستان دروسي کولو هڅي او ددي ټولو په مقابل کي دافغانانو قهرمانانه پاڅون ، دروسانو ګوليو ته دخپلو سينو سپر کول ، دبارونو سره لوبي کول او بلاخره دروسانو پوزي دخاورو سره مښل ، دامو له سيند څخه دهغوي پوري ايستل او دي اعتراف ته اړ ايستل چي «بيا به دافغانستان خواته په بد نظر ونګورو » زموږ داتل ملت دهغو شپو ، ورځو دکړنګ په کړنګ غورځيدو او اوږدو مزلونو نتيجه ده چي په دي موده کي کړي .

منو چي که ديوي خوا په دي اتلواله مبارزه او جهاد کي موږ ته دپښو غوځيدل ،معيوبيدل ، دکور کلي ورانيدل ، دمادي هستيو لوټيدل او نورور ، پلار اورزوي څخه جلا کيدل راپه برخه شول دبلي خوايي زموږ دملت پرسر ديوه تړيوال ابر ځواک دنسکورولو ، ټوټه کيدلو او محکومو اسلامي هيوادونو او

قومونو ته دخپلواکي ساه ورپوکولو پګړي وروتړله .

نن موږ دخپل همدي اتلوالي مبارزي ديوه پړاو دبشپړيدو شاهدان يوو ، دروسانو هغه امپراطوري چي چيرته به يي هم پښه کيښودله بيابه يي چادبيرته راپه شاکيدو خوب نه ليده زموږ دمجاهدينو د اتلوالي مبارزي له امله داسي دړي وړي شوه چي له نړي څخه يي دامپراطوري دتغر ورټولولو سره جوخت يي خپل هيواد هم ټوټه شو او ټولو هغو رياستونو چي ۷۲ کاله يي دنوي په اسارت کي ژوند کړي و يو په بل پسي خپله ازادي اعلان کړه ، زموږ دملت ددي مبارزي بهير دومره ګړندي او بريالي و چي دهغي له وجي يوه امپراطوري نه بلکي يوه نظريه دتاريخ دپاڼو جزوګرځيدله ، دروسيي ټوټه کيدل او کمونيزم تغر ورټوليدل زموږ دمبارزي ديوه پړاو دبشپړيدو زيري دي خوبايد په يادولرو چي دبرياليتوب دوروستي څلي دخپلولو دکابل پر ښار داسلامي جنډي دړپولو او اسلامي حکومت دجوړولو په لار کي ستونزي او خنډونه مو مخي ته دي که يو استعمار په ګونډو شو بل دنړي په بده وهلو ته ملا راتړلي ، نه غواړي موږ داسلامي حکومت تر سيوري لاندي ژوند وکړو ، کله په يوه بله نامه دمفسدو څيرو درامخي ته کولو زيار کاږي او کله هم دګډ ائتلافي حکومت ګواښونه کوي .

په دي لاره کي يواځني شي چي داستعمار ړنهوروته دغړولو زمينه مساعده کړي يو له بل څخه زموږ فاصله نيول دي او داهم ورځ په ورځ داسي ريښي ځغلوي چي که مخه يي ونه نيول شي موږ ډيري بدي راتلونکي باندي تهديدوي ، روان حالت او داستعمار دتوطيو چټکتيا داراښيي که نن لکه څنګه مو چي په يوه خوله اواوږه په اوږه دروسانو مقابله وکړه داستعمار ددي توطيو مقابله ونکړو ښايي ددي پړاو او دبريالي بشپړيدلو مزل به مو ډير اوږدشي ، پکارده لکه څنګه چي دقوماندانانو شورا دسرتاسري کيدو کړي ورځ په ورځ ټينګږي او هغوي چي په کومه روحيه اواخلاص ددبنيان مرصوص صف جوړولو زيار کاږي که په همداسي دوروري نه ډکه روحيه دګونډونو مشران او دسياست دډګر لوبغاړي هم يوه بل ته دوروري لاسونه ورکړي ښايي داستعمار دتوطيو مخه به ونيولي شو کنه نو خداي مکړه ديونيم مليون شهيدانو دوينو په بيه ګټل شوي ډګر به مو دشخصي ګټو او رقابتونو په سيند لاهو شي .

یادی ازیك روز سیاه تاریخ افغانستان

سمیع الله « تازه »

سیاسي تبصره

امروز که این سطور را مینویسم ماه های اندی از سقوط امپراطوری کمونستی اتحاد شوروی گذشته وان سرزمینها و مردمانیکه بزور ترور وحشت وجنایات فراوان دکتاتوری پرولتاریای کمونست های روسی تحت فرمان مسکو در اورده شده بودند یکی پی دیگری اعلان ازادی نموده سرنوشت خودرا بدست می گیرند .

این روز برای هر افغان ازیك جهت مایه خرسندی بی پایان است که ان قوای وحشی که بر کشور فقیر واسلامی مامرگ وخون را با هجوم لشکر وحشی خود بمردم ما به ارمغان اورده بود عاقبت الامر در ان دریای خونی غرق گردید که خود ریخته بود واز جهتی نیز مایه تاثراست ان بدبختی وسیا هروزی که روسها ی متجاوز بامداخله مستقیم وغیر مستقیم بر مردم وکشور ما اورده بودند هنوز هم در حالی ادامه دارد که عامل ان از عواقب لشکر کشی به افغانستان نابود گردیده است .

مردم افغانستان ان خاطره تلخ روز سیاه ششم جدی ۱۳۵۸ راهمیشه بیاد خواهند داشت که قوای وحشی امپراطوری کرملین باوسیله قراردادن ببرك کارمل این جاسوس پر سابقه کی ،جی ،بی ، دستگاه جاسوسی امپراطوری کمونستی برحریم کشور اسلامی و پر افتخار ما بغرض اشغال دایمی ان پاگذاشتند .

در روز ششم جدی قوای اشغالگرروسی از هوا وزمین بر کشور ماریخته امین خاین وظالم رانابود و کارمل ایجنت خودرا بر کشور ماحاکم کردانیدند . مردم ماکه اصلاً خائنین چون تره کی ، امین ، ببرك ونه هیچکدام دیگر از کمونست های وطنفروش را که از طریق کودتای خونین ثور بقدرت رسیدند نماینده خویش ندانسته خلاف انها اعلان جهاد نمودند .

باورود قوای روسی قیام وجهاد مردم افغانستان نیز که تا انگاه شکل مبارزه وجهاد علیه ملحدین داخلی را داشت ابعاد بین المللی را بخود گرفت . از انجا یکه هدف دوررس رژیم کمونستی اتحاد شوروی درهم نوردیدن کشور های افغانستان وپاکستان وبالاخره دستیابی به ابهای گرم بحر هند بود این امر موازنه موجود قوا

مردم افغانستان ان خاطره تلخ روز سیاه ششم جدی ۱۳۵۸ راهمیشه بیاد خواهند داشت که قوای وحشی امپراطوری کرملین باوسیله قراردادن ببرك كارمل این جاسوس پر سابقه کی ،جی ،بی ، دستگاه جاسوسی امپراطوری کمونستی برحریم کشور اسلامی و پر افتخار ما بغرض اشغال دایمی ان پاگذاشتند .

راکه میان ایالات متحده امریکا واتحاد شوروی بحیث دوابر قدرت از اغازدهه هفتاد نسبتاً برقرار گردیده بود کاملاً به نفع قوای متجاوز واشغالگر کمونستی اتحاد شوروی تغیر داد.

حساب روسها بااشغال افغانستان این بود که انها بسوی اهداف ستراتیژیك خویش گام مهمی را برداشتند اما این حساب شان انقدر احمقانه بود وانقدر ناکام از اب بدر امد که عاقبت هستی بدنام کمونیزم اتحادشوروی را گرفت.

اقدام اشغالگرانه روسها در افغانستان رانمی شد کشورهای جهان نادیده گیرند زیرا جهانیان خاطرات تلخ تجاوز روسها را در نقاط مختلف جهان در زمانهای مختلف خوب بیاد داشتند ولی انچه باید بحیث ابعاد داخلی قضیه تجاوز نظامی واشغالگرانه اتحاد شوروی بر افغانستان بیشتر تاکید گذاشت مساله مقاومت قوای افغانی در برابر متجاوزین است واین همان مقاومت است که بالاخره ماشین عظیم جنگی روسها را از پا درانداخت.افغانهای مسلمان که تا ورود قوای اتحاد شوروی با ملحدین مصرٌف مبارزه بودند بعد از تجاوز روسها به جهاد خویش تحرك جدیدی بخشیدند . زیرا افغانهانیزازین افسانه شنیده بودند که گفته میشد (ان خاکی راکه روسها گرفتند دیگر ازاد شد نی نیست).

محاسبه روسها این بود که مقاومت افغانها شاید تاچند ماه به اتمام رسیده وحکومت کمونستی در افغانستان مستقر خواهد گردید وانها نیز روی این هدف بروی تمام مردم کشور ما اسلحه کشیدند بمهاریختند قراودهات ، اراضی زراعتی وکانالهای ابیاری را بر اساس پلان ازقبل سنجیده شده خویش بویرانه بدل نموده مردم مارا بدون تفکیك طفل مرد زن پیروجوان را به تیر بستند هدف قوای روسی این بودتا باایجاد وحشت افغانهای مسلمان را به متابعت از حکومت دست نشانده کمونستی کابل وادار سازند.

مجاهدین سربکف که بخاطر اسلام واعلای کلمة الله وازادی وطن خویش بمیدان ازمایش برامده بودند باقبول شهادت برقوای وحشی روسی که تابدندان مسلح بودند همچو شیران تاختند ، روسها بزودی دریافتند انچه که حساب کرده بودند به خطا بوده است وعملاً دیدند که سقوط امپراطوری انگلیس بی جهت از شکست ان در افغانستان اغاز نشده بوده است .

روسها ده سال مردم مارا کشتند از هوا وزمین قراودهات وابادی های کشورمارا به بمب ها بستند ولی هیچ یك ازین اعمال وحشیانه نتوانست روحیه عالی اسلامی ومبارزه طلبی افغانهارا تضعیف نماید وعاقبت روزی فرارسید که روسها باداشتن تمام انواع اسلحه ثقیل وخفیف وخطرناك در برابر مجاهدین دست خالی درحالت مدافعه قرار گرفتند .

روسها دریافتند که هیچگاه نمیتوانند ونخواهند توانست افغانهای مسلمان ومجاهد را شکست دهند . کرملین با توجه به میزان روز افزون تلفات وشکست مورال قوای وحشی خویش که بنام (اردوی سرخ) روزی بر شکست ناپذیر بودن کذابی ان سخت معتقد بودند ناگزیر گردیدند بخاطر سرپوش گذاشتن شکست قوای

خود به مذاکرات ژنیو جهت خروج قوا از افغانستان تن دهند .

روسها درین هنگام نیز که سخت تحت فشار بین المللی بودند هر گونه نیرنگ سیاسی ونظامی رابکار بستند تا اگربتوانند مجاهدین رابه عقب نشینی مجبور سازند ولی هیچکدام ازین نیرنگ ها کار گرنیافتادند و درفرجام روسها مجبورشدند قوای شکست خورده خودرا پابه فرار از افغانستان خارج سازند وباین شکل مداخله اشغالگرانه نظامی مستقیم روسها در افغانستان بپایان رسید . ولی ماجرای مداخله در همین جا بپایان نمیرسد روسها حکومت کمونستی را در کابل بدنبال خویش بیادگار گذاشتند وبرای استقرار واستحکام ان به ارزش میلیاردها دالر کمك نظامی واقتصادی رابدسترس رژیم گذاشتند .

اکنون که حیات ننگین رژیم کمونستی بنام اتحادشوروی پایان یافته وتمام جنایات نابخشودنی ان ثبت تاریخ بشر گردیده است مداخله مستقیم نظامی ان رژیم برافغانستان نیز جز تاریخ شده است ولی مردم افغانستان همیشه روز ششم جدی رابحیث روز سیاه که منبع سخت ترین ودردناکترین وطولانی ترین بدبختی مردم افغانستان شده است بیاد خواهند داشت و از ان بحیث روز غمین به بدی یاد خواهند نمود .

اکنون که حیات ننگین رژیم کمونستی بنام اتحادشوروی پایان یافته وتمام جنایات نابخشودنی ان ثبت تاریخ بشر گردیده است،مداخله مستقیم نظامی ان رژیم برافغانستان نیز جز تاریخ شده است ولی مردم افغانستان همیشه روز ششم جدی رابحیث روز سیاه که منبع سخت ترین ودردناکترین وطولانی ترین بدبختی مردم افغانستان شده است بیاد خواهند داشت و از ان بحیث روز غمین به بدی یاد خواهند نمود .

باید گفت که این روز سیاه در ادامه روزهای سیاه کودتای کمونستان است که بتاریخ ۷ ثور ۱۳۵۷ بامداخله روسها توسط کمونست های وطنفروش افغانستان خلاف تمام مصالح ملی و دینی کشور ما پیاده گردید.

بدبختی ونکبت جاری کشور ما که با کودتای کمونست ها اغاز یافته هنوزهم ادامه دارد گرچه عامل خارجی جنگ افغانستان نابود گردیده ولی عامل داخلی این جنگ که حضور همان حکومت کمونستی وکمونست ها در قدرت است هنوز موجود میباشد به جانب دیگر نیروهای جهادی نیز در اثر عدم اتحاد خویش نتوانستند رژیم دست نشانده کابل راکه با سقوط رژیم اتحاد شوروی بلاحامی مانده است از صحنه خارج نمایند ودرجهت حل سیاسی معتقد ند که قبل از هرگونه حل سیاسی رژیم کابل باید استعفادهد مجاهدین حاضر اند راه حل سیاسی را بپذیرند که در ان رژیم کابل شامل نباشد اما فشار بین المللی باین جهت است که مساله افغانستان از طریق دیالوگ بین الافغانی ودر چوکات پلان پنج فقروی ملل متحد حل گردد.

روز های روان ایام مهم درتاریخ جاری جهاد ملت ما خواهد بود وطی همین ایام است که باید ثمرات ودست اوردهای جهاد ملت مسلمان ما تثبیت گردد البته نباید فراموش کرد که ثمرات جهاد ملت که خونبهای بیش از یك ونیم میلون افغان است در اثر نفاق قیادت جهادی نیز به خطرات گوناگون مواجه می باشد درین مرحله خطیر لازم است که رهبران جهادی خود را در جمع ملت مجاهد دیده بخاطر پیروزی کامل جهاد فکر نمایند نه ملت رادررهبری وقدرت انفرادی خویش .

دخوست فتحه دفتوحاتو په تاریخ کي یو ځانګړی او زرین باب

دخوست له فاتح سره دملګرو ملتو دبشر دحقوقو دموسسي داستازي دملاقات په اړه:

ننګیال

دخوست ستره اوویاړمنه فتحه دافغانستان دجهاد په تاریخ کي یو ځانګړي اوویاړمن باب پرانیست اودیو لړ نویو بدلونونو اوسیمه ایزو ملي او بین المللي انکشافاتو او تحولاتو بهیرلي جوت او کړندي کړ.

په یوه معینه زماني مقطع کي دخوست ستري فتحي دقضیي په رابطه دتحرک او خوځښت نوي څپي رامنځ ته کړي او دمقاومت په هکله دراتلونکو موضیعګیریو، تحلیلونو او مواقفو دمحور بڼه یي غوره کړه ددغه تاریخي فتحي بریالي جنګي ستراتیژي له یوي خوا دجهاد په وسله وال بعد کي یو نوي لوري په ګوته کړ او له بلي خوایي دقضیي په اړه دبین المللي اټکلونو او دریځونو لوري بدل کړ او دنړیوالو په وړاندي یي دیوه داسي حقیقت ثبوت وړاندي کړ چي دهغي له امله یي دجګړي په ډګر کي دمجاهدینو دبرتري او برلاسي له امله یوه نوي لاره او مخه پرانستله شوه.

دخوست تاریخي معرکه او ستره فتحه له هره اړخه په سیمه ایزه او بین المللي سطحه دجهاد په برخلیک داسي ټاکونکي اغیزي پریښوي چي دمقاومت بهیر یي دجنګي او سیاسي تحرک له اړخه په سیمه او نړۍ کي له یوه متحرک بریمن او ځواکمن موقف څخه برخمن وګرځاوه او دبین المللي حلقو، سازمانونو او مبصرینو بهیر یي دي لوري ته مات او دغه حلقي او سازمانونه یي ځانته جلب کړل دملګرو ملتونو په وړاندي دخوست فتحي څخه له راپیدا شویو اغیزو یو هم په دغه فتحه کي دنیول شویو پوځي افرادو او افسرانو هغه ګڼ شمیر افرادادي چي په دغه لنډ مهال کي یي بل ځاي دکتنې وړ بیلګه نده لیدل شوي.

ځکه خو دخوست له فتحي سره جوخت دبین المللي ادارو او سازمانونو او سره صلیب او دداسي نورو موسسو خپل فعالیتونه پدي ترځ کي متمرکز کړل او همدغه لوري ته یي خپله پاملرنه وګرځوله.

دخوست له فتحي وروسته دملګرو ملتونو دبشر دحقوقو اداري او دسره صلیب له خوا دخوست له فاتح سره داړیکو ټینګولو هڅي پیل کړي.

دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني دټولو بین المللي ادارو او موسسو په وړاندي اعلان وکړ چي په خوست کي نیول شوي پوځیانو او افسرانو ته مجاهدینو عفوه کړي او دسر او مال امن ورکړي شوي دي او هغوي ته یي دمجاهدینو دمیلمنو نوم ورکړ تردي چي محترم حقاني دملګرو ملتونو دبشر دحقوقو داداري او سره صلیب نمایندګانو ته وویل:

دکابل رژیم کولي شي ستاسي ترنظارت لاندي دخپلو مړیو دانتقال لپاره له الوتکو څخه استفاده وکړي

او خپل مړي لدي لاري انتقال کړي.

دملګرو ملتو دبشر دحقوقو او سره صليب نمايندګانو له فتحي وروسته دجنګي بنديانو دوضعي او حالت په اړه له هر اړخيز تحقيق وروسته اعلان کړه چي په خوست کي له جنګي اسيرانو سره دملګرو ملتونو داصولو او مقرراتو څخه هم زيات نيك او انساني چلند شويدي .

دخوست فاتح الحاج حقاني څرګنده کړه چي دجګړي له ډګر پرته هيڅ يو يو ځي نه خوږل شوي او نه ورته نور څه تکليف رسول شويدي او نه خو موږ ددغو افرادو دبندي ساتلو په فکر کي يو. الحاج حقاني دبشر دحقوقو دموسسي او سره صليب استازو ته اطمينان ورکړ چي نيول شوي پوځيان او مليشه به له يو څه مودي وروسته په بشپړه توګه ازاد کړي شي .

دخوست فاتح نه يواځي داچي دجګړي دډګر ټپيان يي دتداوي او معالجي لپاره روغتونونو ته معرفي کړل دهغوي يو شمير يي دسره صليب روغتون ته هم وليږل . که څه هم سور صليب په خپلو تعهداتو کي پاتي راغي او کومه معاهده يي چي دزخميانو دعلاج په رابطه کړي وه له هغي څخه يي سر غړونه وکړه خو دحقاني صاحب دهدايت له مخي دټپيانو او رنځورانو دمعالجي او تداوي پروګرام عملي کړي شو . سره صليب او نورو نړيوالو موسسو

> **دملګرو ملتو دبشر دحقوقو او سره صليب نمايندګانو له فتحي وروسته دجنګي بنديانو دوضعي او حالت په اړه له هر اړخيز تحقيق وروسته اعلان کړه چي په خوست کي له جنګي اسيرانو سره دملګرو ملتونو داصولو او مقرراتو څخه هم زيات نيك او انساني چلند شويدي**

او ادارو بـه خلاص مټ او ازاده فضا کي له نيول شويو پوځيانو ، مليشه وو او افسرانو او جنرالانو سره ملاقاتونه وکړل او دهغوي ليکونه يي خپلو خپلوانو ته ورسول.

په هغو رپوټونو کي چي ددغه نړيوالو موسسو او ادارو له خوا پدي رابطه خپاره شوي څرګنده شويده چي دخوست له نيول شويو جنګي اسيرانو سره له نړيوالو قوانينو او دبشر دحقوقو له اصولو زيات غوره چلند شويدي چي ساري يي ندي ليدلي شوي .

په رپوټ کي څرګنده شويده چي دخوست جنګي اسيران په داسي شرايطو او وضعه کي نه ليدل کيږي چي دوي دي په جنګ کي نيول شوي پوځيان وګڼل شي .

په نړيوالو مطبوعاتو کي دغه پيښي دافغانستان دمقاومت اصولي قانوني او انسان دوستانه موقف او قضيه نوره هم روښانه او غښتلي کړه او دايي ثابته کړه چي افغان مجاهدين که جګړي ته دوام ورکوي نو دادهغه مجبوريت له مخي دي چي دروسي پوځونو دوحشيانه يرغل او ديوه ګوډاګي او تحميل شوي رژيم ددوام له امله ده چي دغه تيري او دهغي دوام او بقايا خپله دملګرو ملتونو دمنشور او اصولو څخه يو څرګند سرغړاوي او ددغه نړيوالي موسسي داصولو تر پښو لاندي کول ګڼل شوي داسي چي دملګرو ملتونو اداري پدي رابطه څو څو ځله په غوڅ اکثريت داړول قراردادونه منظور کړيدي دخوست له قهرمانانه اوويارمني فتحي وروسته په تيروشوومياشتو کي څوڅو ځله داړول هيئتونو له اسيرانو سره ملاقاتونه کړي له وضعي څخه يي نه يواځي داچي خپل رضايت څرګند کړي بلکي هغه يي له خپلو توقعاتو هم زيات ګڼلي دي .

پدي لړ کي دروان کال دجدي مياشتي په ۲۲ نيټه دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو دبشر حقوقو دسازمان استازي ارماکورا هم پدي رابطه دخو ست له فاتح الحاج مولوي جلال الدين حقاني سره ملاقات وکړ، ددغه ملاقات په جريان کي ارماکورا په خوست کي له نيولو شويو جنرالانو سره هم خبري وکړي.

> **زه به پخپل رپوټ کې دغه ټول اړخونه په ډاګه کړم او دافغانستان دمقاومت په رابطه به دملګرو ملتونو او ازادۍ نړۍ بې پر وایي دنړیوالو مخې ته کیږدم**

ارماکورا چې د ژوره دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ له موزیم څخه هم کتنه وکړه ده بیرته تګ په وخت کې وویل : ماته اوس ثابته شوه چې امریکا او دملګرو ملتونو سازمان دافغانستان دمقاومت په رابطه له څومره بې پر وایې څخه کار اخستی ارماکورا وویل :
دافغانستان مجاهدینو لکه څنګه چې په جګړه خپله برتري ثابته کړه دادې دنړیوالو قوانینو او مقرراتو درعایت او درناوي په رابطه یې هم یو غوره او بې ساري مثال ټینګ کړ چې زما په یادون دجنګي اسیرانو سره دنړۍ په هیڅ یوه برخه کې داډول انسان دوستانه رویه نده شوې .
ارماکورا په خپلو څرګندونو کې وویل : زه به پخپل رپوټ کې دغه ټول اړخونه په ډاګه کړم او دافغانستان دمقاومت په رابطه به دملګرو ملتونو او ازادۍ نړۍ بې پر وایي دنړیوالو مخې ته کیږدم .
ارماکورا وویل : قوماندان حقاني دنړۍ په جګړیز تاریخ کې دیوه جلا باب او فصل پرانستونکي ګڼلي شي دداسې باب پرانستونکي چې دجنګ او سولې په ډګرونو کې دخپلو غوره صلاحیتونو او منلي موقف له مخې یې یو نوي لوري په نخښه کړیدي .
ارماکورا دژوره دموزیم په لیدو دخوښي او تعجب څرګندونه وکړه وې ویل:
داموزیم په نړیواله سویه دافغان روس دلس کلنې جګړې تاریخ ژوندي او ددغه مقاومت هره ګوټ او زاویه به لدې روښانه او ځلند ، ساتي ، ده زیاته کړه تر اوسه په نړۍ کې دهیڅ یوې جګړې په رابطه دا ډول یو اقدام چې پخپله دیوه ګویا تاریخ بڼه لري ندې لیدل شوي چې داهم دقوماندان حقاني رغنده ابتکاراتو یو غوره بیلګه ګڼلې شي .
ارماکورا ته دخوست دبیا ابادي دپروګرامونو په هکله هم توضیحات ورکړې شول او په تعلیمي ، زراعتي ، روغتیایي او نورو ټولنیزو برخو کې دبیا رغاونې نقشه ورو ښودې شوه ارماکورا پداسې حال کې په مخې ښه کوله چې دخوست دفاتح دجهادي کارنامو سیاسي نوښتونو او منلي موقف له امله دافغان مجاهد ولس د عظمت او پرتم په وړاندې دجذباتو یوه توپان په مخه اخیستی وو .
په ریښتیا هم چې دافغان مجاهد ولس دقربانیو او قهرمانیو ځلنده تاریخ دخوست دفاتح په نوراني څیره کې له ورایه لیدې شو.
ددغه مطلب دلیکلو په وخت کې په خوست کې نیول شوي ټول پوځي افراد که هغه عسکر دي او که ملیشه له مجاهدینو سره ددوی دلس میاشتنی خدمت له سندونو په ورکولو رخصت کړې شول دغه افرادوته ۲۰۰ کلداري یو جوړ جامې،څپلۍ،واسکټ او یو وړین څادر هم ورکړې شو چې بشپړ رپوټ یې تر یوه ځانګړي عنوان لاندې په همدغه ګڼه کې خپروو .
مبصرین او کتونکي وایي چې دنړۍ دجنګونو په تاریخ کې داالومړی ځل دی چې په دومره ګڼ شمیر جنګي اسیران بیله کومې سیاسي سودابازۍ خوشې کیږي دایقیناً دخوست دفاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني یو داسې سیاسي بریالیتوب او یو بله ستره فتحه ګڼلې شي چې دمجاهدینو موقف په نړیواله سطحه نور هم روښانه او پیاوړي کوي اوله یوه نړیوال حقوقي او منلي پر ستیژڅخه بر خمن ګرځوي .

دوهمه برخه :

دامام ابوحنیفه (رح) ژوند ته یوه کتنه

مولانا عبدالمجید

امام یوسف صاحب وایی چی یوه ورځ دامام ابوحنیفه څخه چا پوښتنه وکړه دفقهي دزده کړې توفیق دی څنګه په برخه شو ؟ امام اعظم وویل توفیق ورکوونکی یواځی خدایتعالی دی هماغه ذات پرما داپیرزوینه کړې خوکله چی ما دطالبي په وخت کی زده کړې ته ملاوتړله اوهوډمې وکړ نو په ټولو علومو باندی می یو جوته او دقیق نظر واچاوه او دهر علم ګټه او نتیجه مې وسنجوله ، دخپل تصمیم سره سم مې دافیصله وکړه چی علم کلام غوره دی ، خو چی په دوهم ځل مې پکښې دبصیرت له مخې فکر وکړ فایده یې راته کمه څرګنده شوه او انجام یې راته غوره ثابت نشو ، ځکه که هر څومره په علم کلام کی یو سړی ماهر شي ، بیاهم خپل خیالات او تصورات دعامو خلکو په مخکی ظاهرولی نشي ، اوپه سړي باندی بول بول تهمتونه لګول کیږي او په اخر کی په بدعتي او ګمراه باندی مشهورشي .

تردي وروسته می په علم ادب او نحوی باندی غوراو فکر وکړ... اودی نتیجي ته ورسیدم ،چی یو طرف ته به ناست یم او ماشومانو ته به دادب او نحوی درسونه لولم ، نوددی فائده او پای راته هم چندان موثر معلوم نشو .

بیامی په شعر اوشاعری باندی یو نظر واچاوه په هغی کی راته دستاینی او غندنی ، درواغو او سپکو ویناګانو څخه نور څه ښکاره نشول .

بیامی دقرأت او تجوید په لور خیال لاړ چی فکر می ورباندی وکړ په زړه کی می راغلل چی که په دی زمره کی ډیر کمال او اوچت پوړته ورسیږم خو بیاهم نتیجه به یی داوی چی یوځوځنکی به رانه چاپیره وی قران به راسره لولی او بس ، دقران ترجمه او مطلب چی زده کړه یی اسانه نه ده پخپل ځای به همدغسی پاته وی .

بیامی دعلم حدیث فن ته ذهن راستون شو ، فکر می وکړ چی داحادیثو دیوی لویی پانګی راجمع کولو څخه وروسته ماسره اوږد ژونداو مهلت پکار دی تر څو حاجت مند انسانان زما دعلم او پوهی څخه په جوته توګه ګټه واخلي ... او داهم یو څرګند حقیقت دی چی په نویو زلمو کی داحادیثو دزده کړې حاجتمندان ډیر پیداکیږي .

اما ممکنه ده چی پرمابانـدی ددرواغو او دحافظی دکمزوری تور پوری کړي شي او تر قیامته به دڅان په سپیناوی ونه توانیږم .

دی څخه وروسته می دفقهي دکتابونو پانی واړولی راواړولی چی څومره می پری فکر کاوه هومره به یی راباندی اثر زیاتیده او هیڅ نوع عیب ، خرابي او کمزوری راته پکښي څرګنده نشوه .

اوفکر ته می راغله چی دفقهي په زده کړه کی به دعالمانو ، فاضلانو ، بزرګانو او نیکانو دمجلس او ملګرتیا په لامل دهغوی دلوړو اخلاقو څخه دسودمن کیدو ډیری موقعي په لاس راشي ، او داخبره

می هم زړه ته پریوته چی داسلام ددین ساتنه کول ، فرض په ځای راوړل ، دبندګی حق اداء کول ، دنیا او اخرت ګټل دفقهی دزده کړی څخه سوا ممکن نه بریښی که څوك په فقهه باندی دنیالاس ته راوړل غواړی نو لوړی مرتبی ته ورباندی رسیدلی شی .

او که عبادت لپاره په خلوت کی کښیناستل غوره کوی نو هیڅوك پری اعتراض کولی نشی چی ګڼنی فلانی سړی بی علمه شیخی کوی . بلکه وایی چی فلانی دفقهی په قوانینو او اصولو باندی روان دی .

« ابو حنیفه ازابو زهره وموفق صـ۵۲ وصمری صـ۱۹ »

دعلم نشه او غیبی لاربښونه :

ابو حنیفه صاحب په څلیرویشت کلنی کی دحضرت حماد صاحب سره شاګردشو او اتلس کاله یی دهغه په خدمت او صحبت کی تیر کړل په ۱۲۰ هـ کی دنړی مسلمانانو دیو باکماله مجتهد په صفت وپیژنده ، دهغه وخت یوه پیښه دابو حنیفه دوینا له مخی په دی ډول وه ، لس کلونه می دحماد صاحب په درس کی ناستی کړی وو او هیڅکله می سبق نه وه پریښی او دعلم په زده کولو او دهغی څخه دګټی اخستلو څخه می هیچری سرنه ؤ غړولی .

یوه ورځ راته دځان سره یو فکر پیدا شو چی باید ځان ته یوه مدرسه پرانزم تر څو پخپله یکی ددرس او تدریس تعامل پیل کړم ، خو داستاد ادب او حیا رامخی ته شوه او زما دهوډ مړاندی یی راپری کړی او دا جرئت می ونکړای شو ، دباری تعالی (ج) لوی شان اوعظمت دی ، په دی شپو ورځو کی امام حماد صاحب ته دبصری څخه دیو دوست دمرګ خبرراغی او دهغه مړی بی له حماد صاحب څخه بل څوك وارث نه ؤ. لذا دده تګ بصری ته بیخی ضروری وو .

لنډه داچی حماد صاحب بصری ته رهی شو او یخپل ځای یی زه کښینولم .

دشاګردانو او حاجتمندانو ماته مخه شوه ، چی دتدریس په دوران کی داسی مسائل رامخی ته شول چی دهغوپه اړه ما دخپل استاد څخه څه روایت نه ؤ اوریدلی .

دمجبوریت له امله می پخپله رایه (اجتهاد) باندی ځوابونه ورکول اما دداسی مهمو او مغلقو مسئلو یاداشت می دځان سره ساتلوکوم وخت چی حماد صاحب په بصره کی د دوو میاشتو دتیرولو څخه وروسته راستون شو ، ماورته دهغه مسئلونقلونه وړاندی کړل ، داتولی شپیته مسئلی وی حماد صاحب چی وکتل نو څلویښت یی صحیحی وبللی او په شلو مسئلو کی یی غلطی راته راڅرګندی کړی .

دامهال ماته خپل ځان نیمه پوره معلوم شو ، داهوډ او عزم می وکړ چی ترکومه پوری حماد صاحب ژوندی وی سبق به ورڅخه زده کوم او هیڅکله به یی دعلم ډکه جولی پری نږدم .

دامام اعظم سره دامام حماد صاحب محبت :

حماد صاحب چی دخپل شاګرد اخلاص عاجزی ، خاکساری ، دعلم شوق وذوق ، دالله بنده ګی او نور ګڼ صفتونه ولیدل نو په زړه کی یی ځای ونیوه او دشفقت او مهربانی په پلوشو کی یی رانغښتی وباللو .

دحماد صاحب دځوی اسماعیل وینا ده .دی وایی یو ځلی زماپلار په سفر تللی ؤ چی دسفر څخه راستون شو ماترینه پوښتنه وکړه .بابا جانه دسفر نه دراستنیدو په وخت ستاسو په زړه کی دچا دلیدو ډیر شوق ؤ داسماعیل داخیال ؤ چی ما به یاد کړی اما حماد صاحب ځواب راکړ بچیه دابو حنیفه لیدل می ډیر ارمان ؤ که زما په وس کی وای نو ما به هیڅکله دابو حنیفه څخه سترګی نه وای اړولی .-۱

دحضرت حماد صاحب جانشین :

یو څرګندواقعیت دی چی دعلم میراث عالم اخلی او نسب او حسب پکی هیڅ ډول رول نشی لوبولی .

دحماد بن سلمه بیان دی وایی کله چی دکوفی لوی مفتی داستادانو استاد گران او ریښتینی اسلامی دینی عالم (حماد) دمرگ پیاله وڅښله نو دوستانو، شاگردانو او منورینو سره داسوال پیدا شو چی څوك دحماد صاحب په ځای وټاکی تر څودعلم فقهی دا ځلانده منبع جاری وساتل شی دهر چا په زړه کی داویره په تویونو وه چی که دعلم او عرفان ددرس او تدریس دا چینه جاری ونه ساتلی شوه دیو پلوه به دعلم تږی درپه در او لالهانده شی او دبله پلوه به دامام حمادصاحب نوم دخلقو څخه ورو ورو هیر شی.

ددی مهم او با ارزښته عمل دترسره کولو لپاره لومړی دحماد صاحب ځوی ته دخپل پلار په علمی گدی دکیناستلو وراندیزوشو، په ده باندی دعلم نحوی او دکلام دعلومو زیات اثر ؤ له دی امله دفقهی دطالبانو په ده باندی دزړه تسلی ونشوه په ده پسی موسی بن ابی کثیر دادنده په غاړه واخیسته خلك به دپخوانی خوند اولذت په تمه راتلل اما په فقه کی دحماد صاحب دوخت مهارت اوکمال نه موندل کیده دابی کثیر څخه وروسته ابوبکر نهشلی صاحب ته دحماد صاحب گدی وراندی شوه ده (نهشلی) عذراو معذرت وراندی کړ، بیا ابو برده ته وویلی شول دادنده په ذمه واخله هغه انکار وکړ، ولی بیاهم دابو بکر نهشلی، او حصین، اویزیدبن ابی ثابت په مشوره گڼو علماؤ دامام حماد صاحب دعلمی کرسی لپاره امام ابو حنیفه صاحب غوره کړ، امام اعظم په دی وخت کی دنوروعلماؤ په انډول زلمی او کم عمره ؤ، کله چی دا ټول غوښتنه ورڅخه وشوه نو دی لوړی او مهمی غوښتنی ته یی ددی په نیت دقبلولو ځواب ووایه، چی دامام حماد صاحب دلاس لگیدلی دادعلم اومعرفت باغ سمسور پاتی شی.

امام اعظم چی تدریس پیل کړ لړی ورځی لاتیری نه وی چی طالبان او دعلم تږی عاشقان دنړی دگوټ گوټ څخه ډلی ډلی رامات شول، او درس ځای دطالبانو او نیکانو څخه ډك شو، امام اعظم دعلم او عرفان خزانی پرانستی او طالبانو ورڅخه ډکی ډکی جولی یوړلی چی پخپل دور کی یی بل داسی درس ځای پری نښود چی ددی په شان مرغلری او گوهر وشیندلی شی نو ځکه یی دتاریخ په پاڼو کی ساری موندل کیدای نشی.

داامام ابو حنیفه دعلمیت، معرفت فقاهت او اجتهاد دمسائلو حل اوفصل او راویستل یی دهغه سخاوت، مرانی او دهغه دزړینو اخلاقو تاثیر ؤ چی ورځ په ورځ درس او تدریس درندیده، ... او لږه موده کی یی دوخت په ټولو درس ځایونو باندی دخپل قابلیت مهارت او علمی برتری بیرغ ورپاوه، "١عقود الجهان ص١٦٨ موفق ص٦٢"

دابو حنیفه دتقوی او پرهیزگاری یوه نمونه:

اسماعیل بغدادی وایی چی یو سړی دیزیدبن هارون څخه پوښتنه وکړه، یو سړی څه وخت دفتوی ورکولو جوگه کیدای شی؟ یزید بن هارون ځواب ورکړ: چی کله هغه مفتی دابو حنیفه هومره داحتیاط کولو جوگه وی، سائل وویل ښه ستاهم دغه وینا ده هغه (یزیدبن هارون) وویل هو ځکه چی ما دابو حنیفه څخه ښه عالم او پیر پرهیزگار بل څوك ندی لیدلی.

یوه ورځ امام اعظم دیوسړی کورته مخامخ لمرته ناست ؤ ماورته وویل که دلمر پرځای ددیوال سیوری ته کښینی نو ښه به وی، ابو حنیفه وویل ددیوال سیوری ته نه کښینم ځکه ددی کور په خاوند باندی زما پور دی هسی نه چی ددیوال سیوری ته کښیناستل راته په بی ځایه نفع او سود کی شمار شی، امام اعظم صاحب هغونامتو امامانو څخه دی چی ټول عالمان او امامان یی پوهی او علم ته گوته په غاښ دی، ده خپله شپه او ورځ اسلام ته وقف کړی وه او بلاخره په ١٥٠ هجری کال کی یی له دی فانی نړۍ څخه سترگی پټی کړی او روح یی حقیقی مالك ته وسپاره.

دحضرت امام ابو یوسف دفقاهت درجه

دمحمد سرور صدیق مل لیکنه

دحضرت امام ابو یوسف نوم یعقوب او دپلار نوم یی ابراهیم دالضاری نسب سره تعلق درلود او په کال ۱۱۳ هـ ش په کوفه کی خپلی منورې سترگی دنیاته غړولی وی ، دخپل والد صاحب دشفقت له سیوری په وړوکوالی کی بی برخی شوی وو .

په هغه وخت کی دکوفی ښار دعلم مرکز بلل کیده چیرته چی ډیر غښتلی او دینی عالمان موجود وو دلته به له ډیرو لیرو سیمو دعلم او دپوهی تږی راتلل او خپلی علمی تندی به یی ماتولی ددرس او تدریس سلسله په ډیره لوړه سویه روانه وه امام ابویوسف (رح) دامام ابوحنیفه (رح) په خاصو شاگردانو کی حسابیږی دامام ابو حنیفه (رح) له علمی شهرت او دهغه له درس او تدریس څخه سخت متاثر ؤ همدا علت ؤچی امام ابو یوسف یی دامام ابوحنیفه حضور ته وکشولو ، ویل کیږی چی یو ورځ امام ابو یوسف کوم نږدی خپل رشته دار ولیده چی هغه دامام ابو حنیفه په مجلس کی ناست دی نو هغه یی دامام ابوحنیفه له مجلس څخه پورته کړ اوورته وی ویل ولاړشه کوم بل کمال زده کړه دلته خو به له لوږی مړشی ، له څوورځو وروسته چی کله دامام اعظم ابو حنیفه سره دهغه لیدنه وشوه نو دغیر حاضری پوښتنه یی ورڅخه وکړه ، امام ابو یوسف ټوله قصه ورته بیان کړه نو امام ابو حنیفه ورته سل درهم ورکړل او ورته یی وفرمایل پدی خپله خرڅه وکړه درس ته دوام ورکړه چی کله درسره ختم شی نو ری هم واخله ، دامام ابوحنیفه ددی شفقت په عوض کی خدای (ج) امام ابو یوسف ته علم او دولت دواړه ورپ[illegible] کړل ، په ځینو روایتونو [illegible] داهم راغلی دی چی دهغه مو، په (ابویوسف) دجامو وینځلو کار زده کاوه ، لیکن هغه دامام ابو حنیفه په مجلس کی دعلم زده کړی ته ترجیح ورکړه ، چی کله یی مورته پته ولگیده نو ویی غوښتل چی خپل زوی دامام اعظم له مجلس څخه بوزی نو امام ابو حنیفه ورته وفرمایل ، «داماشوم خو دپستی په غوړیو کی دحلوا پخولو چل یادوی »

ددی ټولو ستونزو سره سره امام ابو یوسف دینی علومو زده کړی ته دوام ورکړ تردی پوری چی یوه ورځ داسی هم راغله چی دامام اعظم ابوحنیفه هغه پیش گویی په حقیقت بدله شوه ، امام ابو یوسف دهارون الرشید پاچا سره په دستر خوان ناست وو چی دپستی په غوړو کی تیاره شوی حلوا هم راوړل شوه چی کله یی دهغی په خوړلو پیل وکړ نو هارون الرشید ته یی دخپل مشفق استاز پیش گویی هم بیان کړه .

کله چی امام ابو یوسف ددینی علومو دزده کړی څخه فارغ شو نو

په ډیرو سختو اقتصادي مشکلاتو کي یې واده وکړ.
دهغه دغریبۍ په کیسو کي داهم بیان شویدي چي دطالبي په دوره کي دهغه سره دکاغذ او قلم اخستلو پیسي هم موجودي نه وي ، یوه بله کیسه کي ذکر شویدي چي دده دکور په کوڅه کي یو یهود ی اوسیده هغه دخپل دکور دیوالونه دومره لوړ کړل چي کوڅه تنګه شوه نوامام ابو یوسف پدي کار اعتراض وکړ یهودي ورته داستهزا په توګه وویل چي کله ستاکوم سپرلي راشي او کوڅه تنګه وي نو په هغه وخت به زه خپل دیوال رنګ کړم ، خدای پاک هغه وخت هم راوست چي امام ابو یوسف ته دقضا منصب په برخه شو درجي یې لوړي شوي نودهغه سپرلي په همدي کوڅه راغله نویهودي ته یې دهغې وعدي یادونه وکړه اوبلاخره هغه خپل دیوال رنګ کړ .
امام ابو یوسف ته خدای پاک ډیره پوهه او علمي ذکاوت ورکړي وو دهغه علمي شوق دي اندازي ته رسیدلی وو چي کله دهغه والد(پلار) په حق ورسیده هغه ته دا ډیره ګرانه وه چي خپل درس قضا کړي نو ځکه یې دخپل پلار په جنازه کي ګډون ونکړای شو او همدا راز یې دخپل زوی په جنازه کي هم شرکت ونکړای شو ، امام ابو یوسف

کله چي امام ابو یوسف ددیني علومو دزده کړي څخه فارغ شو نو په ډیرو سختو اقتصادي مشکلاتو کي یې واده وکړ.
دهغه دغریبۍ په کیسو کي داهم بیان شویدي چي دطالبي په دوره کي دهغه سره دکاغذ او قلم اخستلو پیسي هم موجودي نه وي ، یوه بله کیسه کي ذکر شویدي چي دده دکور په کوڅه کي یو یهود ی اوسیده هغه دخپل دکور دیوالونه دومره لوړ کړل چي کوڅه تنګه شوه نوامام ابو یوسف پدي کار اعتراض وکړ یهودي ورته داستهزا په توګه وویل چي کله ستاکوم سپرلي راشي او کوڅه تنګه وي نو په هغه وخت به زه خپل دیوال رنګ کړم ، خدای پاک هغه وخت هم راوست چي امام ابو یوسف ته دقضا منصب په برخه شو درجي یې لوړي شوي نودهغه سپرلي په همدي کوڅه راغله نویهودي ته یې دهغې وعدي یادونه وکړه اوبلاخره هغه خپل دیوال رنګ کړ .

دمسلو په استخراج کي ډیر مهارت درلود همدا راز هغه ته خدای پاک په تفسیر ، حدیث ، او داسي نورو علو مو کي لوړه برخه ورنصیب کړي وه مولانا عبدالحق لیکلي دي چي امام ابو یوسف په حدیثو کي ډیر ماهرو . لیکن دفقه دعلم سره یې دزیاتي علاقي درلودلو په اساس هغه دمحدث په صفت مشهور نه شو ، هغه زیاتوی چي امام ابو یوسف ړومبی شخصیت و چي دحنیفي مذهب مطابق کتابونه تصنیف کړل او په توله نړۍ کي یې دامام ابو حنیفه قصه خپره کړه .
ځیني عالمان پدي نظردي چي که چیرته امام ابو یوسف نه وي نو دامام اعظم صاحب دفقهي به چا نوم قدر هم نه پیژندلی ، که څه هم پدي نظرکي ډیره مبالغه ده خو بیا هم دامام ابو یوسف خدمتونه او حنیفي فقهي لپاره به زړه پوري هلي ځلي لکه دلمر ځرګندي دي

دقضا منصب :

دقضا منصب په حقیقت کي ډیره لوړه وظیفه ده ډیرلوړ ذهانت او علمي رتبې ته اړه لري ، امام ابو یوسف ته هم دقضا وظیفه دهغه دعلمي لوړ تیا او بې مثله ذهانت دحدیثو او تفسیر په علم کي دپوره مهارت په بناور کړل شوي وه، دهغه دقضاوت په دورکي دهغه فیصلي په تاریخ کي ځانګړي حیثیت لري .
دهغه دذهانت او ښه استعداد ډیري کیسي مشهوري دي ، یوځلي هارون الرشید پاچا امام ابو یوسف بې وخته او غوښت ، کله چي امام ابو یوسف دپاچا حضور ته ولاړ نوي لیده چي عیسی بن جعفر هم دهغه سره ناست دي ددوی تر مینځه

دهغه دذهانت او ښه استعداد ډیر کیسی مشهوری دی ، یوځلی هارون الرشید پاچا امام ابو یوسف بی وخته او غوښت ، کله چی امام ابو یوسف دپاچا حضورته ولاړ نووی لیده چی عیسی بن جعفر هم دهغه سره ناست دی ددوی تر مینځه مباحثی جریان درلود ، دهارون الرشید ټینګار پدی وو ، چی عیسی بن جعفر دی خپله وینځه یاپه ده خرڅه کړی یادی بخشش ورکړی ، عیسی بن جعفر ورته ویل چی ما قسم کړیدی چی دا وینځه به زه نه خرڅه کړم او نه به یی چاته بخشش ورکړی نو دا کړکیچ به څه وړ حل کړای شی ؟ له یوی خوا دپاچا صاحب اصرار او له بلی خو دعیسی قسم !
قاضی امام ابو یوسف صاحب داکړکیچنه مسله داسی حل کړه چی نیمه وینځه دی بخشش کړای شی دواړه مشکله به رفعه شی .

مباحثی جریان درلود ، دهارون الرشید ټینګار پدی وو ، چی عیسی بن جعفر دی خپله وینځه یاپه ده خرڅه کړی یادی بخشش ورکړی ، عیسی بن جعفر ورته ویل چی ما قسم کړیدی چی دا وینځه به زه نه خرڅه کرم او نه به یی چاته بخشش ورکړم نو دا کړکیچ به څه وړ حل کړای شی ؟ له یوی خوا دپاچا صاحب اصرار او له بلی خو دعیسی قسم !

قاضی امام ابو یوسف صاحب داکړکیچنه مسله داسی حل کړه چی نیمه وینځه دی بخشش کړای شی دواړه مشکله به رفعه شی .

یوه بله کیسه هم مشهوره ده دخلیفه هارون الرشید اودهغی (ټبر) تر منځه په کومه خبره زړه بدګی پیدا شو نو هارون الرشید خپلی کړی ته وویل ، که چیر ی نن زماله پاچاهی څخه بهر ولاړه نشی نو زماله خوا به طلاق شی . چی کله دقهر وخت تیر شو پاچا او کوره یی ډیر پیښمان شول . نو قاضی صاحب دهارون الرشید (ښځی ته) اوویل چی دخلیفه هارون الرشید پاچاهی خو ډیره پراخه ده او ته نشی کولای بهر تری ولاړه شی نوداسی وکړه چی جومات ته ولاړه شه ، چیرته چی دخلیفه پاچاهی نده حاکمه ، پاچا او ښځه یی دقاضی امام ابو یوسف پدی فیصله ډیر خوشحال شول او هغه ته یی ډیر انعام ورکړ. یو ځل دهغه په مجلس کی دیوه مسلمان مقدمه حاضره شوه کوم چی یو نوانی یی په قتل رسولی وو نو قاضی امام ابو یوسف دقصاص لپاره شرط دامقرر کړ چی ړومبی دددی ثبوت لپاره دوه شاهدان حاضر راوستل شی .

مقتول تراخره وخته پوری جزیه اداکوله : دشاهدانو دنه حاضر ولو په اساس ملزم خلاص شو دهغه دعبادت تقوی پرهیزګاری ډیری کیسی مشهور دی دمرګ په وخت کی هغه داسی ویل : ای خدایه ته خو عالم یی چی ماتراوسه پوری حرامه روزی نده خوړلی . بالاخره دادعلم بله ډیوه چی په ټول اسلامی امت یی رڼا یی او فیض خپوروو دنه شپیتو کلونو په عمر په ۱۵۲ هجری کال په بغداد کی وفات شو او امام ابو یوسف ړومبی شخصیت وو چی دقاضی القضاه په لقب مشهور شو ، دامام ابو یوسف ډیر علمی اثار پاتی شویدی چی په هغوی کی کتاب اخراج یولوړ رتبه علمی تصنیف بللی شو .

*** داسلامي انقلاب نه هیریدونکی اتل شهید مطیع الله «مطیع»**

ځلانده څېره

داځل داسلامی انقلاب دابدی ژوندیو دقافلی له لارویو څخه دهغه چا دسرلوړی ژوند پل پر پل باندی یو څه کښو چی نه دجیلونو زولنو ویرولی ، نه په غرواو میروکی دباطل او ملحدینو له مینځه ورلو په خاطر شپو ، ورځو ستړی کړی اونه یی دوزارت او ریاست مینی جهادته دتگ په لاره کی پښوته زولنی اچولی ، دهغه چا په یاد قلم خوزو چی دظالم دنسکورولو په خاطر یی دگولیو استقبال ته وردانگلی ، دیرغلگرو په وړاندی دفولادی غره په شان دریدلی دملحدینو پر ټټر یی دکلاشینکوف ججوری تشی کړی ، چم په چم یی دښمن پسی زغاسته کړی خونه ستړی شوی ، نه یی دمه کړی اونه یی دظالم امرته لبیك ویلی ، داداسلام او قران داصولو «مطیع» مطیع الله چی اصلی نوم یی گلباز دی په (۱۳۲۶) هجری شمسی کال کی دپکتیا ولایت په زیړوك علاقداری کی دولی خیل په کور کی دی فانی نړی ته سترگی غړولی ، په خپل کهول او کلی کی ئی خاپوړی کړی او رالوی شوی ، د ابتدائیی زده کړی په دوران کی دخپل ټولگی دممتازواو تکړه زده کونکو څخه ؤ ، ددارلمعلمین څخه تر فارغیدو وروسته یی دوه میاشتی دښوونکی په صفت دنده سرته ورسوله خووروسته کله چی دحکومت لخوا داسلامی غورځنگ پر غړو دمبارزی ساحه را تنگه شوه ، وظیفه یی خوشی کړه او هجرت یی وکړ .

شهید مطیع الله په هغو عملیاتو کی چی په (۱۳۵٤) کال کی دالحاج مولوی جلال الدین حقانی تر قوماندی لاندی د«منځکی» په سیمه کی دارگون په حکمران او نورو ملگرو سرته ورسیدل گډون درلود وروسته بیا کله چی مولوی جلال الدین» حقانی «حکومت له منگولو خلاص شو او دهجرت لاری خپله کړه دی یی هم ددی قافلی ملگری شو او هجرت یی وکړ .

مطیع الله داسلام سره مینه درلوده او غوښتل یی په همدی مینه کی ځان دمجنون په شان لولپه کړی ، خپل ټول ژوندیی اسلام ته وقف کړی ؤ او شپه ورځ یی داسلام دسرلوړی او خلکو دسوکالی په خاطر منډی رامنډی وهلی ، کله چی دثور کرغیړنه کودتا وشوه خپلی اسلامی هڅی او فعالیتونه یی لا گړندی کړل ، سنگر په سنگر او مورچه په مورچه دمجاهدینو تر څنگ پریوت ، دروسانو او دهغوی دگوډاگیانو په مقابل کی ئی توره وچلوله اوله دی لاری داخروی گټی ترڅنگ اسلامی انقلاب ته زیات افتخارات وگټل .

مطیع الله دمولوی محمد یونس «خالص» په اسلامی حزب کی دنظامی شورا غړی هم ؤ ، دانجینر احمد شاه په حکومت کی دکرنی

دوزارت دندی ورسپارل شوی وی او دپروفیسر صبغت الله مجددی تر مشری لاندی حکومت کې دکورنیو چارووزارت مرستیال ؤ خوده ددی ټولو مصروفیتونو سره سره دوزارت یا ریاست په پلمه ځان دجهاد د مورچلونو څخه نه دی په شاکړی دپکتیا او پکتیکا ولایتوپه قهرمانانه معرکو کې ټل منظمه برخه درلودلی او دهغی سربیره یی په ننگرهار ، کنړ ، اولوگر کی دروسانو او دهغوی دگوډاگیانو پر ضد کولی چلولی ، یووروو یی «میکائیل »حق او اسلام دسر لوړی په لاره کی ځان قربان کړی اودی پخپله دری ځلی ددسنمن سره په مخامخ نښتو کی ټپی شو ، یوځل د۱۳۶۵ کال دوری میاشتی په ۲۵ نیټه دژوری سره نږدی ددښمن دتوپ گولی دلگیدو له امله ټپی شو ، دالهجرة والجهاد په روغتون کی ترڅه وخت بستریدو وروسته یی صحت ښه شو او بیرته یی دجهاد خواته مخه کړه.

شهید مطیع الله به زیات وخت دجهاد په ټودو مورچلو کی دمجاهدینو ترڅنگ شپی ورځی صبا کولی ، په زیاترو عملیاتو کی به پخپله په لومړی کرښه کی جنگیده ، دجهاد په دوران کی دډیرو روسانو او دهغوی دگوډاگیانو ناپاکو هیلو ته کفن وراغوستی ، ډیرو ملحدینو پر سر یی خاوری امبار کړی او په دی توگه یی یرغلگر دښمن ته دغاښ ماتوونکی ځواب کی خپله ونډه ترسره کړی.

شهید مطیع الله دنادر شاه کوټ دفتحی په عملیاتو کی مستقیمه برخه درلوده اودنادر شاکوټ تر فتحی وروسته کله چی د۱۳۶۸ کال ۲۹/٤ دهغه موټر دلیدو په لور وروخوځید چی څلوروځی وړاندی ددښمن دماین په واسطه له مینځه تللی ؤ یوماین دشهید مطیع الله دریور پسی وچاودید ، دریور، مطیع الله او دوه تنه نور دشهادت په ویاړ مفتخر شول دشهید مطیع الله جنازه د۱۳۶۸ کال دزمری په ۳ نیټه په زیروك کی خاوروته وسپارل شوه ، دجنازی تر سنخولو وروسته یی دزمری په ٥ په پیښور کی دحزب اسلامی مولوی خالص لخواد تعلیم اوتربیی ریاست په انگړکی فاتحه واخستل شوه ، په هغی کی دعبوری حکومت دجمهور رئیس صبغت الله «مجددی »سربیره عبدالرب رسول سیاف دعبوری حکومت صدراعظم ، مولوی محمد نبی «محمدی» ددفاع وزیر قاضی امین «وقاد» داسلامی اتحاد دداعیی مشر مولوی محمد یونس «خالص»دکورنیو چارووزیر اونوروزیرانو شمیر انصارو او مهاجرو گډون کړی ؤ، خومولوی صاحب جلال الدین «حقانی» چی ورته یی دمشر ورور حیثیت درلود په دی وخت کی سعودی عربستان کی ؤ اووی نشو کړای دشهید په جنازه او فاتحه کی برخه واخلی .

شهید مطیع الله داسلامی انقلاب دهغو سرتیرو ، باتورو او نه هیریدونکو څیرو څخه ؤ چی کارنامی به یی لاروبوته دلاری مشال وی ، مور.ددی اتل ورور روح ته دعقیدت پیرزوینی وړاندی کولو په ترځ کی خپلی خبری رانغاړو او دبخښونکی خدای (ج) څخه ورته دجنت فردوس غوښتونکی یوو .

دلته دهغو جگړو یادونه هم کوو چي دخوست دفاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني دپروگرام له مخي دمطیع الله خان په قومانده پردښمن سرته رسیدلي :

۱– په ۱۳٥٤ کال کي دمنځکي دپاڅون پروگرام دمحترم حقاني ؤ او دجنگ قومانده دشهید مطیع الله خان په لاس کي وه .

۲– په ۱۳٥۸ کال کي د دني پر قواو دعملیاتو پروگرام دمحترم حقاني ؤ او دجنگ قومانده دشهید مطیع الله خان په لاس کي وه .

۳– په ۱۳٥۷ کال کي دترمیري ټاپوگانو باندي عملیاتو پروگرام دمحترم حقاني ؤ او عملیات دشهید مطیع الله خان تر قوماندي اجرا شول .

٤– په ۱۳٥۷ کال کي دلیژي پر تاڼي دعملیاتو پروگرام دحقاني صاحب ؤ دعملیاتو مشر مولوي گربز او مرستیال یي شهید مطیع الله خان ؤ .

٥ – دنادرشاه کوټ دفتحي دعملیاتو پروگرام دمحترم حقاني صاحب ؤ او دعملیاتو قومانده دشهید مطیع الله په لاس کي وه.

بسم الله الرحمن الرحيم

اعلامیه شورای سوم سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان

ان الله يحب الذين يقاتلون في سبيله صفاء كانهم بنيان مرصوص .

بتاسي ازفيصله كمسيون عالي شوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان كه بتاريخ ۲۰ عقرب ۱۳۷۰ در ولسوالي خوست ولايت پكتيا بمنظور غور وبررسي وضع سياسي ونظامي كشور ، تدوير جلسه سوم شوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان راپيش بين نموده بود بناءً بتاريخ ۸ - ۱۲ دلو ۱۳۷۰ به تعداد بيش از ۵۵۰ تن قوماندانان جهادي از تنظيم هاي مختلف واقشار مختلف ازهمه اكناف كشور در ولايت پكتيا گرد هم امده و تصاميم اتي را اتخاذ نمودند .

۱- تحريم هر نوع اتش بس دوام جهاد مسلحانه هم اهنگ ومنظم الي اسقاط رژيم ملحد واستقرار حكومت اسلامي در افغانستان .

۲- حق تعين سرنوشت وتشكيل حكومت اسلامي در افغانستان حقوق حقهء ملت مجاهد ومسلمان مابوده كه در وضعيت حساس فعلي بعنوان يك دوره انتقالي عبارت از علماي كرام ، قوماندانان جهاد ، تنظيم هاي جهادي ، سران اقوام ، روشنفكران كه از مليتهاي مختلف افغانستا ن نمايندگي نمايد ميباشد. تحميل هر طرح ديگر خارجي مداخله در امور داخلي كشور تلقي ميگردد.

۳- قوماندانان جهادبه پيروي ازماده دوم اعلاميه هذاپلان پنج فقره يي ملل متحد را با در نظر داشت ملاحظات وتوضيحات در بعضي از مواد ان كه مخالف ارمان جهاد ومنافع مانه بوده ومتضمن ايجاد حكومت اسلامي در افغانستان باشد مخالفت نمي نمايد .

٤- شوراي قوماندانان ازتمام روساي تنظيم هاي جهاد تقاضا ميكند كه صفوف خودرا متحد ساخته جلو هر نوع مداخله ودسايس خارجي رابگيرند ، درغير ان دستاورد هاي جهاد اسلامي وتماميت ارضي افغانستان به خطر خواهد افتاد .

۵- كمسيون باصلاحيت تعين گرديد تا فيصله هاي شوراي سوم را تطبيق نموده وامور ذيل راتعقيب نمايد .

الف: فرض تهيهء يك طرح مكمل وجامع براي اقامهء حكومت موقت اسلامي تماسهاي لازم بارهبران جهاد وهمهء عناصر ذيدخل در قضيه افغانستان برقرار گردد .

ب : تشكيلات اردوي منظم اسلامي راترتيب ودر تاسيس ان قدمهاي موثر جدي وعملي بردارند .

ج : امور اداري وارتباطات شورا را مطابق لوايح تثبيت شده قبلي اجرات نمايند .

دجبهه جهاد جريدي په يوه گڼه کي دستر مجاهد الحاج مولوي جلال الدين
حقاني صاحب پرخلاف يو مطلب خپور شوي و چي وروسته بيا حضرت صاحب
صبغت الله مجددي دهغه مطلب دترديد په رابطه الحاج حقاني صاحب ته يو ليک
استولي ژ موږ دلته دجناب حضرت صاحب ليك درنو
لوستونكو ته وړاندي كوو.   اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

دولت اسلامی افغانستان

شماره

تاریخ ۹/۱۰/۱۳۷۰ هـ ش

جناب محترم مجاهد کبیر جلال الدین حقانی صاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

مکتوب سلامتی شما رسید واز نشریه فتوی در جریده جبهه راجع به شخص جناب شما تذکر داده بودید،
به تیقین عرض می شود که این فتوای دستریه در وقتی صورت گرفته که بنده به خارج از پاکستان
به سفر مشغول بودم، من کلی مخالف همچو عمل وفتوی بوده و به شخص شما وهمه علماء ومجاهدین قلباً
احترام دارم، از تفصیل آن فتوی در همان شب چهار روز واقف شدم که خیلی باعث رنجش من
گردید، ادب واخلاق شخص من وفامیلم این چنین نبوده به بعضی اشخاص در جبرا نیکه کلمات
بسیار ناگوار وقبیح در جرائد رسمی خود در حق من استعمال کرده اند، من جوابی نداده ام
چه جائیکه شما که یک دوست سابقه دار ما می باشید همچو پیش آمد واظهاراتی را روادا
باشم محال است، بهر حال من از آن عملی که صورت گرفته با اینکه نه به اشاره ونه به امر من
صورت گرفته قلباً معذرت خواسته وان شاء الله تلافی آنرا در همان جریده خواهم نمود
سلامتی وتوفیق مزید شما را در راه اعلای کلمة الله و آزادی وطن عزیز از بارگاه
رب العزت جل وعلا مسئلت می نمایم < خداوند کریم حافظ شما >

صبغة الله المجددی



دافغانستان پر فضايي قلمرو دروسانو لومړني تيري

ليکوال سيد محي الدين هاشمي

* پر پکتيا دروسي الوتکو بمباري (۱۳۰۳)هـ ش

پر افغانستان باندي دسره ښکيلاك تيري بلوسيدني او راښکيلوني پلان ډير زړ او پخواني و چي له پطرکبير څخه راتيولي بيا زموږ پر هيواد باندي دمستقيم تيري پوري په بيلو بيلو وختونو کي بيلي بيلي بڼي ځانته غوره کړي دي .
موږ دلته په دي ليکنه کي دامان الله دحکومت په وړاندي دپکتيا دمومنو خلکو دپاڅون په بڼي رامنځته کيدو ، وړاندي تګ ، دبري په وړاندي دخنډونو ځنډونو او بالاخره دله منځه تللو دعو املوپه پس منظر څه نه وايو بلکه هدف موډحقايقو او واقعيتونو په رڼا کي زموږ دهيواد په فضاي قلمرو دير غلګرو روسانو لومړني تيري لنډه څيړنه او سپړنه ده .
«اداره»

کله چي دپکتيا ځدرانو او منګلو ميړنيو قومونو دسيمي ددوتنو نوميالیو علماو ملا عبدالرشيد خان او ملا عبدالله خان په مشري دامان الله خان دحکومت پر ضد پاڅون وکړ او د ۱۳۰۲ هـ ش دحوت په ۲ نيټه يي (چي ۱۹۲٤ م کال دمارچ له مياشتي سره سمون خوري) دګرديز ښار محاصره کړنو بيالړه موده وروسته له پاڅون کوونکو سره دتحصيلدار عبدالکريم خان په يو ځاي کيدو پاڅون او مقاومت نور هم پياوړي او ځواکمن شو .

امان الله خان په۱۳۰۲هـ ش کال کي په پغمان کي لويه جرګه راوبلله او غوښتل يي چي دجرګي په ترځ کي داساسي قانون دتصويبولو تر څنګ د پکتياد ميړنيو خلکو دپاڅون دټکولو او محکوموولو لپاره دملت ملاتړ او ننګ تر لاسه کړي ، خو په دي برخه کي يې بري په برخه نشو لودجرګي برخه والو علماوو او قومي مشرانو ورسره په ډاګه مخالفت وکړ.

په پکتيا کي جګړه تر يوه کال پوري روانه وه ، دامان الله خان حکومت پخپل ټول ځواک دهغي دغلي کولو او دخلکو دځپلو هڅه وکړه او په دي لار کي يي خپله هره وسيله او وسله په کار واچوله ، له يوي خوا يي خپلو وسله والو قواو ته دزور ازموينې قومانده صادروله او له بلي خوا يي ددي پاڅون په اړه ناوړه تبليغاتو ته ادامه ورکوله حتي چي دخپلو ناوړو تبليغاتو په بهير کي يي ددي پاڅون مشري او تحريك نسبت هم نوروته کاوه ، دتبليغاتي پاڼو دويشلو له لاري يي هڅه کوله چي دنورو ولاياتو دقومونو او قبايلو احساسات دپکتيا دخلکو په مقابل کي راوپاروي .

خو چي دغه ټولي ناوړي هلي ځلي ، زور ازموينې کومي مطلوبي نتيجي ته ونه رسيدلي او حکومت ونشو کړاي چي پر او ضاع بشپړ مسلط شي ، نو له انګريزانو څخه يي دالوتکو غوښتنه وکړه تر څو دپکتيا مومن وګړي پري وځپي .

انګريزانو په پيل کي داغوښتنه ومنله خو بيا وروسته يي پيلوټانو په هکله دنه موافقت په اساس له خپل هوډ نه راوګرځيدل .

د«روابط خارجي افغانستان تانيمه قرن بيستم» نومي کتاب ليکوال لودويك ادمك په دي اړوند ليکي :

« دافغانستان دولت د ۱۹۲٤ م کال په اوږدوکي دهندوستان له دولت نه (چي هغه وخت دانګريزانو مستعمره

وه) داړو نوړ کوونکو دځپلو او ټکولو او دهغوي په وړاندي دمقابلي لپاره دالوتکو غوښتنه وکړه ، خو په دي شرط چي ددغو الوتکو پیلوټان باید انګریزان نه وي .

انګلیسانو چي خپلي الوتکي یي دروسي پیلوټانو په لاس نه ورکولي وړاندیز یي وکړ چي جرمني پیلوټان باید دغه الوتکي وچلوي نو په همدي اساس یي شپږ الوتکي چي پر هغوي په لوي خط د«الله اکبر» کلمه لیکلي وه ، دانګریزي پیلوټانو په وسیله چي شخصي کالي یي اغوستي وو ، کابل ته ولیږل شوي ترڅو چي هلته یي له وعدي سره سم جرمني پیلوټانو ته وسپاري خو کله چي داالوتکي کابل ته ورسیدي دانګلیسي حکومت نظر واوښت او څرګنده یي کړه چي لکه څنګه چي دوارسا دسولي دمعاهدي په اساس دالمان پیلوټان دافغانستان په فضا یي قلمرو دجنګي الوتکو دپرواز حق نلري ، نو ښه داده چي همدا انګلیسي پیلوټان دالوتني دنده سرته ورسوي خو دافغانستان حکومت داغوښتنه ونه منله په دي وخت کي روسانو چي همدي ته سترګي په لاروو له موقع نه استفاده وکړه او رامخي ته شول خو الوتکي یي افغانستان ته راوستلي او دپاڅون کوونکو مورچلونه او مواضع یي بمباري کړی ».

روسانو چي دامان الله خان دخوشحالولو لپاره دهیڅ ډول جنایت نه غاړه نه غړوله ، دافغانستان حکومت ته دمرستي پیشنهاد وکړ ، او دکابل دحکومت په موافقه یي دخوست ښار او شاخوا سیمي په ډیري بي رحمي سره بمباري کړي .

دلته دموضوع دښه وضاحت او دروسانو ددي جنایت دڅرګند ثبوت په توګه پخپله دیو روسي لیکوال اقابکوف لیکنه لولو چي څو کاله یي دروسانو دجاسوسي شبکي کي ، جي ، بي دغړي په توګه په افغانستان ، ایران ، ترکیي او نورو اسلامي هیوادو کي جاسوسي کوله اوبیا یي فرانسي ته پنا یوړه او په ۱۹۳۰ کال کي دکي ، جي ، بي له خوا ووژل شو .

نوموړي لیکي : « دخوست په پیښه کي مورد افغانستان دحکومت مرستي ته راغلو «ستارک » دروسي دهوایي قواو په وسیله دمرستي وړاندیز وکړ چي بي له ځنډه دافغانستان حکومت په پوره لیوالتیا سره ومانه اوبیا روسي الوتکو داړدوړ کوونکو مورچلونه په کلکه بمباري کړل ، له دغه بریالیتوب نه وروسته « استارک » دافغانستان دولت ته پیشنهاد وکړ چي ترڅو دوي ته اجازه ورکړي چي دروسي دولت له خوا په افغانستان کي یوه هوایي اډه جوړه شي ، چي دهندوستان دحملي په صورت کي تري استفاده وشي چي له موافقي نه وروسته مور بي له ځنډه لس الوتکي دپیلوټانو او تخنیکي عملي سره افغانستان ته ولیږل ، اودغسي دسري اردو عمومي قوماندانی وکړای شول ، په افغانستان کي یوه ستراتیژیکه اډه ترلاسه کړي »

ددغه بمباري په وسیله چي په واقعیت کي یي پر افغانستان باندي دروسانو لومړني هوایي تیري ګڼلای شو ، خوست او همدارنګه دپکتیا یو شمیر نوري سیمي په بشپړه توګه ویجاړي شوي ، او په سل ګونو تنه پکي شهیدان او ژوبل شول .

د« جنایات روس درافغانستان » کتاب لیکوال لیکي چي :

امان الله خان ددغي فتحي له امله جشن جوړ کړ او خپلو عسکرو ته یي حکم وکړ چي ددغه بري په ویاړ رسم ګذشت اجرا کړي .

ویل کیږي چي په دغه پیښه کي دحکومت قواو په سل ګونو تنه بندیان کړل چي بیا وروسته یي له دغو بندیانو څخه ۵۲ تنه اعدام او پاتي نور یي جبرا عسکري ته سوق کړل .

دپاڅون یو مشر تحصیلدار عبدالکریم د۱۹۲۵ ع کال په لومړیو کي دي ته اړوت چي شاته لاړ شي ، اوله سرحد نه واوړي چي هلته بیا دانګریزانو له خوا ونیول شول ، او بندي کړای شو .

ددي پاڅون نور برخه وال مشران هم د۱۹۲۵ کال دجنوري په میاشت کي دامان الله خان دلاسپوڅو له خوا ونیول شول او کابل ته ولیږل شول .

وروسته له دي چي دپکتیا ځمکه ددغه ځای دمومنو وګړو په وینو سره شوه دخلکو پاڅون ظاهرا دیوڅه وخت لپاره غلي شو خو وروسته یي بیا څپي په غورځنګ شوي .

ماخذونه :(۱) خاطرات اقابکوف
(۲) روابط خارجي افغانستان تانیمه قرن بیستم ، لیکوال لودویك ، ژباړن پوهاند فاضل
(۳) جنایات روس در افغانستان از امیر دوست محمد خان تا ببرک کارمل ، لیکوال ډاکټر حق شناس

دپکتیا اوپکتیکا ولایتونو دصحي کمیټی (HCPP) اهداف

دمیر غوث الدین لیکنه

افغانستان د۱۳ کلنی جگړی په ترځ کی وران ویجاړ شوی دژوند شرایطوپه داسی بڼه تغیر موندلی چی بیلابیلو ساری او غیر ساری ناروغیو ته یی زمینه مساعده کړی چی زیات شمیر خلك یی په خپله لمن کی رانغاړلی او دا ناروغی یی زوروی ، دکرنی ځمکی دابیاری دسیستم دخرابوالی ، مینونو دموجودیت او کړکیچونو سیاسی حالاتو له وجی بایرپاتی شوی او زراعتی حاصلاتو چی دخلکودیو څه لاس ته راوړلو ذریعه وه محدود شوی ، دمالداری سره هم زموږ خلکو زیاته مینه درلوده ،او هغه هم په اوسنیو شرایطو کی چی باید څه وړوی نه دی ، دخلکو دارتباط لاری له مینځه تللی ، دخلکو دزده کړی سطحه ټیټه راغلی او زیات شمیر ماشومان بی زده کړی پاتی شوی . خوزموږ اتلو مجاهدینو ددیارلس کلن جهاد په ترځ کی دولایتونو زیاتره برخی دکمونستانو له منګولو ازادی کړی او مزدور رژیم هیڅکله نه دی بریالی شوی چی خپل صحی فعالیتونه دلویو ښارونو ته رسوی ، په داسی حال کی چی دپنځو ملیونه مهاجر وو ، یو نیم میلیونه دشهیدو سره بیره اته ملیونه خلك په کلیو او بانډو کی صحی مرستو ته سترګی په لاردی ، د۱۹۸۰ م راهیسی دافغانستان په زیاترو برخو خاصتاً پاکستان سره په یوه پوله پرتو ولایتونو کی خیریه موسسو صحی کارکونکی او کلینکونه فعال کړی همدارنګه د(۱۹۸۵م) کال راهیسی دجنوبی ولایاتو دجبهاتو صحی څانګی دالحاج مولوی جلال الدین حقانی تر مشری مجاهدینو او دسیمی خلکو ته زیاتی صحی مرستی رسولی خو دهغه ضرورت له امله چی دمجاهدینو په جبهاتو او ازادو شوسیموکی صحی کارکونکو ته محسوسیده دی اداری په (۱۹۸۹) کال کی دصحی کارکونکو دروزلویو کورس په میرانشاه کی پیل کړ ، دصحی اساسی کارکونکو لومړی (۲۵) کسیزه ډله د (۱۹۹۰) کال په اپریل میاشتی کی فارغه شوه او تر لومړنیو او لازمه تدارکاتو وروسته دمجاهدینو تر کنترول لاندی هغو سیموته چی ورته ښودل شوی وی واستول شول ، تراوسه دشپرو بیلابیلو دورو په ترځ کی له نوموړی کورس څخه (۱۰۶) اساسی صحی کارکونکی فارغ شوی روزل شوی او زموږ دمجاهدولس خدمت ته یی ملا راتړلی .

دپکتیا او پکتیکا په ولایتونو کی دوضعی تر بدلون او خاصاً دخوست دلوی ولسوالی (په نو وروستیو کی خوست دمزدور رژیم له خوا ولایت شوی ؤ) او ځینو نورو سوبو وروسته په ځینو نورو برخو

کی ددی زمینه مساعده شوه چی صحی پروگرام لامنظم ، ښه او علمی بڼه غوره کړی ، په همدی خاطر وچی ددی دوولایتونو قوماندانانو او مشرانو دمولوی جلال الدین حقانی په مشری دصحی برخی مسوولینوته هدایت ورکړ چی باید داځانگه محدوده نه شی او له هغو صحی ادارو سره چی په پیښور کی مرکزیت لری په داهمی تماس کی وی .

دپکتیا او پکتیکا ولایتونو صحی کمیټه

HEALTH,COMMITTE E,OF,PAKTYAANO PAKTYKA,PROVINCES چی پخوانی صحی ځانگه هم پکی مدغم ده دیوی فعالی صحی کمیټه په بڼه چی په صحی امور کی دنوموړو ولایتونو له خلکو نمائنده گی کوی د۱۹۹۱ کلا داگست په میاشت کی افتتاح او خپل کار پیل کړ ، دپکتیا او پکتیکا دصحی کمیټی اهداف په لاندی ډول دی .

۱-دهغو صحی کمیټو او ادارو سره فنی اومسلکی اړیکی ټینگول چی دافغانستان خلکوته دصحی خدمتونو رسولو په برخه کی کار کوی .

۲- دنوموړو صحی کمیټو دمرستی ترلاسه کول .

۳- دصحی کارونو دښه ترسره کولو او صحی پرسونل دکمبود په خاطر بیلا بیلو برخو کی دصحی کارکونکو روزل .

٤- دولایتی روغتونونو ترڅنگ دلومړنیو او دضرورت وړنورو صحی مرکزونو جوړول .

٥- دحمایه طفل ومادر (ماشوم او مورساتنی) صحی مرکزونو دجوړولو ترڅنگ دکورنیو په سطحه د(ایم سی ایچ) خدمتونو خورول .

٦- په جنوبی ولایاتو کی دخلکو دصحی وضعی او نورو ضرورتونو سروی او ارزیابی .

۷-په جنوبی ولایتونو او لومړی قدم کی دپکتیا او پکتیکا په ولایتونوکی دصحت عامه امر یتونو جوړیدل .

۸-نوموړو ولایاتو ته دصحی امورو پلانگذاری .

۹-په جنوبی ولایاتو خاصتاً پکتیا او پکتیکا کی دصحی مرستو څارل ، ارزیابی کول او کنترول.

دپکتیا او پکتیکا ولایتونو صحی کمیټی دفتر په میرانشاه کی دی او دصحی امورو دانسجام او نورو صحی کمیټو سره دارتباط په خاطر یوه نمائنده گی پیښور کی هم لری .

په نوموړی کمیټه کی دقهرمانو مجاهدینو برخه اخیسته ډیره مهمه ده هیله ده چی ددی کمیټی له غرو به په داخل دافغانستان او پاکستان کی خپله مرسته ونه سپموی ، او که دپکتیا او پکتیکا دصحی کمیټی (HCPP)په باب پوښتنی او که دکارونو لاسه کیدو په برخه کی وړاندیزونه لری کولی شی په لاندنی پته له موږ سره مکاتبه وکړی .

وروستي برخه :

ژباړن : سلطان محمود «صلاح»

داسلام په اره دصلیبیانو او یهودیانو نظریي

داسلام په هکله دمسلمانانو شکمنول:

دمسلمانانو په مینځ کي دمسیحی مبشرینو دکنفرانس په هکله خپاره شوی کتاب کی راځی:

مسلمانان وایی اسلام دبشریت ټولی ټولنیزي اړتیاوی پوره کوی ، نوموړ مبشرینو ته په کارده چی په روحی او فکری وسله سره داسلام مقابله وکړو.

او دهمدی خبری او لاربسوونی دپلی کولو پخاطر داسلام دښمنه مستشرقینو داسی کتابونه ولیکل چی سرترپایه داسلام دستر پیغمبر محمد(صلي الله علیه وسلم) او اسلامی اصولو خلاف لیکل شوی او زیار یی ایستلی داسلام په هکله دمسلمانانو په زړونو کی شك شبه راپیدا کړی.

شپږم : دعربانو کمزوری کول :

غربیان داسی پیتی چی گویا عربان داسلامی امت دکلی (کنجی) حیثیت لری موروبیرجرپخپل(العالم العربی)نومی کتاب کی لیکی:

تاریخ داثابته کړیده چی دعربانو زور او قوت په حقیقت کی داسلام قوت دی ، نو عربان باید وځپل شی تر څو پدی سره اسلام له مینځه لاړشی.

اووم -په اسلامی نړی کی دسیاسی دیکتاتوریو رامینځته کول :

امریکا یي مستشرق و.ك سمیت چی دپاکستانی امورو متخصص هم دی وایی :

«که د اسلامی نړی مسلمانانوته ازادی ورکړی شوه اود دموکراسی ترسیوری لاندی راغونډ شول ، نو حتماًبه اسلام بری مومی ، نویوازی دیکتاتوری ده چی اسلام او مسلمان ولسونه سره لیری او جداساتی ».

دتایم مجلی مسؤل مدیر پخپل (داسیاسفر) نومی کتاب کی امریکایی حکومت ته نصیحت کوی چی امریکا باید په اسلامی هیوادونوکی نظامی دیکتاتوری حکومتونه رامینځته کړی ، ترڅو اسلام په مسلمانو ولسونو باندی حاکمیت ونه شی موندلی ، ځکه که اسلام په خلکو حاکمیت پیداکړ نو بیا غربی استعمار او تمدن هلته لاره نشی موندلی ۱.

خو غربیانو داهم له یاده نده ایستلی چی باید دی مسلمانو

ولسونو ته کله کله دارامی او استراحت وخت هم ورکړل شي ، څکه که داسي ونشي نو حتماً به یوه ورځ دهغوی دزغم کاسه ډکیږي او راپورته کیږي به :

دفرانسی بهرنیو چارو وزیر (هانوتو) وایي :

لاتر اوسه هم زمونږ په لاس دځپل شوو ولسونو (اسلامی امت) خطر زمونږ وجود تهدیدوی ، ه، ، مونږ په هغوی ډیری بدی ورځی راوستلی خو له دی ټولو سره سره بیاهم هغوی خپل همت له لاسه ندی ورکړی ۲.

اتم –له صنعت نه دمسلمانانو لیری ساتل :

په (۱۹۵۲م) کال کی دفرانسی بهرنیو چارو یوه مسؤل وویل :

زمونږ لپاره تر ټولو لوی خطر داسلام خطردی .

نومونږ باید مسلمانانو ته ددوی دغوښتنی په اساس هر څه ورکړو ، او زیار وباسو چی دهغوی په ذهنونو کي دفني اوصنعتی پرمختګ مینه راپیدا نشی ، او که مونږ پدی پلان کی ناکام شو ، او دااسلامی لوی قوت دفنی او صنعتی کمزوری له بندنه ازاد شو ، نو بیابه داسی یو سیلاب وی چی په ټوله نړی کی به دلویدیځ مشرتابه له مخی سره یوسی (۱).

نهم –پیاوړی مسلمان مشران داسلامی هیوادونو له مشرتابه څخه لیری ساتل: انګلیسی مستشرق (مونتجومری واټ) دلندن څخه خپریدونکی (تایم) جریدی د۱۹٦۸ م کال دمارچ میاشتی په ګڼه کی لیکلی وو:

که چیرته مسلمانانو په مینځ کی مناسب ، پیاوړی اوپه اسلام پوه مشرراپیداشو نو بیاکیدای شی چی دادین (اسلام) یوځل بیا دځمکی پر مخ دیوه پیاوړی سیاسی قوت په شکل رامینځته شی(۲)

۲– ګیپ وایي : اسلامی حرکتونه په ډیره چټکی او ناڅاپی ډول سره بدلون مومی ، چی حتی څیړونکی هم ورته حیران پاته شی ، باید ووایو چی له اسلامی تحریکونو سره له مشرتابه پرته دبل هیڅ څه کمی هم نشته ، او یوازی دی ته اړه ده چی نوی صلاح الدین راپیدا شی (۳)

۳– لکه مخکی مو چی وویل داسرائیلو پخوانی صدراعظم (ابن غوریون) ویلي وو :

«زه له هرڅه زیات نه په عربی نړی کی دنوی محمد له راپیدا کیدونه زیات ویریږم»

٤–دپرتګالی دیکتاتور سولازرخبره بیا تکراروهغه چی وایی : زه لدینه ویریږم هسی نه ددوی (مسلمانانو) مینځ کی داسی یو څوك راپیدا شی چی خپل منځی اختلافات ختم کړی او ټول زمونږ په خوا راواړوی.

لسم – دښځو انحراف او جنسی فساد خورول :

۱–مبشره ښځه ان میلیګان وایي : مونږ وکولای شوای دقاهری دښځوفاکولته کی داسی نجونو سره راغونډی کړو چی پلرونه او مورانی یی باشاګان او بکوات دی ، او بل داسی ځای نشته چیرته همدومره زیات شمیر مسلمانی نجوني دمسیحیت تر نفوذ لاندی وی ، او بله داچی داسلامی قلعی دنړولو تر ټولو نه لنړه لار همداده ۲ .

ددوی داخبره دامعنی لری چی که چیری مسلمانه ښځه له دین څخه ووتله ، نولدی سره ددی میړه ، وروړ او ټول هغه نسل چی دایی روزی له دین نه وزی ، او په نړی کی داسلامی تمدن دنړولو تر ټولو لویه وسیله همدا ښځه ګرزیدای شی .

۲–دفلسطین له لویدیځی څنډی

نه راغلی یو کس وایی چی
صیهونستی واکداران په پېره
منظمه توګه ددی زیار باسی چی
عربی ځوانان له یهودی ښځو
سره ګډکړی په خاصه توګه
دبحر په غاړه ، او بیا یهودی
ښځی له نوموړو عربی ځوانانو
سره دزنا کوښښ کوی ، او که
کوم ځوان ددی مخالفت وکړی نو
بیا دحکومت تردی تور لاندی
راځی چی ګویا نوموړی ، کوم
فلسطینی سرتیری تحریك سره
ارتباط لری .

او همداراز لوبدیځی ښځې ته
یوازی بربنډ فلمونه لیږل کیږی ،
او ځای په ځای دفحش مرکز ونه
پرانستل شوی او هلته فحش او
فساد په مجانی توګه وی او له
همدی لاری نه دفلسطینی
ځوانانو اخلاق له مینځه وړي او
دمقاومت له لیکونه یی لیری
ساتی.

ای افسوس دمونږ دښمنان
څومره بد خلك دی ،هغوی مونږ
وژنی ، زمونږ مړی ټوټه ټوټه
دسپیانو خوراك ګرزوی ، هو
هغوی مونږ دی ته مجبوروی چی
ورسره کینه ولرو .

خودمکی دفتحی په ورځ رسول
الله (صلی الله علیه وسلم) خپلو
هغه دښمنانو ته کوم چی درسول
الله (صلي الله عليه وسلم) سره یی
جګړی کړی او دهغه اهل او
اصحاب یی وژلی دی وایی :
«اذهبوا فانتم الطلقاء» لاړ شی
تاسی ازاد یاستی . . .

صلاح الدین ایوبی دقدس له
فتحی وروسته صلیبیان همداسی
پخپل حال پریږدی ، اودخپلو
وژل شوو وروڼو انتقام نه ورنه
اخلی .

دلته داپوښتنه مطرح کیږی :
ددښمنانو لدی ظلم کینی ، وژنی
وروسته که مونږ بریالی شو نو
ایا بیا به هم پدوی رحم او
مهربانی کوو ؟!! او زمونږ
بریالیتوب حتمی څکه دی چی
الله تعالی همداسی فیصله کړیده
، نوایا دخپلو وینو او وژنو غچ به
ورنه اخلو او که څنګه ؟؟!!

هو الله تعالی مونږ ته ددی اجازه
راکړی ده چی انتقام ورنه واخلو
، خوداهم فرمایی : که چا عفوه
وکړه نو اجریی په خدای دی ، نو
دبری په ورځ به مونږ خپلو
دښمنانو ته وایو : ځی ، تاسی
ازادیاستی او داسلامی عدالت
تر سیوری لاندی دخپلی خوښی
ژوند تیروی ، والحمدلله رب
العالمین والصلاة علی نبیه محمد
صلی الله علیه وسلم .

١-التبشیر والا ستعمار-ص١٩١.
١-جندالله-ص٢٩.
٢-الفکرالاسلامی وصلته
بالاستعمار الغربی-ص١٩.
١-جندالله-ص٢٢.
٢-الحلول المستوردة-ص١١.
١-الاتجاهات الحدیثة فی الاسلام
-٣٦٥(عن الاتجاهات الوطینة
فیالاربالمعاصه)٢-٢-ص٢٠٦.
٢-التبشیروالاستعمار-ص٣٧.

* دپکتیا تاریخي معرکي:

دزیروك علاقه داري فتحه

عوض الدین « صدیقي »

له هغې ورځې را وروسته چې مولوی عزیز خان دالحاج مولوی جلال الدین حقانی په غوښتنه له خپلې سیمې (گومل ولسوالي) څخه د«زیروك » علاقه داری ته دتدریس اواسلامی فعالیتونو د منسجمولوپه خاطر ورغی هلته یې دتدریس تر څنگ داسلامی غورځنگ فعالیتونه او هڅې منظمې او منسجمې کړې او په خلکو کې یې دجهاد روحیه لا زیاته او گړندی کړه .
تردې وروسته به مولوی عزیزخان له مولوی جلال الدین حقانی سره لیدل ، دهغه څخه به یې پروگرام اخیسته او دهغه له مخې به یې عمل کاوه ، کله چې په ۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په ۷دکمونستانو (خلقیانو ـپرچمیانو) کودتا بریالی شوه دجهاد جذبې یې وینه په رگونو کې لانوره هم په غورځنگونوکړه ، تر کودتا ,۶, ورځې وروسته مولوی صاحب جلال الدین حقانی مولوی عزیز خان ته هدایت ورکړ چې په زیروك کې دلوډسپیکر له لارې جهاد اعلان کړه په همدې ورځې د«الامې «دکلی نورمحمد خان په حق رسیدلی ؤ ، له همدی موقع نه په استفادی سره مولوی غزیزخان دسیمې خلکو سره ولیدل او هغوی ته یې وویل چې دجهاد وخت رارسیدلی باید جهاد پیل کړو ، دکلی خلکو ورسره ژمنه وکړه چې موږ به دی ترڅنگ دریدلي ؤ کله چې سبا ورځ(پنجشنبه دثور ۱۳) دکلی خلك په هدیری کې راټول شول دجنازی تر لمانځه وروسته حاجی ملامحمود او حاجی ښایست مولوی غزیز خان ته وویل ددی پر ځای چې ,٤, بجې جهاد اعلان کړو (دکلی خلکو دمولوی غزیز خان په مشوره دجهاد اعلانولو لپاره دمازدیگر ٤ بجی ټاکلی وی) همدا اوس دکلی ټول خلك راټول دی جهاد اعلان کړه ، که څه هم چې مولوی عزیز خان ددی کار مخالف ؤ اوویل یې چې هر څه باید دټاکل شوی پروگرام

له مخې پرمخ بوتلل شي خو په
دې خاطر چې ددوی احساسات
زیانمن نشي هغوی سره یې
داخبره ومنله . راځئ دا برخه
دمولوی عزیز له خولې واورو :
«....کله چې ماته غږ راوشو چې
مولوی صاحب دقبر کار خلاص
شو ، راشه وعظ او نصیحت
وکړه دقبر لورته روان شوم ، کله
مې چې وعظ پیل کړ خلکوته مې
دا ایت (یایها الذین امنوا
قاتلواالذین یلونکم من الکفار
ویجدواً فیکم غلظته) (ای
مومنانو اجنګ کوی دهغو سره
چې نږدې دي تاسو ته له کفارو ، او
ودې مومي دوی په تاسو کې
کلکوالی ، زیږوالی اوتندی په
اقوالو او افعالو کې او پوه شی
چې الله (ج) له پرهیزګارانو سره
دی)ولوسته، لوستل شوی ایت مې
ورته تشریح او تفسیر کړ او
دجهاد فرضیت او اهمیت مې
ورته بیان کړ ، دخلکو احساسات
راوپاریدل ، دخلکو له مینځ څخه
غږونه شول ، ورونو ! غزاده ،
غزا ، نورونه ګوری جهاد پیل
کړی ، ددې وینا سره سم خلك

دکورونو خواته مات شول ، خپل
ټوپك یې راواخستل او دعلاقه
دارۍ پر لور یې وروداننګل ،
حاجي ښایست پر علاقه داری
دشل ډزی لومړی ډز وکړ ، جګړه
ګرمه شوه او تر څو ساعته
جګړې وروسته علاقه دار ووژل
شو اوولسوالی فتحه شوه..»
دجګړې په دوران کې دبابراګل
ګوته ټپي شوه او دجهاد په ترځ
کې لومړی وینه دده له ګوتی
وڅڅیده ، علاقه دار ، دهغه ورور
او څوتنه کمونیست ښوونکی له
مینځه لاړل ، ظابط عبدالروف
دعسکرو او مهماتوسره
مجاهدینو ته تسلیم شو ، او پر
علاقداری داسلام جنډه ورپول

شوه وروسته د«زیږوك» خلکو په
دې خاطر چې ددښمن دبمبارد
او حملې څخه یې ځانونه
ژغورلی وی غرونوته هجرت وکړ ،
اوهمالته یې شپې ورځې تیرولې ،
دې سوبې په ټول افغانستان
خاصاً پکتیا کې یوه غوغاپورته
کړه ، په خلکو کې یې دجهاد
جذبه لاتوپانی کړه ، دپکتیا ولایت
په زیاترو برخو کې داسلامی
غورځنګ غږو دخلکو سره لیدنی
زیاتی کړی ، خلك یې دجهاد
خواته وهڅول ، اوپه دې توګه یې
دجهاد حرکت ګړندی کړ ، خلك
یې ددښمن پر ځالو وردانګلوته
چمتو کړل او په غرو ، رغوکی
دتکبیر انګازی خوری شوی .



دافغانستان جهاد دهمدي قوماندانانو په قومانده پيل شوي اواوس هم ددوي مسوليت دي چي ددښمنانو ټولي دسيسي شنډي کړي

الحاج حقاني

دسرتاسري شورا ددريمي پرتميني غونډي راپور تاڅ :

رپوټ : محمد يه ٓ وب　　عکاسي :احمد سينا احمدي

د ۱۳۷۰ هـ ش کال ددلوی میاشتی په اتمه نیټه دسه شنبی په ورځ دافغانستان دجهادی تنظیمونو ۵۵۰ تنه نومیالی قوماندانان دگران هیواد افغانستان دګوټ ګوټ څخه دپکتیا ولایت په سرحدی سیمه کی راټول شوی وو په همدی ورځ دماسپښین دلمانځه داداکولو وروسته الحاج مولانا جلال الدین حقانی او ورسره دجهادنورو اتلو قوماندانانو دمیرانشاه له ښار څخه دپکتیا ولایت کی دمجاهدینو مشهور او تاریخی مرکز (ژوره) ته چې اوس یکې دحضرت عمر فاروق (رض) په نوم غونډ پروت دی دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا ددریمی ستری غونډی ددایریدو په خاطر حرکت وکړ دمجاهدینو دغه قافله دیو څه منزل له طی کولو وروسته ذکر شوی جهادی مرکز ته ورسیده او دژوره غونډ نظام قراول سره داسلام دغه فدایان دموټرو څخه پلی شول او دغه غونډ ته دننوتلو په وخت دافغانستان دجنوبی جبهاتو عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی او ورسره میلمنو قوماندانانو ته دژوره غونډ مسولینو مجاهدینو او دعبدالله بن مبارک (رض) حربی پوهنتون استادانو ، محصلینو له خوا چی په عسکری یونیفارم ملبس وو په لاسونو کی یی سپین او شنه بیرغونه نیولی او په منظم شکل ولاړ وو ، هر کلی وویل شو .

دعبدالله بن مبارک (رض) حربی پوهنتون درئیس ارکان محمد نعیم خان په قومانده دتشریفاتو مراسم اجرا شول او دمیلمنو تود هر کلی

وشو ، دحضرت عمر فاروق(رض) په غونډ کی دټولو میلمنو دپاره دخوراك ، څښاك او استراحت کولو پوره انتظام شوی وو.

دچهارشنبی ورځ ددلوی په نهمه نیټه دمازیگر په دریو بجو دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شوری ددریمی غونډی لومړنی جلسه دقرانکریم دڅو مبارکو ایاتونو په لوستلو پیل شوه وروسته دجلسی ویاند دالحاج مولانا جلال الدین حقانی څخه غوښتنه وکړه چی غونډی ته خپله افتتاحیه وینا واوروی حقانی صاحب دخپلي وینا په یوه برخه کی وویل :

مجاهدینو دالله (ج) په مرسته روسی امپراطوری دړی وړی کړه په داسی حال کی چی مجاهدینو عسکری زده کړه نه وی کړی او دجهاد قوماندانان هم عسکری جنرالان نه وو ، خو اوس دالله (ج) په فضل او دجهاد په برکت له ټولو جهادی قوماندانانو څخه جنرالان جوړ شوی ...

دهمدی جهادی قوماندانانو په قومانده دکفر او کمونیزم پر ضد جهاد پیل شو چی پدی ترځ کی دروسانو لخوا په زرگونو مسلمانان شهیدان شوی ، په زرگونو ماشومان یتیمان ، ښځی کونډی ، بوری او په زرگونو ځوانان معیوب شوی او همداراز په زرگونو مدرسی ړنگی شوی نو او س هم دقوماندانانو مسولیت دی چی په دی حساس وخت کی داسلام ددښمنانو ټولی نقشی شنډی کړی.

حقانی صاحب زیاته کړه : دروس امپراطوری ړنگه شوی او اوس امریکا خپل ځان دټولی نړی وکدار بولی ، که موږ ته دامریکا له خوا حکومت جوړ یږی دابه زموږ دجهاد داهدافو سره لوی خیانت وی .

وروسته بیا دالحاج مولوی جلال الدین حقانی وینا دکابل دنامتو قوماندان انور خان له خوا په دری ژبه وژباړل شوه تردی وروسته نومیالی قوماندان عبدالحق ویناوکړه او دخپلی وینا په ترڅ کی یی وویل : دافغانستان مسلمانو خلکو دا(۱۳) کاله جهاد دیوه هدف دپاره کړی دی چی هغه په افغانستان کی داسلامی حکومت جوړیدل دي .

قوماندان عبدالحق زیاته کړه : تر

دی په دغه مرکز دملحد دښمن بې شمیره تعرضونه شوی ، او زمونږ مجاهدینو دلته زیات شهیدان ورکړی چې داشهیدان دافغانستان دبیلا بیلو ولایتونو اوسیدونکی وو .
ورونو ستاسی خدمت په مونږ حق دی که تاسو ته زمونږ دکوم کمی په وجه او یا هم دسوړ موسم له امله کوم تکلیف رسیدلی وی ، نو الله (ج) دی تاسی ته دتکلیفونو اجر درکړی .

دحقانی صاحب دوینا وروسته دجلسی دویاند اختر محمد تولواک له خوا دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شوری ددریمی غونډی پریکړه لیک ولوستل شو چې دپریکړه لیک متن به په راتلونکی کی انشاء الله نشرته وسپارل شی .

دقوماندان اختر محمد تولواک څخه وروسته قوماندان عبدالحق دقوماندانانو په نماینده گی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی او دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ دمسولینو او مجاهدینو څخه دمننی په ترڅ کی وویل :
دیخنی پدی موسم کی دومره زیات شمیر میلمنو سنبالول او پالل پوره زحمت غواړی او مشکل کار دی نو مونږ الحاج مولوی جلال الدین حقانی ، دژوره دغونډ قوماندان الحاج محمد ابراهیم عمری او ټولو هغو مجاهدینو ته چی زمونږ په میلمه پالنی کی یی ډیر تکلیفونه وگالل دالله تعالی څخه داجر غوښتنه کوو الله (ج) دی دوی ته ددوی دنیکی اجر ورکړی .

دقوماندان عبدالحق وروسته اغای هادی غونډی ته دخپلی اختتامیه وینا په یوه برخه کی وویل : دټولو قوماندانانو وورونو څخه چی دی غونډی ته یی تشریف راوړی او هم دمحترم ورور مولوی حقانی صاحب او الحاج محمد ابراهیم څخه مننه کوم او دالله (ج) څخه ورته اجر عظیم غواړم .
اغای هادی زیاته کړه : مجاهدینو ورونو تاسی چی دنړی په اصطلاح لوی طاقت روس ختم کړ دایوه وظیفه وه مگر تردی څخه مهمه هغه

چي په افغانستان کی دیوه اسلامی
حکومت جوړول دی ، پاتی ده چی
دی هدف ته درسیدلو لپاره دجهادی
قوماندانانو سرتاسری شورا
یوازینی قوت دی ځکه چی په دی
شورا کی دافغانستان دټولو
اقشارو نمایندگان غونډ شوی دی
خو هوښیار اوسی چی دجهاد
دښمنان زیار باسی ترڅو
دقوماندانانو داوحدت گډوډ کړی .
داغای هادی وروسته دفقیر محمد
اووروسره ملگری له خوا یو پښتو
شعر اودپهلوان میرعالم له خواپه
دری ژبه یو شعر ولوستل شو.

دافغانستان دجهادی قوماندانانو
دسرتاسری شورا دریمه لویه غونډه
چی ددلوی میاشتی داتم نه ددلوی
دمیاشتی ۱۳ می نیټی پوری یی
دوام وکړ دخلیفه عبدالواحد
نقشبندی له خوا ددعایی په لوستلو
پای ته ورسیده.

ددلوی دمیاشتی په ۱۲ مه نیټه
دغرمی ډوډی خوړلو وروسته میلمنو
سره دمخه سبه په مراسمو کی
دژوره غونډ نظام قراول سره دغونډ
مجاهدین دعبدالله بن مبارک (رض)
دحربی پوهنتون استادان او
محصلین په منظم شکل ولاړوو
دمولوی جلال الدین حقانی په ورتگ
دحربی پوهنتون درئیس ارکان
محمد نعیم خان له خوا ورته قطعه
تقدیم شوه او حقانی صاحب
دقطعی دمعاینه کولو وروسته
دمیلمنو داحترام دپاره دتشریفاتو
مراسم په ځای شول چی دغه
مراسم دمجاهدینو له خوا تکبیر په
نارو او درنو او ورو ډزو سره بدرگه
کیدل وروسته الحاج مولوی جلال
الدین حقانی دبیلابیلو قوماندان
سره په مخه سبه وکړه او په دی
ترتیب دافغانستان دجهادی
قوماندانانو دسرتاسری شورا
ددریمی غونډی مراسم پای ته
ورسیدل.

مجاهدینو دخوست اسیرانو ته لس میاشتي اسلامي تربیه ورکړه له حقایقو سره یې اشنا اوله هغوی څخه یې افغانان او مجاهدین جوړ کړل

«الحاج حقاني»

په خوست کې دنیول شویو جنګي اسیرانو دخوشې کیدو په مناسبت دغونډې رپوټ:

په همدغه تاریخي سنګر کې دخوست تاریخي معرکې پریکړه شوې په همدغه جهادي مرکز کې پرخوست دیو مخیزو عملیاتو لپاره دغازیانو اوسرښندونکو وروستي فیصله اعلان شوې اوپه همدغه غونډ کې پرخوست دمجاهدینو دګډې اوستري حملې دبنسټ بنیادونه ایښودل شوې دي.

دي سنګر دغه مرکز اودې غونډ پخپله غیږ. کې داسې ډیرې حماسې ډیرې حادثې ډیرې کارنامې او تاریخونه خوندي کړیدي .

اونن

هو! نن دغه جهادي سنګر دیوې بلې حماسې شاهد دی - دیوې بلې حادثې ګواه دی اودیوې بلې کارنامې یادګار.

دهغه حماسې چې اغاز یې هم دلته شوی اودادی دبهیر څپې یې هم دلته یوه په بله پسې مخ په وړاندې غورځي .

*شهرت ننګیال

دخوست دتاریخي معرکې اوستري فتحې حماسه چې دجهاد په تاریخ کې یې یو ځانګړی باب انځور اوپه سیمه ائیزه ، ملي او بین المللي سویه یې دافغان جهاد په رابطه دنویو انکشافاتو لوري جوت او دتحرک اوخوځښت نوي څپې رامنځته کړې مسلط کړې شوې رکود اوبن بست یې مات کړ اودغورځنګونو او فتوحاتو مخه یې پرانیستله .

دغه تلپاتې حماسه اوتاریخي حادثه چې دافغان مجاهد ولس په ویاړمن تاریخ کې په زرینو کرښو دیوې ستري اوویاړمنې فتحې باب پرانیست دهمدغه جهادي سنګر اومرکز دتاریخي نقش محصول اوزیږنده ده چې دادی نن دهغه تاریخي معرکې او ستري فتحې دبهیر یو بل باب دتکمیل پړاو ته

رسیدونکي دي.

نن دخوست په تاریخي معرکه اوستره فتحه کې نیول شویو افرادو ته اسناد ورکول کیږي اوپه مخه ښه ورته ویل کیږي .

هغه چاته چې ډیر لیري نه لس میاشتې دمخه یې دخوست دوروستي ۱۷ ورځني تاریخي معرکې په اوږدو کې پر مجاهدینو دګولیو ږلې اودبمونو او اور باران جوړ کړی ؤ ، هر برخورد هر ځواب او .هر پیش امد دټوپک په خوله کیده ، دلمبو په ژبه کیده اودبمونو ، توپونو او ماشینګنو په منطق کیده .

هلته چې یواځې په مرګ پریکړه او فیصله کیدله او یواځې دوینو په ډند اودمرګ په پوله قدم ایښودل کیده .

خونن مجاهدین له هغوی سره دمینې او محبت پیش امد کوي دوروري په منطق چلند ورسره کوي

اوپه ډیر درناوي رخصت ورکول کیږي .
که څه هم دوي په یوه خونړي معرکه کي نیول شوي اودحق اوباطل کفر اواسلام تر منځ دیوي سختي جګړي اسیران دي چي ددوي له لاسه دهمدغو مجاهدینو چي نن ورته په مخه ښه وايي ، ورونه ، پلرونه ، خپلوان او انډیوالان شهیدان شوي زخمیان شوي اووطن یي وران شوي دي ، خو بیا هم مجاهدین دوي په مینه او درناوي سره رخصتوي اوقدر یي کوي:
دخوست فاتح الحاج حقاني دغو اسیرانو ته په مینه مینه ګوري نه داسیرانو په سترګه له هغوي سره خبري کوي خو پداسي مینه ناکه لهجه لکه چي له خپلو مجاهدینو سره خبري کوي .
هو !
دخوست دتاریخي جګړي او ستري فتحي جنګي اسیران رخصت کیږي دنیا حیرانه وه ، سیاستمدارانو ، مبصرینو ، کتونکو او ژورنالستانو ته دنه منلو ښکاري هغوي په نړي کي دجګړو په تاریخ کي دجنګي اسیرانو دخوشي کولو په رابطه دډیرو چنه بازیو او سودابازیو شاهدان دي ، هغوي لیدل چي پدي هکله دسیاست اوسیاسي مانورو اودډیپلوماسیو دهسکو ټیټو دځومره پراوونو وهل په کار دي له همدي ځایه ده چي په نړي کي

محترم ... خوست ... نیول شوي یوه جنګي اسیر ته دلاس ... یاشتني خدمت سند ورکوي

دجنګي اسیرانو دخوشي کولو رېړي کلونه کلونه نیولي ، ډیر هیوادونه پري غړیدلي اوملګري ملتونه پري ستړي شوي دي .
خو دلته په یوه ساده خو پرتمین تقریب اوغونډه کي بیله دي چي له کومي خوا دڅه امتیاز اوکړېدت ترلاسه کولو کوشش وشي دااسیران خوشي کیږي نه تري دیوه فشار په توګه کار اخیستل کیږي اونه کوم هدف لپاره دیوي وسیلي په توګه استعمالیږي اونه هم دکوم تبلیغاتي کمپاین لپاره په کار اچول کیږي که نه نو داڅه وړه خبره نده تراوسه دداسي اقدام ساري ندي لیدل شوي غونه یي چیري نشي په ګوته کیدلي او مثال یي څوك نشي پیدا کولي .
موږ بیا هم وایو چي داڅه وړه خبره نده ، که غوښتل شوي واي لدي لاري ډیر څه لاس ته راتلي شواي اوډیره استفاده تري کیدلاي شواي خو دهغه ځا چي نیت یواځي

دالله تعالي درضا حصول او اعلاي کلمة الله وي هغوي په دنیاوي امتیازاتو پسي نه ګرځي اودحربي او وسیلي خیال نه ساتي ځکه خو دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني ورروسته لدي چي لدغو اسیرانو څخه یي داسلامي تربیي له لاري مسلمانان او افغانان جوړ کړل په یوه ساده او پرتمین تقریب کي دغو جنګي اسیرانو ته رخصت ورکړ په مخه ښه یي ورته وویله او خداي پاماني یي ورسره وکړه ، پدي توګه دخوست دتاریخي معرکي او ستري فتحي یو زرین او ځانګړي باب دتکمیل سرحد ته ورسید .
راځي ددغي غونډي رپوټ سره ولولو .
دروان کال دجدی میاشتی په ۳۱ نیټه دژوره دحضرت عمر فاروق (رض) په جهادی مرکز کی دیوی پرتمینی غونډی په ترځ کی دخوست په فتحه کی نیول شویو پوځیانو

ته له مجاهدینو سره ددوی دلس میاشتنی خدمت سندونه ورکړل شول .

دسه شنبې په ورځ چې دجدی له ۳۱ نیټې سره برابره ده له غرمې مخکې په یوولس نیمو بجو دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ ته تشریف راوړ چې دغونډ دلومړنی نظام قراول په مخه کې دمجاهدینو دیوې ډلې له خوا چې دتشریفاتو دقطعې بڼه یې لرله درسم تعظیم مراسم په ځای شول .

دغونډ نومیالی قوماندان قهرمان مجاهد الحاج محمد ابراهیم اودغونډ رئیس ارکان دګروال سید نعیم او دغونډ دمنسوبینو له خوا دخوست فاتح اوددوی ملګرو ته ښه راغلاست وویل شو او ډیر تود هرکلی یې وشو .

لدې وروسته دخوست فاتح دغونډ دقوماندانی دمقر تر منځ په هغه ځانګړی ځای کې دلږ ساعت لپاره دمه شو چې په یوه دایروی بڼه جوړ شوی و پدی وخت کې دخوست فاتح له خپلو قوماندانانو سره دافغانستان دجهاد په رابطه په ګڼو مسایلو خبری وکړی اوهغوی ته یې دوضعی اوانکشافاتو په رابطه تو ضیحات ورکړل .

دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخپلو توضیحاتو په لړکی وویل : دافغانانو جهاد په یوه حساس او ټاکوونکی پړاو کی قرار لری باید زعامتونه قوماندانان او دولس فرد فرد چی په هره ځای او هره سطحه کی قرار لری دخپلو مسوولیتونو او مکلفیتونو په تر سره کولو کی دمسوولیت احساس وکړی او موجود فرصتونه له لاسه ورنکړی دخوست فاتح وویل :

افغان مجاهد ولس دجګړی په ډګر کی خپله قهرمانی او برتری ثابته کړه اوس بایدددغی ستری قربانی له امله ګټل شوی جنګ دسیاست اودیپلوماسی په میدان کی هم دمجاهدینو له خوا وګټل شی له مدی ځایه ده چی ترهر څه دمخه دمجاهدینو یوی واحدی پالیسی او طرحی او معقول سیاسی موقف ته ضرورت لیدل کیږی داسی موقف او کړنلاری ته چی له یوی خوا دمجاهدینو له ارمانونو او اهدافو سره اړخ ولګوی اوله بلی خوا له نړیوال پرستیژ څخه هم برخمن وی

دلته له یوه لنډ توقف وروسته حقانی صاحب دغونډی اصلی مقر ته تشریف یووړ په مخه کی نیول شوی پوځیان په منظمو لیکو کی ولاړ و چی دتکبیر په ملکوتی شعارونو او اسلام زنده باد او مرګ بر نجیب ، مرګ به ملحدین په نارو سره یی دخپلو احساساتو څرګندونه کوله .

پدی وخت کی ستر مجاهد الحاج مولوی نظام الدین حقانی هم دغونډی مقر ته تشریف راوړ او نور قوماندانان هم چی دخوست په ویاړمنه او ستره فتحه کی فعاله ونډه اخیستی وه حاضر وو دماسپین له لمانځه او ډوډی وروسته غونډه دقرانکریم دمبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه له هغی وروسته دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی ستیج ته تشریف راوړ چی دحضارو له خوایی داسلامی شعارونو په بدرګه کولو ډیر تود او دروند هر کلی وشو .

نیول شوی پوځیان چی په ځیرو او حرکاتو کی یی له یوی خوا

دیوی سرشاره خوښی نخښی ښکاریدلی له بلی خوا دمجاهدینو له خوا پداسی انسان دوستانه رویه او برخورد کي ډوب معلومیدل ، دوی ته دنه منلو ښکاریدله چی هغه ځوك چی دوی پری د ګولیو باران جوړ کړی و شهیدان کړی یی و او په وینو کی لمبولی وی نه یواځی داچی دوی په خوشحالی رخصت کړی بلکی قدر یی هم کړی مرسته یي هم ور سره کړی اوله مجاهدینو سره یی تیرو لسو میاشتودخدمتونو ستاینه یی هم وکړه داسی معلومیده لکه چی یو بل خوست فتحه شوی وی ، ددوهم ځل لپاره فتحه شوی وی داځکه چی پدغه ورځ زړونه فتحه شوی وو او دزړونو فتحه ډیره ستره فتحه ده .

په دوو بجو اوپنځوسو دقیقو دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخطابی میز شاته تشریف راووړ چی دحضارو له خوایی دتکبیر په نارو او اسلامی شعارونو ډیر تود هر کلی وشو .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی له حمد او ثنا وروسته وویل : .

عزتمندو ورونو !

که موږ دحق او باطل دمعرکی تاریخ ته یو ځغلند نظر وکړو نو ځرګنده به شی چی کفارو او دباطل پلویانو دمادی وسایلو او امکاناتو له مخی همیشه په مسلمانانو ډیر والی او قوت لرلی او غوښتی یی دی چی دمسلمانانو پر دینی شعایرو تیری وکړی .

له همدی امله وه چی ملحدینو دخپلو روسی بادارانو په ملاتړ دافغانستان دمسلمان ولس ددینی شعایرو او اساساتو پر ضد په تیری لاس پوری کړ خو کله چی پدی لار کی له ناکامی سره مخامخ شول ، نو ددوی باداران رامخی ته شول او دافغانانو په قتل عام یی شروع وکړه نه یی واړه پریښودل اونه زاړه ، نه یی په ماشومانو صرفه وکړه اونه په تور سرو بلکی دلویانو له وژلو څخه یی دماشومانو له وژلو ډیر خوند اخیست .

دوی کلی او کورونه وران کړل ، جوماتونه یی شهیدان کړل قرانکریم او اسلامی کتابونه یی وسوځول علماء روحانیون او روشنفکران یی په ډیره بی دردی شهیدان کړل پدی توګه کومی وسلی چی له دوهم نړیوال جنګ وروسته روسانو جوړی کړی او ذخیره کړی وی هغه یی په افغانستان کی استعمال کړی

عزتمندو ورونو لس کاله څه لنډ وخت ندی ددغه اوږدی مودی په هره ورځ هره لحظه هره میاشت او

محترم حقاني صاحب په [illegible] کې [illegible] شور [illegible] خدمت سندونه [illegible]

هر کال کی به روسانو ځومره ګولی استعمال کړی وی او ځومره بمونه به یی غورځولی وی ...

زمامحترمو ورونو ! دالله تعالی له ډیرو مبارکو اقوالو څخه ځرګنده ده چی هغه مسلمانان چی دکفر مقابلی ته دریدلی دی هغوی دالله تعالی او لیا دی اودغه اولیاوو ته ضرر رسول په حقیقت کی له الله تعالی سره مقابله ده .

لدی پرته هغه ځوك چی دالله تعالی په لار کی جهاد کوی له هغوی سره الله تعالی وعده کړی چی مرسته به ورسره کوی او فتحه او نصرت به یی په برخه کوی دبدر په غزا کی الله تعالی په یوه موټی خاورو دټولو کفارو سترګی ړندی کړی اومسلمانانو کفارپخپلو وسلو وځپل اوله ذلت اوشکت سره یی مخامخ کړل .

ورونو ! دافغانستان دجهاد له پیله

تر اوسه نژدی ۱۸ کاله کیږی ، وسله وال جهاد په حقیقت کی په ۱۳۵٤ هـ ش کال کی شروع کیږی هغه وخت زموږ په تصور کی هم نه تیریدله چی دمنځنی اسیا هیوادونه به ازادیږی او روسی امپراطوری به دړی وړی کیږی .

کمونستانو ۸. کاله هلته یوه ډیره وحشی او خونړی دکتاتوری او نظام مسلط کړی ؤ پدغه موده کی یی په اسلامی ریاستونو کی په زرګونو جوماتونه او مدرسی له منځه وړی او په لکونو مسلمانان یی شهیدان کړل بندیان او تبعید کړیدی .

عزتمندو ورونو !

روسان دمسلمانانو وینو وشرمول ، دروسانو فجایع په تاریخ کی ساری نلری ، دهمدغو وینو له برکته دکمونیزم وحشی امپراطوری ړنګه شوه او زموږ له تصور نه لوړ کار وشو ، اوس موږ وینو چی شوروی اتحاد له منځه تللی روسان له ذلت او رسوایی سره مخامخ شوه او په اقتصادی بحران کی ښکیل شوی دی.

ورونو !

دروسانو دتوطئو دسیسو او فجایعو نتیجه ده چی په افغانستان کی دجګړی لمبی لا بلی دی دغه خلك چی ګلم جم او یادی ورته نورو نومونو سره یادیږی دوی دمسلمانانو پر ضد جنګیدل او وحشیانه او غیر اسلامی کارونه یی تر سره کول داسی چی مجاهدینو له دوی سره په جګړه دځان مرګ شهادت او ددوی مرګ یی مردار والی ګاڼه چی بیا الله تعالی دخپلو ایتونو دتطبیق لپاره مجاهدینو ته تسلیم کړل اوس دوی ډیری نیکمرغی ځای دی چی دوی دظالم او ګلم جم نوم له ځان څخه لیری کړ .

مجاهدینو ددوی په مقابل کی له ډیری مهربانی او مرحمت څخه کار واخیست چی دوی ته یی عفوه وکړه که څه هم ددوی له لاسه ډیر مجاهدین شهیدان شوی داسی چی دځینو لا وینی نه دی وچی شوی او دفن شوی لانه وو دزخمیانو له پرهرونو لا دوینو داری روانی وی چی دوی دمجاهدینو لاس ته ورغلل خو مجاهدینو بیا هم دوی عفوه کړل مجاهدینو وویل چی داکسان په جهل کی لویدلی او په ناپوهی سره دمسلمانانو پر ضد استعمال شوی خو اوس چی دملحد رژیم نظام په خوست کی ړنګ او له منځه تللی نو ددوی مرګ دومره ګټور ندی لکه چی ددوی ژوند ګټور دی که چیري دوی ژوندی پاتی او تربیه شی کیدی شی هدایت ورته حاصل شی او پدی توګه له عذاب څخه نجات ومومی .

دوهمه خبره داچی دمجاهدینو حسن معامله اوله انتقام څخه تیریدل اولدوی سره نیکه او اسلامی رویه کول به دنورو لپاره عبرت شی او پدی به وپوهیږی چی دملحد او ګوډاکی نجیب په څنګ کی دریدل او دمجاهدینو په مقابل کي جنګیدل څومره ستر خیانت او ناروا عمل دی .

که څه هم کمونستانو او روسانو کله چی مجاهدین ژوندی نیولی لدوی سره یی ډیر ظلم او تیری کړی او په ډیره بی دردی یی شهیدان کړیدی دکونړ دکراړی واقعه زموږ ټولو په یاد ده هلته یواځی ٦ ملحدین دمجاهدینو دیوه ناڅاپی برید له امله وژل شوی و خو کمونستانو دهغه کلی ټول اوسیدونکی چی شمیر . . ۱۱ تنو

محترم مولوي نظام الدين حقاني په خوست کي دنيول شوو جنګي اسيرانو [illegible] لاس مياشتني خدمت سندونه لاسليك [illegible]



ته رسیده راغونډ کړل اوپه ډله
ائیزه توګه یې شهیدان کړل .
که څه هم ددغه کلی اوسیدونکو دهغه کمونستانو په وژلو کې هیڅ لاس نه درلود ، خو لدې کبله چې دا واقعه ددوی دکلی سره نژدې پیښه شوې وه نو دهغوی په بدل کې یوولس سوه بیګناه کلیوال په ډیره بې دردۍ سره شهیدان کړل لدې پرته نورې داسې ډیر ترخې پیښې را منځ ته شوی یواځې له څلویښتو زرو زیات افغانان په جیلونو کې تری تم ورك شوي او ژوندي تر خاورو لاندې شوي دي .

خو په خوست کې نیول شوي عسکر او ملیشه باید دالله تعالی په دربار کې شکر ادا کړي چې دوی داسې مجاهدینو ته په لاس ورغلل چې دوی ته یې بیا هم دتیرو اعمالو عفوه اعلان کړه .

عزتمندو ورونو ! په خوست کې له ۱۷۰۰ تنو څخه زیات عسکر زموږ مجاهدینو ژوندي نیولي چې یو شمیر یې لدې مخکې دبیلابیلو مناسبتونو په اساس خوشې شوي دي ځینې دعیدونو او ځینې هم په بیلابیلو نورو مناسبتونو خوشې شوي او اوس دادی له زرو تنو څخه زیات عسکر او ملیشه خوشې کیږي موږ به انشاالله دافسرانو په باره کې هم یو فکر وکړو او په دې رابطه به هم یوه سمه فیصله اعلان کړو .

دغه عسکر او ملیشه چې دخومره لوی جرم مرتکب ګرځیدلی وو او دمسلمانانو دوینو تویولو له امله لوړو رتبو ته رسیدلی او مادي امتیازات یې ګټلي دي مجاهدینو ورڅخه په هیڅ دول انتقام وانه خیست اوعفوه یې ورته وکړه او په همغه سختو او جذباتي حالاتو کې یې ورسره حسن سلوك وکړ اوله یوې مخې یې معاف کړل اوبیا یې دلسو میاشتو لپاره ځکه وساتل چې اسلامي تربیه ورکړی داسلام له احکامو یې خبر کړي واقعیتونه ورته وښیي او له حقایقو سره یې اشنا کړي .

له همدې ځایه وه چې دوی دسر په سترګو ولیدل چې دمجاهدینو په سنګرونو کې نه کوم امریکایی شته نه چینایی اونه هم غرب او پاکستاني بلکې دجګړې قیادت او قومانده خپله دمجاهدینو په لاس کې ده نه دبل چاپه لاس کې
عزتمندو موږ کولی شوای چې لدوی څخه انتقام واخلو که موږ داسې کړي وای یو به هم ژوندی نه و پاتې ، خو موږ له دوی نه مجاهدین او افغانان جوړ کړل مسلمانان مو تربیه کړل ، دوی هم پخپل وار ډیره ښه قربانی ورکړه څه یې چې له لاسه پوره او زده وو هغه یې ترسره کړل لدوی څخه ځینې دملحد دښمن دوحشیانه بمباری او سکډ ویشتنی له امله زخیمان او شهیدان هم شول ، پدې توګه دوی له مجاهدینو سره په خپل وخت کې ښه همکاری وکړه موږ له دوی نه ممنون او مشکور یو چې دوی ښه خدمتونه ترسره کړیدي .

عزتمندو ورونو !
دوی ته یوه عفوه دخوست دفتحې په وخت کې شویوه چې نه به وژل کیږي اویوه عفوه اوس ورته کیږي مور اوس دوی ته یو سند ورکوو او ددوی دخدمت تائید کوو دوی له موږ سره بندیان نه وو بلکې له موږ سره یې لکه دمجاهدینو وخت تیر کړي خدمت یې کړی دمجاهدینو طرف یې نیکبختي ګڼلې او په

تیرو اعمالو یی پښیمانی ښکاره کړیده .

خو لدوی څخه زما هیله داده چی بیا دملحد دښمن لیکو ته ور ننشی که خدای مکړه داسی وشول اوبیا پر دوی زموږ لاس بر شو نو هرومرو به دوی ته جزا ورکړی شی دپیغمبر (ص) په حضور کی هم چی چاتوبه ایستلی پیغمبر (ص) هغوی عفوه کړی خو چی ځینی یی بیرته دکفر خواته اوښتیدی بیا یی هغوی ندی عفوه کړی او واجب القتل یی گڼلی دی .

اوس چی په خوست کی نیول شوی عسکر او ملیشه خلاصیږی داتعهد تری اخستل کیږی چی بیرته به کفارو ته نه ورځی که داسی یی وکړل نو په اخرت کی به الله تعالی سخته جزا ورکوی او په دنیا کی به هم له رسوایی سره مخامخ کیږی بیا باید دوی دعفوی توقع ونلری موږ دوی ته بشپړه ازادی اعلانوو او واك ورکوو چی که کورونو ته ځی او که دجهاد لپاره په غونډونو کی پاتی کیږی پدی صورت کی کوم حقوق چی مجاهدینو ته ورکول کیږی دوی به هم له هغی څخه برخمن وی زموږ له طرفه دوی ته اجازه ده چی ځی او که پاتی کیږی خو پدغه وعده به هرو مروه وفا کوی چی بیا به ملحد حکومت – گلم جم او رشید دوستم ته نه ورځی .

اوس چی دکمونیزم بت هم نسکور شوی او دنجیب رژیم هم متزلزل دی او دمرگ په پوله ولاړ دی نو دوی باید دغه تعهد تکرار کړی چی کفر ته به نه ورځی ځوك چی دا تعهد تجدید کوی لاسونه باید او چت کړی .

(پدی وخت کی ټولو خپل لاسونه اوچت کړل او دتکبیر ناری یی پورته او اسلامی شعارونه یی ورکړل) .

ورونو !

داخبره زه ددی لپاره تاسی ته کوم چی تاسی ته الله تعالی ډیر ستر نعمت درپه برخه کړ یو خو داچی ژوندی یی وساتلی او دهدایت په لار کی روان کړی تاسی به په جگړه کی وژل شویو افرادو دحال لیدلی وی چی څه بد حال یی وو .

تاسی هم پخپل وار ښه امتحان وکړ صبر مو وکړ او دادی داسلام په رڼا کی الله تعالی کامله ازادی در په برخه کړه.

تاسی پخپلو سترگود ملحدینو او کفارو ناوړه اعمالو او فجایع هم لیدلی او اوس مو دادی دمجاهدینو وضعه هم لەنږدی څخه ولیدله اوس پخپله قضاوت کولی شی چی حق کوم او باطل کوم دی .

ورونو !

تاسی ډیر خدمتونه کړی او تکلیفونه مو گاللی دی کیدی شی کوم مجاهد تاسی ته یوه نیمه ترخه خبره او سنخ برخورد در سره کړی وی خو دا زموږ نظر او داسلام حکم ندی بلکی دهغه شخص غلطی او خطایی ده او دهغه دعلم دکمزوری له امله واقع شوی ده .

هیله ده تاسی به پدی نه وی زهیر شوی .

ورونو زه یو ځل بیا تکراروم چی تاسی ازاد یاست خو دا تعهد به تجدید کوی چی بیا به کفر ته نه ورځی که له موږ سره په خپله خوښه پاتی کیږی یاله بل جهادی تنظیم او گروپ سره پاتی کیږی تاسی ته اجازه ده موږ درسره

مرسته کوو.
په هغه وخت کې چې تاسې نیول شوې یې کومې پیښنې چې له تاسې سره وې دهغو لستونه موجود دي هغه به له اسنادو سره بیرته در وسپارل شي دهرچاپیسې چې امانت ایښودل شوي دهغو لستونه موجود دي ټولو ته به بیرته ورکړې شي.

تاسې هر یوه ته . . ٢ کلداري یا . . . . ١ افغاني موږ دیوې ورځې تحفې په توګه درکوو که څه هم ستاسې حق ډیر دی خو زموږ لاس ډیر تنګ دی .

تر هغې چې تاسې خپلو سیمو ته دتلو امکانات پیدا کوي زموږ دهر مرکز او دفتر دروازې ستاسې پرمخ خلاصې دي او زموږ میلمانه یاست ستاسې دیر خپلوان به پیښور او یو ځای او بل ځای کې موجود دي ترهغې چې له دوی سره مونږ وي لیدلی باید پخپل سر خپلو سیمو ته ولاړ نشې ځکه ستاسې خپلوانو له موږ څخه ددې غوښتنه کړې ده. نور مو په لوی او توانا خدای سپارم

واخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین

دحقاني صاحب له وینا وروسته په عسکر او ملیشو داسناد وویشل پیل شول ددوی داسنادو له . . ٢ کلدارو ، یو جوړه جامو یوه ورین څادر ، یو جوړه څپلیو اویوه واسکټ سره ورکړل شول .

په سند کې لیکل شوي دغه پوځیان چې دخوست په ویاړمنه فتحه کې دالحاج حقاني دمجاهدینو له خوا نیول شوي له لس میاشتې خدمت او تربیې وروسته ورته دهغوی دصادقانه خدمت له امله دا سند ورکول کیږي هیله ده مجاهدین ورته کوم تکلیف پیدا نکړي او لازمه مرسته ورسره وکړي.

عسکرو او ملیشو کله چې دحقاني صاحب له خوا سندونه او نقد او جنس ترلاسه کول د خوښیو په یوه ناپایه سمندر کې یې دمجاهدینو دمهربانیو او شفقتونو په وړاندې دشکران او امتنان مراتب څرګندول او په موټرو کې میرامشاه ته وړل کیدل .

کتونکي او مبصرین وایي دنړۍ دجنګونو په تاریخ کې دالومړنی ځل دی چې په دومره ګن شمیر جنګي اسیران بیله کومې سیاسي سودا بازي خوشې کیږي دایقیناً دخوست فاتح الحاج حقاني یو داسې سیاسي بریالیتوب ګڼلی شي چې دمجاهدینو موقف په نړیواله سویه روښانه او پیاوړی کوي .

دمحفل په پای کې دبي ، بي ، سي نماینده حامد علمي او دجنګ او تکبیر استازي سلطان صدیقي دخوست له فاتح سره لنډې مرکې هم وکړې چې موږ به یې یوه برخه دلته خپروو

الحاج حقاني ددغه اسیرانو دخوشې کیدو دڅرنګوالي په هکله دخبریال دپوښتنې په ځواب کې وویل :

دخوست دفتحې په ابتداً کې له خوست څخه دوه قسمه خلک راوتل یوه ډله دکډو خاوندان وو ، بله ډله پوځي عسکر او صاحب منصب وو چې کډې نه وې ورسره .

هغه ډلې ته چې کډې او فامیلونه ور سره وو موږ په اوله ورځ اجازه ورکړه ، چې خپلو کورونو ولاړ شي اوخپل فامیلو ته چې چیرته غواړي ، په داخل کې یاپه خارج کې (پاکستان کې) ځای پر ځای کړي البته داخلك موله تعهداتو او ضمانت وروسته خوشې کړل او ددوی مراقبت او نګراني دمجاهدینو له خوا کیدله .

بله ډله خلك هغه وو چې پوځي صاحب منصبان وو ، کډې او فامیلونه ورسره نه وو چې ددې خلکو ټول شمیر په ابتداً کې چې موږ له ټولو تنظیمونو څخه احصائیه اخیستې تقریبا تر (. . ٣) تنه زیات اوددوی اعظمه برخه یعنې تر . . ٢ نه زیات صاحب منصب زموږ سره وو چې اوس هم زموږ سره شته ، او ددې دوه سوه صاحب منصبانو سره ټول تقریبا . . ١٧ تنه عسکر ، زموږ سره وو چې لدې ډلې نه یو شمیر په اولو ورځو کې په تیښته بریالي شول ، ځکه دوی موږ بندیخانو ته نه وو ننه ایستلي ، یوازې تر مراقبت لاندې وو ، اویو شمیر نور

هم په مختلفو وختونو کې دمجاهدینو له خوا نه عفوه شوی اوبو شمیر نورهم دخپلو خپلوانو دتضمین او سفارش په وسیله خوشی کړای شوی اواوس تقریبا زر کسه دغه عسکر چې ستاسی مخې ته حاضر دي ، دوی ته اوس کارتونه او ترخیصونه برابر شوی ، چې دوی لس میاشتی له موږ سره دلته دجهاد په سنگر کې دمیلمنو په شان تیر کړی ما دوی ته ستاسی په مخ کې څو خبری وکړی او څلور پنځه مهم ټکی می ورته ذکر کړل یو می داور ته وویل تاسی چې له موږ سره دومره وخت تیر کړ دالس میاشتی موږچې تیری کړی موږ ستاسی داوخت دبندیخانې په حساب نه بولو ، تاسی زموږ میلمانه وی ، تاسی دجهاد په سنگرونو کې دجهاد لپاره خدمت کړی .موږ ددینه ډیر متشکریو ممنون یو تاسو په ډیر اخلاص او صداقت کار کړی ، نوله همدی وجې نه مو ستاسی په ترخیص کې دخدمت مرحله لیکلی نه دبندیتوب دوره ، نو موږ دلته تاسی ته زیری درکوو چې تاسی په مخکنیو اعمالونه نیول کیږی . دهغه اعمالو له محاکمې نه تاسی عفوه شوی او تردی وروسته له تاسی نه تعهد اخیستل کیږی چې بیا به دملحد حکومت صفونو کې نه ور گډیږی ، اوکه بیا چیری دمجاهدینو په لاس ورغلی اوددی تصدیق وشو چې تاسی بیا ملحد حکومت ته ورغلی یی نو بیا به دوباره تاسی نه عفوه کیږی .

بل مهم ټکی چې ما هغوی ته وویلو هغه داوو چې اوس تاسو ددی ترخیص پاڼی له ترلاسه کولو وروسته چې خوشی شوی ، نو خپل اختیار لری چې دلته دمجاهدینو په مرکزونو کی پاتی کیږی ، یا دنورو تنظیمونو له مجاهدینو سره یو ځای کیږی ، یاخپلو کورونو ته ځی ، نو دا ستاسو خپله خوښه ده ، اوکه دلته زموږ سره ستاسی خوښه وی چې دمجاهد په صفت پاتی شی ، دلته چې مجاهد کوم تنخواه یا معاش ترلاسه کوی له هغې نه به تاسی هم برخورداره وی .

الحاج حقانی دیوی بلی پوښتنې په ځواب کې په خوست کې دنیول شوو او تسلیم شویو صاحب منصبانو دسرنوشت په هکله داسی وویل :

دغه صاحب منصبان له محاکمې نه عفوه شوی دی دوی لا وسله په ځمکه نه وه ایښې چې موږ ورته دعفوی اعلان کړی او ویلی مو وو چې که دوی وسله په ځمکه کیږدی او دملحد حکومت له خدمت نه لاس واخلی نو دهغوی پخوانی گناوی به وبښل شی اوپه پخوانی گناه به نه محاکمه کیږی .

حقانی صاحب همدا راز وویل :

دکابل ملحد رژیم صاحب منصبان ډیر تشویقوی اوپدی ترتیب دهغوی څخه دخپلو صفونو دتقویې لپاره کار اخلی ، تر څو هغوی دمجاهدینو پر ضد استعمال کړی ، نو په همدی وجه دغه دخوست صاحب منصبان به تر یوه وخته تر مراقبت لاندی وی کله چې دا مرحله تیره شی ، یا دا احتمال ورك شی یا دهغوی کډی او خپلوان دی خواته راشی اویا دکابل رژیم له منځه لاړ شی نو دغه صاحب منصبان به خوشی کړای شی .

حقانی صاحب زیاته کړه :

موږ نن خپل قوماندان راغوښتی چې دنیول شویو صاحب منصبانو دسرنوشت په باره کې سره سلا مشوره وکړو ، پدی هکله به خبری وشی یابه ددی صاحب منصبانو قید تعین شی ، یابه تر یوی نامعلومې مودی پوری په یوه مبهمه فضا کې پاتی وی اویا به ځینی تبادله شی اودځینو که کډی او کورونه راغلل بیا به هغه په ضمانت خوشی شی ، نو نن به پدی ټولو لارو چارو خبری وکړو ، اوبیا به ددوی په هکله یو تصمیم نیول کیږی.

درسول الله صلي الله عليه وسلم دژوندانه لس ورځي

دريم دطايف ورځ

ژباړن : أبو هارون

رسول الله صلى الله عليه وسلم وحي ارام ته پريښود ، پيغمبر (ص) ته دړومبي وحي نه تريوې مودې ځنډ وروسته چي بيا وحي راغله نوور ته وېي فرمايل :

اى په کمپله کې نغښتليه !

پورته شه او وويروه ، او دخپل رب (ج) لويې ياده کړه ...نو رسول الله (ص) سمدستي له ځايه جگ شو ، داځل هغه دوحي په باب څه دوه زړې نه ؤ نور پوهيدلى ؤ چي يوه ډيره ستره ذمه واري يې په اوږو لويدلې ده . . .

اوس هغه (ص) هغه پيغمبر ؤ چي نور و پخوانيو پيغمبرانو يې زيرې ورکړې ؤ هغه څوك چي پخوا نيو اسماني کتابونو يې دراتگ خبر ورکړى ؤ .

او هغه رسول ؤ چي زمانه يې دراتگ منتظره وه .

اوس دخپل رب (ج) له لورى زيرى ورکوونکى اوويرووونکى ټاکل شوى ؤ او بايد دغه حکم يې عملي کړې واى.

نو ځکه پيغمبر (ص) جگ شو او عملاً دخداى (ج) دين ته دبلنې او تبليغ پرډگر ودريد .دخداى (ج) نازولى استازى دخپل دعوت او بلنې په لارکې هيڅ نه درلودل ، يوازې يوڅه يې درلودل هغه اخلاق او لوړ شخصيت ؤ ، صبر ؤ ، ثبات ؤ او پيغمبرى عظمت ؤ .

نوجگ شو په يوه غونډۍ ودريد او قريشوته يې ناره کړه :

اى قريشو !که زه تاسوته ووايم چي ددښمن يو لښکر ددې غونډۍ شاته رارسيدلى دى او غواړي په تاسو يرغل راوړي ، ايا تاسو به زمادا خبره ومنې ؟

ټولو په يوه غږ ځواب ورکړ :

هوکې ! هوکې موږ له تانه تر اوسه پورې دروغ نه دي اوريدلي . ښه نو شاهدي ووايې چي الله يو دى او زه «رسول الله ص» دهغه له لورى تاسو ټولوته رسول راليږل شوى يم.

بس په همدومره ويلو دټولو له ځيرونو دغضب لمبې جگې شوې ، دټولو دغوسې انتها وه خو ابو لهب له قهره بلکل بيحاله شو، او همدغه ؤ هغه سپيڅلي مهالي ، له همدې ځايه داسلام دقافلې مزل پيل شو له لړلړ وقفې وروسته په ډيره تونده داسلام له قافلې سره نوى نوى خلك يوځاى کيدل ، اوداسلام نوى نيالگي وروورو ريښې هم غځولې او ښاخونه يې هم لوئيدل .

په دغه قافله کې دگډون دړومبى والى وياړ حضرت خديجه البكرا «رض» ، حضرت على «رض» ، حضرت ابو بکرصديق او زيد بن حارثه «رض» ته ورپه برخه شويدى . وروسته بيا ډير زر عثمان «رض» بن عفان ، سعد «رض» ابن وقاص ،زبير «رض» بن عوام ،طلحه بن عبيدالله«رض»،عبدالرحمن «رض»بن عوف ، بلال «رض» ، خباب«رض» ، ابن مسعود «رض» ، عمار ر«ض» ياسر «رض» ، بسميه «رض» ،سعد «رض» بن زيد ، فاطمه «رض» بنت خطاب او مصعب «رض» بن عمير غونډى ښاغلى هم ورگړ شول .

هدايت خپل پلټونکي وروغوښتل ، او لوړ و او سپيڅلو ارمانو خاوندانو ورسره غاړه غږې شول ، او ړله ړله دخداى (ج) ددين تربيرغ لاندى

پررسول الله (ص) راتول شول .
دحضرت ارقم «رض» دکور دروازه بیرته شوه اود مشرکانو له جبر اوستم نه دمسلمانانو دړلگی پناه گاه شو ه ، او هلته قریش وپوهیدل چی ددغه کور له خاوندانو سره نرم چلند ددوی سرداری له گواښ سره مخ کوی ، ددوی سرداری او سالاری ته ضر به رسیدلی وه ، ددوی ټپونه نور ناسور گرځیدلی وو ، نوځکه یی نور ددغه قافلی په مخه کی له دښمنی او ستم پرته لاره غوره نکړای شوه . . .
دقریشو سردارانو رسول الله (ص) ته دپاچاهی ، مال اودولت وړاندیزونه وکړل ، خودخدای (ج) استازی چی دځه لپاره ټاکل شوی ؤ په همغه لاره قایم پاتی شو ، اوله ده سره خپل تره ابو طالب هم ودرید اوگرانه میرمن یی حضرت خدیجه الکبرا «رض» هم .
کفار بیاهم په غضب شول ، بیایی هم دغوسی لمبی ژبغراندی شوی خومومنانو ترسرو سکروټو لاندی تر قمچینو لاندی او دراز راز زحمتونو او مصیبتونو په بتی کی د «احد» شعار جاری وساته تردی چی هغه کال هم راغی . . .
هغه دلوبو حادثو کال ، چی «عام الحزن » دغم کال ورته ویلی شی ، هوکی رسول الله (ص) دوه ستر ملاتړ اوملگری له لاسه ورکوی ، خپله محبوبه میرمن خدیجه الکبرا «رض» چی په ټولو رنځونو او دردونو کی له رسول الله (ص) سره ځنگ په ځنگ دریدلی وه او ابو طالب صاحب کاکایی چی سپین روبی ؤ ، اوملاتړیی هم .
هغه کاکا چی دپیغمبر مخی ته ډال ؤ ،هغه ډال هم مات شو اوولوید .
ددوی په وفات دقریشو کافران ډیر زړور شول ، درسول الله (ص) په ازار کی نور هم گړندی شول .
وگوری !داقوم څومره په جهالت کی ډوب ؤ، تردی چی ځنی احمقانو یی پر رسول (ع) دسجدی په وخت کی داوښ «لری » غورځوی . . . فاطمه الزهرا «رض» په ژړا راځی هغه لری کوی او دمبارك پلار ځادر ځنډی او بیا دداړو جهانونو سردار حضرت محمد «ص» په ډیر صبر ، حوصله اومینه پخپلو سپیځلو لاسونو دلور اوښکی پاکوی اوورته وایی :
لوری !مه ویریږه !
خامخا به لوی الله ستا دپلار ساتنه او حمایه کوی . . .
اوبوه ورځ رسول الله (ص) دایمان راوړونکو په لټه کی دسفر تکل وکړ ، هغه (ص) طایف ته دتگ اراده درلوده .
هغه هم عجیبه ورځ وه .
رسول الله (ص) طایف ته سفر وکړ ترڅود «ثقیف» قبیلی ته داسلام نور ورسوی ، که هغوی اسلام راوړی دقریشو مقابلی ته به دمسلمانانو ملاتړوی ، رسول الله (ص) مایوسی اونا امیدی شاته وغورځوله هوکی ولی ؟ ځکه چی هغه خوپیغمبر ؤ اودوی ذمه واری داوه چی دخدای (ج) دین خلکو ته ورسوی ، رسول الله (ص) طایف ته ورسید او دخپل پلان دعملی کولو لپاره یی دطایف دری تنه مشران په نظرکی ونیول ، چی که هغوی مسلمانان شی نو دطایف ټول اوسیدونکی به خامخا ایمان راوړی دادری تنه «عبدیالیل »، مسعود ، او حبیب » نومیدل چی دری واړه ورونه وو او دری واړه ډیر سخت زړی اوبی رحمه وختل .
دالله (ج) رسول (ص) دوی ته ورغی دخدای (ج)دین ته یی راوبلل ، دحق تبلیغ یی ورته وکړ خودا خلك ډیر بیلاری وو ، پر هغوی درسول الله دعوت هیڅ اثر ونه کړ ، هغوی دخدای (ج) له استازی سره نه یوازی دښمنانه چلن وکړ بلکی تردی هم زیات پر هغه یی ملنډی اومسخری پیل کړی ، کوځه ډب او اواره هلکان یی وگومارل ترڅو له رسول الله (ص) سره ډیر بد چلن وکړی...
هغوی له میلمه سره دښه چلن ټول عربی روایات له یاد ووستل او درسول الله (ص) ددعوت په مقابل کی یی ده ته وویل :
«ایا خدای (ج) تر تانه بل غوره څوك نه شو موندلای چی خپل استازی یی راالیږلی وای . . .»
بیا یی غلامان او اوباشان وریسی کړل چی پیغمبر ته کنځلی وکړی او په ډبرویی وولی ، رسول الله (ص) داهرڅه وزغمل ، خو یوازی په یوځه یی طبیعت خراب ؤ چی که دثقیف دقبیلی دغه چال چلند دقریشو خلك واوری نو زړونه به یی یخ شی او دمسلمانانو په ځورونه کی به گړندی شی .

پیغمبر (ص) روان ؤ له شانه داوباشانو ډله ورپسی وه تردی چی یوه باغ ته ننوت ترڅو لږ ارام وکړی ، پښی یی له وینو ډکی وی له پنډیونه یی وینی روانی وی ، دلته دخدای (ج) داستازی زړه راډك شو او سترګی یی اوښلنی شوی ، داددوی دمبارك ژوندانه ترټولو دردناکه ورځ وه ، نن دطایف په فضا کی داوباشو ځوانانو دسروراوخوشحالی چیغی وی ، خو څوك نه پوهیدل چی دوی دخپل سعادت او شرف استازی ځوروللی دی .

رسول الله (ص) په باغ کی یوی ونی «یادیوال »ته ډډه ولګوله دواړه لاسونه یی درب (ج) دربارته پورته کړل او په دوعاشو :

ای زما الله (ج) ! زه ستا حضور ته خپله بی وسی اوبی کسی اودخلکو په نظر کی دخپلی بی قدری شکایت وړاندی کوم .

ای ارحم الراحمین خدایه ! ای دبی وسانو پروردګاره ! ته خو زما رب یی نوماد چاهیلی ته پریږدی !...ایا دکوم بیګانه هیلی ته !اوکه می دښمنانوته سپاری چی بندی می کړی .

چی ته له مانه خفه او ناراضه نه وی ، زه نور دهیڅ څه پروانه لرم که ته زمانه راضی شی داماته هرڅه دی . زه ستا په نور کی پنا غواړم چی تیاری تری تښتی .

زه ستا رضا مندی غواړم . . .طاقت اوتوان بس ستاسره دی ... په داسی دردناك حالت کی هم دخدای (ج) استازی نور شکایت نه لری بس دایی ارزوده چی پروردګار تری راضی وی .

کله چی دبشریت لارښود (ص) باغ ته ننوزی ، دباغ مالك یی وینی دیوه مزدور «عداس » په لاس یووږی انګور وراستوی رسول الله (ص) دمزدور له لاسه انګور اخلی خپل ښی لاس ور اوږدوی او بسم الله وایی غلام چی بسم الله کلمه اوری نوله رسول الله (ص) سره داسی مکالمه کوی :

عداس: په خدای (ج) سوګند چی ددی ځایی اوسیدونکی داسی کلمه نه وایی

رسول الله (ص) :ته دکوم ځای اوسیدونکی او دکوم دین پیرو یی ؟

عداس : زه عیسوی یم دنینوا اوسیدونکی .

رسول الله (ص) : دخدای (ج) دنیك بنده یونس بن متی (ع) دځای اوسیدونکی؟

عداس : ته یونس بن متی (ع) څه پیژنی ؟

رسول الله (ص) : هغه زما وړور دی هغه دخدای (ج) پیغمبر ؤ زه هم دخدای (ج) پیغمبر یم .

ددی کیسی تاریخی روایت ښیی چی عداس له دی وروسته په رسول الله (ص) ورتیت شودهغه تندی ، لاسونه اوپښی یی ښکل کړلی ، دحکمتونو دمالك پریکړه داوه چی دغه نه هیریدونکی ننداره هم دطایف دورځی یو ستر عبرت وګرځوی .

رسول الله (ص) خیال کاوه چی دطایف دریسانو او سردارانو له خوښی او رضایی پرته به څوك ده خواته ورنږدی هم نشی ، نوباید په هره وسیله چی وی باید دغه مشران او سرداران اسلام ته وبلل شی ، خوټول مشران له هغه نه مخ اړوی ، دخدای (ج) درسول په مخالفت راولاړیږی...

ناڅاپه یو مزدور راپورته شی او خپل ټول واك او اختیار رسول الله (ص) ته سپاری اود کایناتو خالق په داسی حال کی چی دطایف ټول ماحول درسول الله پر دښمنی را اوچت شویدی په همدغه شیبه کی یونیك بنده هم رااوچتوی چی له رسول الله (ص) سره غمشریك شی ، هغه شیبه چی ټولو له پیغمبر نه مخ اړولی «عداس » دخدای (ج) پر وحدانیت او درسول الله پر رسالت شاهدی‌وایی.

رسول الله (ص) له طایف نه بیرته مکی ته راستون شو ، هلته دقریشو ظلم زور انتهاته رسیدلی ؤ خونور پیغمبر (ص) یو ستر حقیقت درك کړی ؤ ، هغه پوهیده چی دامید وړانګی دمایوسیو په تیارو کی پټی دی چی ناڅاپه وځلیږی او تری راووزی ، او ددغو ستمونو او ظلمونو پایله دالهی دین نصرت او پر اختیاده ،داد خدای (ج) سنت دی او خامخا به داسی کیږی .داوه دطایف دورځی پیښه چی فخرانسانیت دهغوی دبلنی لپاره ورغلی ؤ ، خو هغوی ددښمنی او جهالت انتهااظهار کړه ، دپیغمبر (ص) په سپیڅلو وینو یی دطایف کوڅی رنګینی کړی او دخپل جهالت مظاهره یی وکړه ...

* اوومه برخه:

کمونیزم یا د تکامل او انسانی فطرت ضد ایډیا

* عبدالوکیل

په سیاسی اړخ کی:

دنړۍ په هره برخه کی چی دکمونستانو په لاس کی سیاسی قدرت لویدلی دپرولتاریا دیکتاتوری او یا دموکراتیکو اصلاحاتو په نوم یی په ټولنه کی دویری ،وحشت او تیری توری وریځی خوری کړی او دبشری ټولنو دنورمال او ګړندی تکاملی تګ لاری په بهیر کی یی بی شمیره خنډونه او نیمګړتیاوی راپیدا کړی دی . دوی دبنیادی اصلاحاتو په نوم دکمونستی استبداد لاندی ولسونو مادی اومعنوی ارزښتونه دنه جبران کیدونکو زیانونو سره مخامخ کړل . په هغو هیوادونوکی چی کمونستان په هغه اویا دغه بڼه سیاسی قدرت ترلاسه کړی دولسونو او ملتونوسیاسی ، اقتصادی،ایډیالوژیکی او فرهنګی ارزښتونه او شتمنی یی دخپل سیاسی قدرت ددایمی ساتلو څخه قربان اود مصیبتونو ، رنځونو ، مادی اومعنوی خواریو دردوونکی فضایی رامنځ ته کړی ده .

دکمونستانو دجلب او جذب طریقی :

کمونستان دجلب او جذب په اړوند دافرادو اخلاق ، شخصیت ، تاریخی سابقه ، جنایت اودی ته ورته هیڅ ډول انسانی ښه اویابد صفتونه په نظر کی نه نیسی بلکی دهدف په ترلاسه کولو کی دهر ډول بدو خصوصیاتو لرونکی انسان څخه کار اخلی .دوی د«لومپن پرولتاریا» (هغه اشخاص چی دغلا ، لوټماری ، چاقوکشی ، قمار،دبی ګناه خلکو وژلو ، فحشااو هر ډول بدو اعمالو دسرته رسوبو په اړوند ژوند کوی) په نوم اشخاص په دی شرط چی دوی له مرام او اهدافو څخه ملاتړ وکړی ، بهترین انقلابیون بولی همدارنګه دوی دهری ټولنی دخلکو خصوصاً ځوانانو دځوانی له احساساتو او دلازمی تجربی دنه درلودلو څخه په بده ګټه اخستلو سره خپل شوم او بشری ضداهداف په مخ بیایی .

کمونستان دقومی ، قبیلوی ، محلی ، ژبی او مذهبی اختلافاتو او تعصباتو شدت ته په لمن وهلو سره دجلب او جذب پروسه پیاوړی کوی . په دی ترتیب سره په ملتونو کی دبی اتفاقی ، ګډوډی او حتی دکورنی انسانی اړیکو دخرابیدو او ویجاړیدو باعث کیږی اوولسونه دورورګلوی ، دوستی ، پرمختګ اوترقی پرځای په دښمنیو ، تضادونو او دبداخلاقی نه علاج کیدونکو رنځونو کی ښکیلوی. همدارنګه دافراطی چپو شعارونو او تبلیغ په واسطه سره دعقدوړک او احساساتی ځوانان دخپلو بشری ضد اعمالو او اهدافو ملاتړ ته تیاروی پر دی برسیره دحیوانیت

جنسی اړیکو څخه ګټه اخستل ددوی لپاره یوه معمولی طریقه ده اودمنفورترینو او فاسد ترینو انسانانو پواسطه سره خپل صفونه ټینګوی . کمونستان دغیر کمونستی دولتونو ټولی هغه کوچنی نیمګړتیاوی چی موجودیت یی په همغه تاریخی او تکاملی پړاوکی حتمی ګڼل کیږی د غرونو په شان لویوی او دهغوی اقتصادی سیاسی او ټولنیزو سستمونو په مقابل کی ناپوه افراد خصوصاً ځوانان چی نسبتاً زر مشتعل کیږی ږغرو وهلو او افراطی عمل ته تحریکوی بالاخره کمونستی ډلی دهر ډول غیر انسانی او غیر اخلاقی لارو چارو څخه کار اخلی خودخپلو شومو اغراضودلاس ته راوړلو څخه ډډه نکوی .

د ۱۹٤۵م کال څخه راپه دی خوا کله چی روسی نړۍ خوره کمونستی امپراتوری په نړۍ کی د نظامی قدرت په بڼه راڅرګنده شوه دخپلو استعماری اهدافو دترلاسه کولو لپاره یی داستعمار نوی او ترټولو خطرناکی څیری «کمونیزم » څخه چی په حقیقت کی دولسونو اوملتونو دمرګ په مثابه ده ،کار اخستل ګرندي کړل.

روسانو اونوروکمونستی ډلو ټپلو دمظلومو او محکومو ولسونو د حقوقو او خپلواکی څخه ددفاع اوپه نړۍ کی دسیاسی ـ اقتصادی خپلواکی ، دموکراسی او ټولنیز عدالت دپیاده کولو غولونکو شعارونو تر نامه لاندی یی په باندینیو هیوادونو کی نفوذ پیل او دهغوی تر تسلط لاندی راوستلو په خاطر یی د ډول ډول لارو چارو څخه دټولو غیر کمونستی نظامونو او دولتی سستمونو پر ضد او داستعمار اوکمونیزم په ګټه فعالیتونوته شدت ورکړ .

روسانو او نورو کمونستی دولتونو دخپلو سفارتونو او په بهرنیو هیوادوکی په اصطلاح فرهنګی مرکزونو ، اقتصادی پروژو او موسسو ترپردی لاندی دتبلیغ جلب اوجذب پروسه پراخه کړه .دوی خصوصاً وروسته پاتی ساتل شویو هیوادونو ته دپه اصطلاح علمی ، تخنیکی او اقتصادی متخصصینو په لیږلو زورواچاوه او هم یی په باندینیو هیوادوکی دپټو پولیسو ، کمونستی ډلو او ګروپونو جوړولو لپاره د کمونستانو دلیږلو بهیر په لویه پیمانه پیل کړ .

همدارنګه کمونستی هیوادونوته یی دبهرنیو غیرکمونستی هیوادونو خصوصاً دوروسته پاتی ساتل شویو هیوادنو ځوانان دعالی تحصیلاتو تر نامه لاندی په پراخه پیمانه بوتلل او دډول ډول لارو څخه یی یاپر کمونیزم شیدا کړل او یا داچی کم ترکمه یی دهغه طرفداران او خوشبین وساتل او یو شمیریی په مستقیم ډول سره داستخباراتی دستګاو همکاری ته تیار کړل . په دی برسیره دکودتاګانو لپاره یی دبعضو هیوادونو دنظامی پرسونل دښوونی او روزنی په نوم په زړه پوری اشخاص او جاسوسان وروزل .په دی ترتیب سره کمونستی دولتونو په بهرنیو غیر کمونستی هیوادونو کی خپلی طرافداری کمونستی ډلی او سازمانونه په مالی او سیاسی ملاتړ سره تقویه او فعالیتونه یی پراخ شول .

په نتیجه کی ددی پر ځای چی بهرنیو هیوادونو ته اقتصادی ، تخنیکی او فرهنګی مرستی ورسوی په هغوی کی خپل اجنټوری او کمونستی فعالیتونه پراخوی او دغه ټولنی دسیاسی ، اقتصادی ، فرهنګی ، ګروپیو ، دکمونستی کودتاګانو دمنځ ته راوستلو ، وحشت ، انسان وژنی او بی امنیتی فضاٌ په تورو لوخړوکی دبربادی او ښکیلاك خواته ورټیل وهی . تر روسی کمونستی استبداد لاندی دختیځی اروپا هیوادونو ، لاوس ، ویتنام ، مغلستان محکومیت او اقتصادی وروسته پاتی والی ، په حبشه ، انګولا ، افغانستان ، کمبودیا . . . کی کورنی جګړی او کور ورانی اودغو هیوادونو دټولو مادی او معنوی ارزښتونو بی ساری ویجاړی او دنړۍ په یو شمیر نورو هیوادونو کی دولسونو مادی اومعنویخواری اووروسته پاتی والی دروسی کمونستی امپراتوری او په مجموع کی دکمونستی ایډیا په

واسطه سره ښکارشوی نمونی دی.

دسیاسی قدرت نیول :

دنولسمی پیړۍ له نیمایی څخه دشلمی پیړۍ تر اوایلو پوری دکمونستانو نظریه دسیاسی قدرت نیولو په اړوند داوه چې دنړۍ پرولتاریا به په عین وخت کی په ټوله نړۍ اویایو شمیر هیوادنوکی سیاسی قدرت تر لاسه کوی او بیابه دروبنایا سیاسی قدرت له لاری پرزیربنا یا دټولنی پر اقتصاد اونورو اړخونو باندی گوزارونه کوی اوکمونستی ټولنه به جوړوی خو عملاً یی امکان پیدانکړ . دوی به داهم ویل چی څرنگه چی دخصوصی مالکیت درلودونکی اشخاص پخپله خو ښه سیاسی او اقتصادی قدرت نه پریږدی پس باید دزور او جبر څخه کار واخستل شی خوپه عین حال کی یی په مسالمت امیز ډول سره هم دسیاسی قدرت نیول نه ردول په داسی حال کی چی دشلمی پیړۍ دنیمایی څخه بیا ترننه پوری یو شمیر کمونستی ډلی په مسالمت امیز ډول سره دسیاسی قدرت نیول ردوی او ممکن یی نه بولی اما یو شمیر نوری کمونستی ډلی یوازی په نظری لحاظ په صلح امیز ډول سره هم دسیاسی قدرت نیول نه ردوی خوپه عمل کی ترهمدی نن پوری دنړۍ په هره برخه کی چی کمونستانو سیاسی قدرت په لاس کی نیولی دبی ساری بی گناه خلکو وژلو او بی دریغه ورانیو څخه پرته یی عملی جامه نه ده اغوستی په دی معنی چی دکمونستی نظریی له پیدایښت څخه بیاترننه پوری چی دنړۍ په کومو برخوکی کمونستی دولتونه په هغه اویا دغه بڼه راڅرگند شویدی نودا نظریه دمحدودو انسانانو له خواپرولسونو باندی په زور او جبر (دپرولتار یادیکتاتوری په نوم بربریت) سره تحمیل او تپل شویده او دغوټولنو ته یی لکه څنگه چی عملاً هم لیدل کیږی نه جبران کیدونکی مادی او معنوی زیانونه اړولی دی .

د۱۹۱۷م کال څخه راپه دی خوا دکمونستانو نظریه دسیاسی قدرت نیولو په اړوند تغیر وکړ او دپخوانی نظریی په مقابل لوری کی یی قرار ونیوه . په نوموړی کال کی لنین اوبلشویکانو دسیاسی قدرت تر لاسه کول په یوه هیواد کی تایداو عملی کولو ته یی اقدام وکړ اود ۱۹۱۷م کال داکتوبر په اوومه نیټه یی دبی شمیره بی گناه خلکو په وژلو سره سیاسی قدرت غصب کړ وروسته په یو شمیر هیوادونو کی دبلشویکانو په مستقیمه نظامی مداخله سره دغه دتکامل او انسانی رواغوښتنو ضدنظریه (کمونیزم) دبی شمیره بی گناه خلکو دوینو په تویولو سره پر ولسونو باندی دیوه دروند بار په توگه تحمیل**شوه** . په واقعیت کی د کمونستانو لپاره دسیاسی قدرت تر لاسه کول کومه ثابته او مشخصه لار نلری . دوی دهری لاری څخه او په هره غیر انسانی طریقه چی وی او دولسونو او ملتونو په زیان هم وی خو دسیاسی اقتدار په نیولوکی موثره تمامه شی پکار اچوی . دمستقیمی نظامی مداخلی او کودتاگانو څخه رانیولی بیا دمهمو سیاسی اشخاصو ترور ، جمعی وژنی ، تهدید او دنوروغیر شریفانه لارو په اړوند سیاسی اقتدار ترلاسه کول په زړه پوری لاری او وسیلی گڼی. خودسیاسی قدرت دترلاسه کولو سره سم ددوی اصلی کرغیړنی او بشری ضد څیری لانوری هم څرگندی او افشاکیږی او ددغو انسان نماځناورانو تر سلطی لاندی ولسونو او ملتونو دماتم ، خواری ، ناامنیتی ، زورونی او وژنی بهیر پیل شی .



پستنه کيږي ځي

عرفان خټك

داغزل دافغانستان دخوست علاقې دفتحې او ازادی په مناسبت دملحدانو دستنیدو دتاثر لاندې رقم کړې شوې دې.

نور دتینګې نه دی رقیبان پستنه کیږی ځي
محفل نه اوس دمینې دښمنان پستنه کیږی ځي
چیرته چی جنګ اوشي دلیلی دخپلولی په سر
هلتــه نــه دپیــو مجنونان پستنه کیږي ځي
نمر ددیدن پورته په اوفق دیار دحــسن شو
کړې دبیلتون او دهجران پستنه کیــږي ځي
وینو دځیګر چی موسپړلي ته هرګلــې اووی
ځکه غوټی ګل شولی خزان پستنه کیږي ځي
شپول ته چې راغلي وو دګډو ماتــیدوپسې
ماتې خولی نن هغه ګیدړان پستنه کیږي ځي
کلك چې غمازې یی کړو له مزې دغیرت زمونږ
او س ځنګه حیصارشي غمازان پستنه کیږي ځي
هر ځای کښې چی هر کله ځوك هم مونږ ته پتون وهی
هسی به دمال او سـر پــه زیـان پستنه کیږي ځي
اکوړه خټك ۳۰ اپریل ۱۹۹۰

پو ښتنه مه کوه

ملا اسدالله« حنیفی »

هرڅه ترینــه ځــار کړه داحسان پوښتنه مه کوه
ســر او مــال پری ورکــړه دجانان پوښتنه مه کوه
هر یو او رســـو ل کړی څه دعشق څه دباروتوارور
زړه ځیــګر کباب کــړه دنیــران پوښتنه مه کوه
ځان کــړم کــړم کــړه داســلام پــه نیغه لاره کی
تیــر چــی شوی له ځانه بیا دځان پوښتنه مه کوه
تــل لکــه بـلـبل ثنـا صفـت دخپل معبود کوه
زړه دی چــی سیقل شوه دشیطان پوښتنه مه کوه
زړه دحنــظله پــه څیــر تپاند کړه دمیدان په لور
حــق تــه بــه رسیــږی دمیــدان پوښتنه مه کوه
ځــان سپــاره تقــدیـرته تزلزل له زړه نه لری کړه
بیــا دکــړاوونــو دجــهان پــوښتنه مــه کوه
تینــګی کــړه منګولی دالله ددین په مراندو کی
حی بــه خپــل هــدف ته دتوپان پوښتنه مه کوه
وصــل بــه شــی حق ته که روان په سمه لاره وی
تل به خــوښ خندان یی دخفګان پوښتنه مه کوه
هرڅه به فنا شی یــو دخدای لــه ذاتــه ماسیوا
پربرده ددنیا دســوداو زیــان پــوښتنه مه کوه
واوره «حنیــفی » تــل ســرنــګون دیو الله اوسه
ځــه هــدف تــه ځــه دایــن وان پوښتنه مه کوه

مجاهده وروره

فدامحمد نومیر

ســــره پو ځونه دهیوادنه دی بهر کړه
غلیـــمان دی داسـلام په ځان ابتر کړه
میـــړنـــی داولســو مینځ کی یاد یږی
چی بیـــدار دی ملـتونـــه لـرو بـــرکړه
خپــلواکـــی جذبه دی پوکړه پرگنو کی
اروپـــا دی حـــرکـت تـــه برابر کړه
پـــه قـــدم دی اولســونـــه قـــدم اخلی
پـــه ایمـــان دی تـوپ وټانك واړه زبرکړه
دبـــری پـــړاوتـــه ځـــان دی رسـولی
سره بلادی کړه چپـه تـــورته نظـــر کړه

۲۲ -لیندی -۱۳٦۸کویته ، بلوچستان

خدایا کرمي بهر مسلـمان بکن
رحم برملت بیچاره افغـــان بکن
شفقت ولطف بااین قوم پریشان بکن
نظر وفضل بااین مردم حـــیران بکن

«ذهین بابري»

خوښه ده

دوطن غیږ کي اوسیدنه دهرچا خوښه ده
چي مي پکي خاپوړي کړي دازما خوښه ده
چي یي رنځور دغمه پروت یمه دبل په کلي
خورمه سوگند چي آزادي مي په رښتیا خوښه ده
دلته چي شپې تیروو موږ لکه ژوبن کي چي یو
تل اوسیدنه دځاورو سره دچا خوښه ده
چي مو پلرونو توره کړي موږه هم وکړله
چي وروسته شوي ور نه نه یو زما داخوښه ده
چي جنگ جگړي په کي شروع دي اولا زیاته به شي
چي آرامي باندي راځي زموږ غوغا خوښه ده
چي غلامي یي کړي نه ده او همیش آزاد وي
داپیرزوینه ددښمن کله په تا خوښه ده

عاصم ثمر خیلي

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

څومره هستي چي مو لرله ټوله خاوري شوله
څه په یو نوم او په بل نوم دځمکي لاندي شوله
څه چي دنیا کي وو موجود هغه زموږ سره وو
اوس چي یي گورو هغه نشته ټوله مړاوي شوله

دالجزایر خلکو !

ای ... دالجزایر خلکو !
دعربی ، فرانسوی اوبربری
ژبووېونکو ، دغنمو کرونکو دزیتون
څخه قوت حاصلوونکو دخوړوانګورو
څخه خوند اخیستونکو !
دمیږو خروونکو ، دلوخو په کوروکی
اوسیدونکو ...فابریکو ته دژوند
وربخښوونکو ، په پخوودانیو کی
اوسیدونکو دخرماوو خوړونکو دکوچ
ژوند تیروونکو .. په پراخه دښتو اوګڼو
ښارو کی وخت تیروونکو !
که مسافی ته وګورو نو تاسی زموږ
څخه دومره لری یاست چی که زموږ
قافله پخپلو پښو دروانه شی نو
تاسی ته په دررسیدو درسیدوکی به
زموږ کوچنیان ځوانان شی او ځوانان
زاړه .. موږ به په منهو هم ستاسی
کومك ته درونه رسیږو ، ستاسی په
کور کی په لګیدلی اور به اوبه وانه
چولی شو او ستاسی دطوفان مخی ته
به دیوال ونه درولی شو ... او رښتیا
هم .
دشمالی افریقا خلکو ته به دجنوبی
اسیا استوګن څنګه وروړسیږی ؟
خوددغی ټولی اوږدی مسافی او
دجغرافیایی ایښوو مجبوریتونو سره
سره بیاهم موږ تاسی په ږاګه وینو ،
زموږ زړونه ستاسی لپاره ټوپونه وهی
، زموږ ژبی ستاسی سره یو ځای
دتکبیر ناری پورته کوی ، زموږ لاسونه
ستاسی لپاره پورته دی ، زموږ
غازیان ستاسی لپاره بی صبره دی ،
زموږ غازیان ستاسی په پلوداقدام
پورته کوونکی دی ، زموږ شهیدان

دسید شهریار ژباړه

ستاسی دشهیدانو سره یو ځای په
موسکا دی ، سنکاره ، سنکاري چي
زموږ او ستاسی وینه یوه ده ، منزل
مو یودی او مرام مو یودی تاسی موږ
دځانه سره یوځای ناست وینو ، تاسی
زموږ دقافلی ملګری یاست او موږ
ستاسی : تاسی دالله تعالی (ج) کلمه
په داسی یوه عالي شان سره پورته
کړه چي په ګرده نړی کی پورته شوه ،
دنړی دهر ګوټ نه سنکاری ،دښمن هم
ستاسی په لور ګوری او دوستان هم
ستاسی زیار تونه کوی تاسی
دښمنانانو په زړونو او سترګو کی
ازغی یاست ، په تل ابیب کی زلزلی
کوږی دی اوپه واشنګتن یوه یوه ثانیه
سخته ده نړی ته دجمهوریت درس
ورکوونکی ستاسی لپاره دجمهوریت
تقاضا نه کوی ، ستاسی درایو
احترام نه کوی ، او ستاسی
دانتخاباتو د نتیجو په منلو زورنه
اچوی ، هغوی ته په بیجنګ کی
دجمهوریت غوښتنه ډیره په زړه پوری
سنکاری ، په شوروی کی خوښی
دجمهوریت دراوستوهلی ځلی تاسی
پخپله ولیدی .
په اسلامی هیوادوکی دانسانی حقوقو
ډنډوری غږوی ...
خو ستاسی په باب یی خولی ګونګی
دی ، ستاسی انتخاب شوی مشران
نیول کیږی خودوی غلی دی . ستاسی
انسانی حقوق دپوځیانو تر پښو
لاندی دی ، ستاسی مخه نیول کیږی

ستاسی اساسی قانون دړی وړی
کیږی خو دجمهوریت ټیکه داران
خاموشه دی چوپه خوله دی سوږ هم
نه کوي .
ستاسی په مخه کی خنډ دریدلی خو
موږ هم ستاسی په خیر مطمئن یو
چی ستاسی مخه نشی نیولی
راتلونکی ستاسی روښانه دی ستاسی
په لاره کی دکوهیانو وسیتونکی به
پخپله دغو کوهیانو ته ورغورځیږی که
تاسی واك ته رسیدی نو دغه عناصر
ستاسی دپښو زنځیرونه ګرځیدل
تاسو ته یی دتبدیلیو اجازه نه درکوله
، داساسی قانون ماتوونکی او
دیموکراسی خوښوونکی ستاسی
کامیابی په انقلاب بدلوی ، ستاسی
دجمهوری حکومت مخه نیول انقلاب ته
اواز ورکول دی هو ! اسلامي انقلاب
خپل ځان ته پخپله دام غوړوی دوی به
انشاءالله پخپله په دغه غوړولی دام
کی نښلی دنن ښکاری سباته پخپله
ښکار کیږی ، دوی ته به کامیابی ورپه
برخه نشی .
کامیابی به ستاسی قدمونه ښکلوی
دکامرانی ګل په لاس ستاسی لاره
څاری الجزایر به داسلام قلا ګرځی
ټول مسلمانان به اخر هم دغه منزل ته
رسیږی دمسلمانانو به یونوی تاریخ
لیکل کیږی یوه نوی نړی به پیدا کیږی
یوه نوی نړی به بیداریږی او یو نوی
نظام به تشکیلیږی .
واوری ، واوری ... دهمدغو قدمونو
ټپاری اوریدلی کیږی لږ غوږ ورته
کیدي ...

جهان در ماههای عقرب و قوس

جمیل الرحمن «سائل»

اول عقرب : بعد از سفر وزیر خارجه روسیه شوروی بوریس پینکن به اسرائیل ، ان کشور سفارت خودرادر سرزمین های اشغالی افتتاح نمود .

۳-عقرب : حکومت سعودی خواهان از سرگرفتن روابط دیپلوماسی با سازمان ازادیبخش فلسطین گردید چنانچه وزیر خارجه کشور سعودی سعودالفیصل بافاروق الشرع در دمشق روی همین موضوع ملاقات نمود.

۵-عقرب : بعد از اجرای انتخابات در جمهوری ترکمنستان تحت سلطه «شوروی » مردم ان کشور به اکثریت قاطع اراء فیصله نمودند تا ازادی واستقلال سیاسی خویش را بدست اورند ، چنانچه بعد از رای شماری ان کشور استقلال خود را از ماسکو اعلان نمود.

٦-عقرب : رهبران دو کشور روسیه وامریکا «گورباچوف و جورج بش » یك رو ز قبل از شروع کنفرانس صلح خاور میانه که قرار است درمادرید پایتخت اسپانیا دایرگردد باهم ملاقات نموده ودرباره چگونگی کنفرانس صحبت نمودند .

۷-عقرب : پولیس حکومت هند ، صدراعظم سابق ان کشور وی پی سنگ را توقیف نمود ، وی باعده ای از طرفدارانش روانه ایودیا بود ومیخواست مانع اعمار مندر درعوض مسجد بابری گردد، که از طرف مقامات امنیتی کشورش به اتهام تشنج دستگیر گردید .

۸-عقرب : کنفرانس صلح خاور میانه امروز در مادرید تشکیل گردید در طول ٤٥ سال اخیر این اولین بار است که نمایندگان یهود وعرب در یك کنفرانس اشتراك می ورزند .

۱۰-عقرب :مرحله اولی کنفرانس صلح خاور میانه در مادرید بدون نتیجه به پایان رسید ، وزرای خارجه روسیه وامریکا اظهار داشتند دور دوم این مذاکرات عنقریب دایر خواهد گردید.

پارلمان روسیه «شوروی »به اکثریت اراءپروگرام اقتصادی بوریس یلتسن را به تصویب رسانید این پروگرام برنامه اقتصاد ازادرا دارامی باشد

۱۳-عقرب : محمد ظاهرپادشاه سابق افغانستان دریك سوء قصدمجروح گردید ، وی توسط یکنفر که خودرا خبرنگار معرفی نموده بخاطر مصاحبه داخل منزل ظاهرخان شده بود ، باضرب چاقو مجروح گردید ، شخص مذکور اکنون در نزد پولیس است ودارای پاسپورت پرتگالی میباشد .

۱٤-عقرب : محترم مجددی در مورد سوء قصد علیه

منبع الجهاد– دریم کال ، اوومه ، اتمه گڼه د۱۳۷۰ هـ ش مرغومي ، سلواغه

ظاهرخان تاثرشدید خودرا اظهارنموده گفت :این حمله را محکوم مینمایم مجددی ظاهرخان را طرفدارجهاد دانسته وحمله بروی را خلاف منافع جهاد واستقلال افغانستان خواند .
محترم مولوی خالص حمله برظاهرخان راتوهین به ملت افغان معرفی نمود وگفت :
ماخواهان بقدرت رسیدن دوباره ظاهرخان نیستیم ولی این راهم نمیخواهیم که بروی حمله صورت گیرد ، وی ازحکومت روم خواست تا حمله اور را بجزاء اعمالش برساند .
محترم جبرئیلی گفت : ظاهرخان شخص مخلص نبود ، تهداب کمونیزم در وقت وی گذاشته شد. همچنان او افزود ما تروریزم را رد مینمایم ولی ظاهرخان وامثال انها باید در دادگاه اسلامی محاکمه شوند .
محترم نواب سلیم بنمایندگی از حزب اسلامی گفت :
حمله بر ظاهرخان توطئه روس وامریکامی باشد انها میخواهند بدین شکل ظاهرخان را نزد مردم محبوب ساخته وحمایت مردم را برایش جلب نمایند .
نجیب رئیس رژیم مزدور عمل سوءقصد علیه ظاهرخان راکار مجاهدین افغان دانسته وپیام تهنیت خودرا به روم نیز مخابره نموده است .
۱۵–عقرب : اخرین چاه نفت کویت ، ازجمله چاههای که از طرف قوای عراقی مورد حریق واقع گردیده بود خاموش گردانیده شد ، کویت اعلان نموده بود که «۷۰۰» چاه نفت ان کشور در زمان جنگ حریق گردیده بود ، که در خاموش ساختن ان ۲۷ تیم از۱۷ دولت اشتراك داشتند ، طبق احصائیه مبلغ یك ملیارد وپنجصد ملیون دالر در دفع حریق ان بمصرف رسیده است .
۱٦–عقرب : خلاف سالهای گذشته در سالگرد انقلاب بلشویکی روسیه امسال در میدان سرخ ماسکو عکسهای لینن ومارش عسکری دیده نمی شد ، گرچه عدهء قلیلی از کمونست های رادیکال به یاد بود سالهای قبل مظاهره نمودند ولی دراکثر شهرها مردم با اجرای مظاهرات انقلاب بلشویکی راتقبیح نمودند .

۱۷–عقرب: یك هیئت مجاهدین بریاست مجترم استاد ربانی اسلام اباد رابقصد سعودی ترك نموده تااز ان طریق وارد ماسکو گردند ربانی در اسلام اباد ضمن یك کنفرانس مطبوعاتی گفت:
جنگ افغانستان ازماسکو شروع شده ودر همانجا ممکن است که خاتمه هم بیابد .
سه تنظیم مجاهدین حزب اسلامی افغانستان ، اتحاد اسلامی افغانستان وحزب اسلامی محترم مولوی خالص درین هئیت اشتراك نورزیده اند .
مجترم حکمتیار گفت : ضرورت مذاکره باروسها رامیداند ولی باید قبلاً اجندای مطالب درست شده وموقف همه منظمات متحد باشد .
محترم مولوی خالص گفت : وقتی در افغانستان جنگ جریان داشته باشد وروسهابا ما درجنگ باشند در چنین شرائطی رفتن به روسیه کار نادرست واشتباه است ، وی افزود ازین کار یك هدف روسها که همانا تشدید اختلافات است بر اورده خواهد شد. وروسها درین ملاقات قرار داد های خود راکه بارژیم مزدور نموده اند بالای این هئیت نیز به امضا خواهند رسانید .
محترم استاد سیاف نیز رفتن به روسیه را خیانت به جهاد وارمان شهداء دانست گفت:
مجاهدین تاالکنون اماده مذاکره باروسها نیستند زیرا روسها با رژیم کابل کمك همه جانبه می نمایند و حاضر نیستند که قدرت به مستحقین ان سپرده شود ، پس مذاکره با انها از نظر اسلام مردود است .
۱۹– عقرب : هئیت مجاهدین بریاست مجترم استاد ربانی وارد ماسکو گردید، تا بامقامات روسی در مورد توقیف کمك انها به رژیم کابل ، و رهایی اسرامذاکره نماید .
حکومت ترکیه استقلال جمهوری اذربایجان را برسمیت شناخت این مطلب را حکومت جدید ترکیه ابراز داشته است .
۲۳–عقرب : وزیر خارجه روسیه بوریس پینکن گفته است که مایکبار در امور داخلی افغانستان مداخله نمودیم

شرمنده هستیم ودست های خودرا در اتش داخل نمودیم بعد ازین درامور داخلی افغانستان هیچ نوع مداخله نخواهیم کرد. و اکنون نمیتوانیم نجیب را عزل کنیم .
نورو دوم سهانوك پادشاه سابق کمبودیا بعد از سیزده سال دوری از وطنش امروز وارد پنمپن گردید وهزاران نفر ازطرفدارانش ازوی استقبال نمودند قراراست وی ریاست شورای عالی ملی کشور خودارا که از چهار گروه تشکیل شده است بدست گیرد .
۲٤-عقرب : حکومت امریکا لیبیا را مسؤل منفجر ساختن طیاره پان امریکن دانسته است ، ابتداء امریکا حکومت ایران وسازمان ازادیبخش فلسطین رامسؤل این کار می دانست ولی حالا لیبیا مورد اتهام قرار گرفته است
اکنون حمله برلیبیا بعید از امکان نخواهد بود . ازطرفی حکومت بریتانیا ازمقامات لیبیا خواسته است که دو نفر متهم درین واقعه را به مقامات امریکایی تسلیم نماید .
قابل یاداوری است که بتاریخ ۲۱ دسمبر سال ۱۹۸۸ م طیاره «پان امریکن » در جزائر لاکربی اسکاتلند سقوط نمود وهمه سرنشینان ان که ۲۷۰ نفر بودند بقتل رسیدند .
حکومت لیبیا طی یك اعلامیه ای هرگونه مداخله کشور ش در سقوط دادن طیاره امریکایی را رد نموده است و ازامریکاوانگلیس تقاضا نموده که موضوع را به محکمه بکشانند .
۲٥-عقرب : بعد از مذاکرات هئیت مجاهدین ومقامات روسی اعلان شده که روسها موافقه نموده اند در افغانستان حکومت معتدل اسلامی تشکیل گردیده ودر ظرف دوسال انتخابات ازاد صورت گیرد ، درین اعلامیه مداخله روسها در افغانستان تقبیح گردیده وروسها خواهان رهایی همه اسرای روسی گردیده اند . چنانچه جانب روسی اطمینان داده است که کمك های نظامی خود بحکومت کابل را قطع خواهند کرد ، همچنان انها موافقه نموده اند که بخاطر قطع ارسال اسلحه ونظارت بر ان کمسیونی تشکیل گردد ونیز جمله قرارداد های که بعد از کودتای ثور با ماسکو صورت گرفته مربوط به حکومت اینده دانسته شده که قبول ورد انرا بعهده خواهد داشت .
۲٦-عقرب: رژیم مزدور کابل طی یك بیانیه ای ازمذاکرات ماسکو استقبال نمود وگفت حکومت انتقالی صرف طبق طرح موسسه ملل متحد تشکیل شده میتواند ، درین اعلامیه از تشکیل دولت معتدل اسلامی ذکری بمیان نیامده است .
۲۷-عقرب : محترم ایت الله تقدسی در مورد مذاکرات مجاهدین باروسها گفت :
مذاکرات باروسها دارای جنبه های مثبت ومنفی بود .
جنبه های مثبت اینکه روسها مجاهدین را برسمیت شناختند ، قرار داد های خودبارژیم های دست نشانده را بحالت تعلیق قرار داده وانرا مربوط حکومت مؤقت اینده دانستند ولشکر کشی خود بر افغانستان راتقبیح نمودند .
جنبه های منفی ان اینکه اصل معضله «بقاءنجیب » را سر جایش گذاشتند زیرا انها نجیب را بقدرت رسانیده اند باید انها وی را از کار برکنار نمایند. وتازمانی نجیب موجود باشد جنگ جریان خواهد داشت. واینکه مدت دولت مؤقت را دوسال گفته اند باید مدت انرا یکسال تعیین می نمودند . زیرا در ان صورت کارهای انهاسست و برکنار نمودن ان کار مشکل خواهد بود .
۲۹-عقرب : حکومت روسیه شوروی شواردنادزه را دوباره بحیث وزیر خارجه ان کشور تعیین نمود وزیر خارجه کنونی «بوریس پینکن » بحیث سفیر روسیه در لندن مقرر شد .
بعد از یك سلسه تحقیقات وبررسیها مؤسسه ملل متحد اعلان نمود ، ملیونها دالر این اداره که بخاطر بازسازی افغانستان به کمیته اپریش سلام تحویل داده شده بود در مسائل دیگری به مصرف رسانیده شده است ، چنانچه حساب دوملین دالر از درك سامان الات نیز موجود نیست همچنان دونیم ملیون دالر کمك فرانسه درحساب گرفته نه شده است ، ونیز مبلغ هفت ونیم ملیون

دالر پولی که بخاطر بازگشت مهاجرین افغان به این اداره داده شده بود اکنون سردرگم است ، البته مسؤلیت همه این بی تفاوتیها بدوش شهزاده صدرالدین اقاخان می باشد زیرا وی مسؤلیت این اداره را بعهده داشت .
۳۰- عقرب : محی الدین شهباز وزیر پلان رژیم مزدور کابل بنا به دعوت حکومت ایران وارد تهران گردید ، تا در هفتمین اجلاس وزرای گروپ ۷۷ منعقده تهران مشارکت نماید .

*** ***

۲- قوس : معاون صدراعظم مصر داکتر بطروس غالی نامزد ریاست موسسه ملل متحد گردیده است .یازده رکن شورای امنیت رای مثبت وچهار عضورای مستنکف داده اند ۱٤ نفر امیدوار این منصب بودند .
غالي ٦۹سال عمر دارد اصلاً مسیحی بوده وخانمش یهود است
بطروس غالی درمذاکرات صلح مصرواسرائیل که منجر به موافقتنامه کمپ دیوید گردید نقش بارزی را ایفاء نموده بود . وی از جمله حامیان سرسخت یهود میباشد .
غالی از اول جنوری سال ۱۹۹۲ شروع بکار خواهد نمود.
یك منبع موسسه ملل متحد در کابل می گوید که از مدت شش روز بدین سو طیارات ایرانی رسانیدن مواد خوراکه رابه ولایات مرکزی افغانستان منجمله بامیان شروع نموده اند یکی ازمقامات رژیم مزدور گفت : چنین عملی ازامکان به دور نیست زیرا مسؤلین ایرانی از وزارت خارجه ودفاع رژیم کابل اجازه این کار را گرفته بودند .
٥-قوس : سفیرروسیه در اسلام اباد «ویکتورباکونین » بامحترم حکمتیار ملاقات نمود انها در باره رهائی اسراء باهم صحبت نمودند ، حکمتیار به سفیر روسی گفت : مجاهدین محبوس در زندانهای رژیم و در روسیه نسبت به اسرای روسی خیلی زیاد اند ومقامات روسی ابتداء باید لست همه انها راترتیب نموده ونشر نماید. بعداً ماهم حاضر هستیم که لست اسرای روسی رانشر وپخش کنیم . سفیر روسیه بامحترم استاد ربانی نیز ملاقات نموده است .
۷-قوس :طبق یك خبر، مقامات روسی نقشه تمام ماین های تعبیه شده در خاك افغانستان را به مقامات رژیم کابل داده است ، رژیم مزبورچنین تقاضا را ازمقامات روسی نموده بود .
۹-قوس: اخبارهفته که به کمك رژیم مزدور در کابل بنام اخبار ازاد نشر می شد از نشر بازماند ، این دومین جریده به اصطلاح ازاد است که درکابل تعطیل می شود که این کار دلالت به دست یافتن محافظه کاران در امور رامی نماید وبعضی ها علت این کار را خرابی مناسبات بین سلیمان لایق و فرید مزدك که معاونین حزب هستند میدانند .
۱۰-قوس : هزاران نفر از اهالی مناطق مرکزی افغانستان بعد از سیلاب های اخیر مناطق خودرا ترك نموده وروانه ایران ، بلوچستان ونیز کابل گردیده اند .
۱۱-قوس: بعد ازرای شماری در جمهوریت یوکراین هشتادفیصد مردم ان جمهوری به استقلال از ماسکو رای دادند ورهبر محافظه کار کمونست ان جمهوری ٦۰ فیصد اراء را بدست اورده است .
یوکراین یك کشور صنعتی بوده و٥۹ ملیون نفر نفوس دارد در رای گیری امتحانی نیز ۷۳ فیصد مردم بجدای ان کشور از ماسکو رأی داده بودند
۱۲-قوس : محترم کشککی در مورد سیمینار چهار روزه که در اسلام اباد تشکیل گردیده بود گفت : این سیمینار بخاطر بمیان اوردن طرحی که مورد قبول رهبران مجاهدین و بقیه افغانهای که عناصر خوب اند باشد، تشکیل گردیده است ، وی افزود ماطرحی راپیش خواهیم کرد که جنبه عملی داشته ومورد‌قبول باشد .
بعد از رأی گیری تشریفاتی درکشور سوریه حافظ الاسد بارچهارم برای مدت هفت سال بحیث رئیس جمهور ان کشور تعیین گردید .
رهبران مجاهدین افغان بارئیس دولت وصدراعظم پاکستان «غلام اسحق خان و نوازشریف » ملاقات

نمودند ، اسحق خان از انها خواست که یك طرح مشترکی راروی دست بگیرند ودر مذاکرات با روسها نیز اشتراك ورزند تا هر چه زود صلح وامنیت در افغانستان بمیان اید .

۱۳قوس :

دور دوم مذاکرات صلح خاور میانه امروز در واشنگتن تشکیل گردید ، اسرائیل درین کنفرانس شرکت نکرد وگفت حاضر نیست قبل از فرارسیدن روز دوشنبه در کنفرانس اشتراك ورزد!

١٤قوس:

منظمات جهادی هریك حزب اسلامی افغانستان ، جمعیت اسلامی افغانستان ، حرکت انقلاب اسلامی ، حرکت اسلامی ، نجات ملی ومحاذ ملی افغانستان موافقه به تشکیل شورای قیادی نموده اند که طبق ان نباید رهبران جهادی درحکومت عبوری اشتراك ورزند . محترم استاد سیاف ومحترم مولوی خالص درین موافقتنامه حضور نداشته و انرا ردنموده اند .

محترم پژواك در مورد موافقتنامه بین مجاهدین وروسها چنین گفت :

در مورد متن موافقتنامه باید توضیح داده شود ودر مورد بند های ان باید یك رساله نوشته شود وی طور مثال گفت : در متن روسی گفته شده رئیس هئیت مجاهدین افغان مقیم پاکستان ربانی ورئیس هئیت مجاهدین افغان مقیم تهران مرتضوی به مملکت ما امدند ، ولی بر عکس طبق معلوم فقط یك هئیت مجاهدین بریاست استاد ربانی به مسکو رفته بود .

وی افزود اینها تجاوز روس را یك عمل غیر قانونی خوانده اند ودر متن روسی گفته شده که شوروی در جنگ شرکت نورزیده در حالیکه تجاوز روسیه به همه دنیا معلوم است که بر افغانستان حمله نمودند ، در متن روسی در مورد اعمار مجدد به جبیره جنگ اشاره نشده وتنها در متن میگوید در مساعی مشارکت می کند یعنی مسؤلیت را قبول نمی نماید وی افزود روسها واضح نساخته اند که در مساعی مشترك با افغانها ویا در مساعی جهانی اشتراك می ورزند ، که همچو مسائل در اینده سخنها یی را بمیان اورده میتواند ، اگر اعلامیه مشترك میبود، در ان صورت همه چیز واضح میبود .

۱۵قوس :

جمهوری یوکراین امروز اعلان استقلال نموده ووابستگی خود رااز ماسکو قطع نمود .

گرباچف قوماندان نظامی کشور خود جنرال ولادیمیرلوباف را از کار برکنار نمود وعلت این کار را مریضی وی خواند .

۱۷ قوس :

وزرای خارجه کشور های اسلامی در اجلاس خویش منعقده داکار طرح سال ۱۹٦۷ م مؤسسه ملل متحد مبنی بر اخراج اسرائیل ازمناطق اشغالی را مورد تائید قرار دادند ، در ان وقت موسسه ملل متحد، اسرائیل «صهیونیست » رایك مسلك افراطی معرفی نموده بود .

۱۸قوس:

ششمین کنفرانس سران کشور های اسلامی بتاریخ ۹ دسمبر در داکار پایتخت کشور سینگال که یك کشور افریقایی است شروع شد .

این کنفرانس در هر شش سال یکبار دائر می گردد ودران سران کشور های اسلامی اشتراك می ورزند ، رئیس کنفرانس امسال شیخ جابر امیر کویت بود این سازمان در سال ۱۹۷۱م تشکیل شده است .عراق از مشارکت در کنفرانس داکار اجتناب ورزید وعلت این اقدام خود را توطئه چیدن سعودی وبعضی از کشور های عربی علیه عراق خواند .

جمهوری ملداوی ،یوکراین ، بلوروسیه ، (روسیه سفید) وفدراسیون روسیه موافقه نموده اند تا جمهوری مشترك المنافع راتشکیل بدهند . درین مذاکرات نظربایوف رئیس جمهورقزاقستان نیز حضور داشت ودرین مذاکرات از گرباچف دعوت بعمل نیامده بود .

گرباچف سعی می کند نام شوروی را حفظ کند وی چنین نظر دارد که در صورت تجزیه شدن جنگ های شدیدی در ان کشور بوقع بپیوسته که خطر ان متوجه همه جهان

خواهد بود .
۲۱قوس :
مقامات ماسکو به رئیس دولت سابق جرمنی «ارش هونیکر» ابلاغ نمودند که در طول یك هفته ماسکو را باید ترك گوید ، بعد از نشر این خبر وی به منزل سفیر شیلی در ماسکو رفت گفته می شود که سفیر شیلی تقاضای پناهندگی اورا رد نموده است .
هونیکر مسؤل قتل عده زیادی از کسانی است که در زمان حکومت وی هنگام گذشتن ازدیوار برلین بقتل رسیده اند .
اخرین فرد سخنران کنفرانس سران کشور های اسلامی یاسرعرفات بود وی گفت :
امسال برای اولین بار از جهاد مردم فلسطین علیه اسرائیل نامبرده نه شد وفقط از اسرائیل خواسته شد که سرزمین های اشغالی را ترك گوید ، عرفات این لهجه سران کشور های اسلامی راپامال نمودن حقوق فلسطینها دانست .
۲۲– قوس : پنج جمهوری اسیای مرکزی« تاجکستان ، ترکمنستان ، قزاقستان ، قرغزستان ، وازبکستان »در اجلاس خود منعقد عشق اباد پایتخت ترکمنستان فیصله نمودند که دراتحادیه جدید کشورهای مشترك المنافع که در حالت تشکیل شدن است اشتراك ورزند . اکنون همه کشورهای مربوط به شوروی به این نتیجه رسیده اند که باید ان نظام ازبین برود .
۲۵–قوس: وزیر خارجه امریکا جیمز بیکر وارد ماسکو گردید تا بامقامات روسی در مورد اینده شوروی مذاکره نماید . امریکا نگران است که بعد از تجزیه شدن شوروی کار اسلحه اتومی بکجا خواهد رسید ، گفته می شود که بیست و هفت هزار کلاهك اتومی در قلمرو ان کشور موجود است .
۲٦ قوس :
جمهوری قزاقستان اعلان استقلال نمود تااکنون همه جمهوریتهای به اصطلاح شوروی استقلال خود را اعلان نموده اند .

مؤسسه ملل متحد ماده ۳۳۷۹ سال ۱۹۷۵ خویش را رسماً مورد لغو قرار داد. در ان ماده صیهونیزم بمثابه نژاد پرستی معرفی شده بود . گفته می شود این کار به اثر فشار حکومت امریکا صورت گفته است . زیرا امریکا در زمان جنگ «طوفان صحراء بااسرائیلی ها وعده هموده بود که اگر در مقابل حملات موشکی عراق سکوت اختیار کنند در ان صورت امریکا ماده مذکور را از یادداشت های مؤسسه ملل حذف خواهد نمود واینك به وعده خود وفا نمود .
۲۷قوس :
گرباچف وبوریس یلتسن متفق گردیده اند که تا اخیر همین ماه نظام حکومتی شوروی را ازبین ببرند ، دراجتماع کرملین گفته شد که این اخرین اجلاس درکریملین خواهد بود.
۳۰قوس:
یازده جمهوری شوروی به تشکیل دولت مشترك المنافع موافقه نمودند وبدین ترتیب اتحاد شوروی رسماً از بین رفت جمهوریهای «روسیه ، یوکراین ، بلوروسیه ، قزاقستان ، اذربایجان ، ترکمنستان ، قرغزستان ، تاجکستان ، ازبکستان ، ارمینیا وملداویا »درین مذاکرات اشتراك داشتند . تااکنون جمهوری های بالتیك درین مورد چیزی نگفته اند ، جمهوری گرجستان نیز درین مذاکرات اشتراك نورزید ه بود . این مذاکرات در الماتامرکز قزاقستان صورت گرفت .
رهبران مجاهدین با الکساندر روتسکوی معاون رئیس جمهور روسیه ملاقات نمودند وی بتاریخ ۲۸ قوس از تهران وارد لاهور گردیده بود ، روتسکوی از مجاهدین خواست تابه وعده خود وفانمود واسرای روسی را رها سازند . محترم استاد سیاف ومحترم مولوی خالص گفته اند حاضر نیستند با هئیت روسی ملاقات نمایند. انها اظهار نموده اند تا تشکیل حکومت اسلامی در افغانستان بارژیم مزدور خواهند جنگید .

راغلی لیکونه

دمنبع الجهاد مجلی او فرهنگی ټولنی په نوم په دی میاشت کی هم دمجلی لوستونکو اومینه والوزیات لیکونه رارسیدلی او موږیی دلته دلیکونو دزیاتوالی له امله دځینو ورونو دنومونو په یادولو او دځینو دوستانو دلیکونو دیوی برخی په خپرولو اکتفاکوو .

دکوهات زړی میلی څخه طالب العلم گل ولی فیروزی ، طالب العلم ظفرخان هاشمی ، طالب العلم عزیزالله جان اوعبدالرحمن دمیرانشاه دمنبع العلوم مدرسی څخه طالب العلم محمد قاسم او طالب العلم نورعلی جان دچترال جغور سیمی دابوبکر صدیق (رض) مدرسی څخه معلم صاحب خواجه محمد دضلع چترال نیو بازار دروش څخه ډاکټر دوست محمد او دوکاندار حاجی عبدالقیوم دضلع کوهاټ تحصیل هنگو دار العلوم مدرسی څخه علی مت خان خوستوال دپیښور متنی بازار شریکره روړ څخه محمد اصف دپیښور دکوچی بازار نیو خانم مارکیت څخه معلم صفدرخان او عبدالقاهر عابد ددعوت او جهاد پوهنتون دطب پوهنځی څخه اختر جان محصل دضلع بنون میرعلی بازار دمدینه العلوم مدرسی څخه طالب العلم محمد وزیر دضلع کوهاټ تحصیل هنگو دعربیه دارالعلوم څخه طالب العلم ولی محمد دچارسده با غ کوروئو څخه مولانا نقیب احمد دیوبندی دضلع گجرات تحصیل پهالیه څخه ولایت خان دضلع بنون تحصیل میرانشاه دنورك دحسینه مدرسی څخه حمیدالله احمدی دضلع کوهاټ تحصیل هنگو څخه زده کوونکی نورنبی صادق یار دصوابی دبره کی برك کیمپ څخه نقیب الله او دچترال څخه عبدالرشید آریا دمنبع الجهاد دمجلی په نوم لیکونو کی دفرهنگی ټولنی دنشراتو او فرهنگی ټولنی دکارکوونکو دکار ستاینه کړی او دالله (ج) څخه یی دوی ته په فرهنگی کارونو کی دلازیات بریالیتوب دعاگانی کړی دی ځینو ورونړو دنشراتو دوراستولو په هیله خپل ادرسونه رالیږلی او ځینو بیا زموږ دنشراتو دورسیدلو اطمینان راکړی دی ، فرهنگی ټولنه ددوی دپاکو اونیکو احساساتو مننه کوی او هم به کوښښ وکړی چی دخپلو امکاناتو درلودلو په صورت کی دوی ته خپل نشرات ورورسوی یو شمیر نورو ورونو دفرهنگی ټولنی په نوم لیکونه رالیږلی چی دلته یی ځینی برخی خپروو .

دتربیله ټاون هریپور دگورنمنټ دسکندری سکول څخه زده کوونکی عبدالسلام په خپل راستولی شوی لیك کی دفرهنگی ټولنی کارکوونکو ته دسلامونو ویلو وروسته لیکی :

ستاسو له خوا څخه دخپریدونکی مجلی لسمه گڼه زموږ له نظره تیره شوه یقیناً چی په حقایقو مبنی دغه خپرونه زموږ دمسلمان ملت دنوی ځوانانو په جهادی جذبه راپارولو کی مهم رول لوبولی شی دغه رنگه مجله دورځنی ژوند څخه په معلوماتو ورکولو سره دنوی دور غوښتنی هم پوره کوی مجله دخپلی رنگارنگی له جهته دشعر او ادب مینه والو لپاره هم دپاملرنی وړده دنوښهره ځدران مارکیت څخه زموږ.

وروراصل دين بنيادپرست تر
سلامونو ويلو وروسته ليكلي :
دقلمي سنگر مجاهدينو ورونو
مادمنبع الجهاد ددريم كال څلورمي
گڼې ادبي او سياسي مضامين
ولوستل ډيرخوښ شوم . . . په دې
وخت كې اسلامي ضداژانسونه
داسلام او امت پر خلاف بې ځايه
پروپاگند څخه كار اخلي او نه
غواړي چې افغانان په دې بر يالي
شي چې په افغانستان كې يوازاد
او اسلامي حكومت جوړ كړي . . .
نورزما هيله تاسو مسلمانو
ژورنالستانو څخه داده چې خپلو
نشراتو او نظرياتو ته پراختيا
وركړي او هر مسلمان ته خپل
نظريات ورسوي ځكه چې دغه دنده
ستاسو په غاړه ده .

دكرمي ايجنسي دسروغړگي داول
نمبر كيمپ څخه طالب العلم حبيب
الرحمن علميار اوطالب العلم
فرقاني په خپل يوه گډ ليك كې
دفرهنگي ټولني منسوبينو ته
دسلامونو ويلو وروسته ليكي :
داچې ستاسي مياشتني مجله
دافغانستان د مومن او مظلوم اولس
اه او فرياد جهانيانو ته منعكس
كوي دشك او شبعې څخه وتلې
خبره ده او تقريباً دري مجلې مونږ
مطالعه كړي او پوره په زړه پوري
مطالب موتري تر لاسه كړي دامجله
دافغانستان او ټول عالم اسلام
دپاره دسباون زيري دي .

دصوابي دبره كي كيمپ اوسيدونكي
او اكوړه خټك دحقانيه دارالعلوم
طالب العلم قاري خدايداد
«شهيديار» دمنبع الجهاد دمجلي او
جهاد هنداري جريدي كاركوونكو ته
دسلامونو وروسته دخپل ليك په يوه
برخه كې ليكي :
په دې وختو كې دگرديز دجهاد
حالاتو يو ځل بيا نړۍ ته وښودله
چې په افغانستان كې ډير داسي
ځوانان شته چې په دين قربانيږي
مونږ خبر شوي يو چې ځيني طلبا
ورونه شهيدان شوي دي زموږ
تسليت دمنبع العلوم مدرسي ټولو
ورونو ته ورسوي خداى (ج) دې
دشهيدانو روحونه ښادلري مونږ هم
دغسې قرباني ته تيار يو .

دضلع مردان درستم داسلاميه
دارالعلوم څخه زموږ ورونو طالب
العلم فضل الرحمن «رحماني» تاج
محمد صديقي ، نجيب الله زاهد او
عظيم الدين په گډه يو ليك راليږلى
او دسلامونو ويلو وروسته يې ليكلي:
گرانو غزتمندوكله چې موږ منبع
الجهاد مجله مطالعه كړه نو په دې
مجله كې مو ډير په زړه پورې
مضامين وليدل چې سترگې پرې
روښانيږي اوزړونه پرې
خوشحاليږي او بل داچې مونږ ته
واضحه شوه چې دامجله دهر
اړخيزو تعصباتو څخه پاكه او دبې
وزلو افغانانو دفرياد او دجهاد
واقعيتونه ددنيا گوټ گوټ ته رسولو
دپاره دټولو نه لويه وسيله او ذريعه
ده او موږ ددې مجلې نه ډير خوښ
شولو .

دميرانشاه دمنبع العلوم څخه
دتعرضي گروپ مجاهدينو هر يو
عبدالمتين ، نظرالدين ، اختر
جهاديار ، جنت گل او نوروليي
كابلخيل په خپل گډ ليك كې
دفرهنگي ټولني كاركوونكو ته
دسلامونو ويلو وروسته ليكلي :
دتعرضي گروپ مجاهدين ستاسو
دمجلې دسو مضامينو او ښه
صحافت په درلو دلو سره مننه كوي
او په دې اسلامي دندو كې درته
دالله (ج) څخه لازياته كاميابي
غواړي ، دغو ورونو په خپل ليك كې
يوه گيله كړي او ليكي چې : دمنبع
الجهاد په مجله كې دعكس چاپول
او دمضامينو نشرول په واسطه
پورې اړه لري اوهم يې نشراتو
ورليږلو غوستنه كړي ده .

موږ دې ورونو ته وايو چې دمنبع
الجهاد مجله يوه جهادي خپرونه ده
او دهر چا مضمون چې دجهاد په
گټه وي هغه خپروي او
دمجاهدينوهر عكس چې دچاپ وړ
وي ، چاپوي يې .

پاتې شوه دنشراتو درليږل ، نو
فرهنگي ټولنه به زيار وباسي چې د
خپلو امكاناتو سره سم په دې برخه
كې اقدام وكړي .

ابدي ژوندي

شهید ملا صابر گل

شهید ملا صابر گل دجمعه گل زوی دپکتیا ولایت دوزی ولسوالی دسیدخیلو دزمخی په کلی کی زیږیدلی ؤ
نوموړی ددینی زده کړو تر څنگ روغتیایی چاروکی هم پوره لاس درلود او دخپلی سیمی داوسیدونکو تداوی یی کوله ، کله چی په افغانستان کی دثور کودتا وشوه دکمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړ او دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونو اړولو وروسته په ۱۳۵۹ هـ ش کال دنوه منده ټانی په جگړه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
انالله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان محمد شرین

شهید محمد شرین دحاجی ماموزایی زوی دپکتیا ولایت مرکز گردیز داهنگرانو په کلی کی زیږیدلی ؤ.
نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا دکیدو سره جوخت دکمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی او دجهادپه دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۷/۱۲ نیټه دگردیز دسروړی پوستو دفتحه کولو وروسته دښمن دپرسونل ماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
«انالله وانا الیه راجعون»

شهید حسن محمد

شهید حسن محمد دشیفال زوی په ۱۳۴٤ هـ ش کال دپکتیا ولایت دوزی ولسوالی دتوریخلو دامانی په کلی کی زیږیدلی ؤ.
نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا دکیدو وروسته دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهادپیل کړی او دپکتیا ولایت په ډیرو عملیاتو کی یی برخه اخیستی او هم یی دستهوکنهو په شاوخوا کی ددښمن ٥٦٠ ماینونه خنثی او له منځه وړی وو.
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۹/۹/٥ نیټه دزمری کڅ په سیمه کی دسړک دجوړولو په وخت دیوه ماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
«انالله وانا الیه راجعون »

شهید گل خان

شهید گل خان داختر محمدزوی دپکتیا ولایت ددره گی ولسوالی دحصارك په کلی کی زیږیدلی و.
نوموړی دخپل کم سن په درلودلو سره دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی و او دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .
بلاخره دغه نامتو مجاهد دخوست دتاریخی فتحی په عملیاتو کی داسماعیل خیلو دسخر پر پوسته دحملی په وخت په ۱۳۶۹/۷/۱ نیټه ددښمن سره په یوه مخامخ جګړه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید
(اناالله وانا الیه راجعون)

شهید جهان گل

شهید جهان گل دخان گل زوی په ۱۳٤۰ هـ س کال دپکتیا ولایت د درگی ولسوالی دترخیلو په کلی کی زیږیدلی و.
نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا دکیدو وروسته دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۵/۱۰ نیټه دتوری وری په سیمه کی دښمن دپرسونل ماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسید .
(اناالله وانا الیه راجعون)

شهید گل مین

شهید گل مین دمیرشادن زوی دپکتیا ولایت ددرگی ولسوالی داتمان دتنهیو په کلی کی زیږیدلی ؤ.
دغه زړور مجاهد په افغانستان کی دکمونستانو قدرت رسیدو سره جوخت دهغوی په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد په گردیز باندی دعملیاتو په جریان کی په ۱۳۷۰/۷ نیټه ددښمن دبمبارد له امله دگارو لاندی شو او دشهادت لوړ مقام ته ورسید
(اناالله وانا الیه راجعون).

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشاد نبوی

ابي موسى (رض) گفت من و دو نفر ازپسران کاکایم نزد حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم رفتيم يکی از ايشان عرض کرد که : يارسول الله (ص) ! از انچه قدرت داری مرا بکاری مقرر فرما ، ديگرش نيز عين تقاضا را نمود ، ان حضرت فرمودند سوگند ميکنم که به خواستار ماموريت وحريص ان ماموريتي نخواهم داد

بخاري - مسلم

دخوست له فاتح سره دملګرو ملتو دبشر دحقوقو
دمؤسسې داستاذې «ارماکورا» دملاقات په اړه

په خوست کې دټیول شویو جنګي
اسیرانو دخوشې کیدو په مناسبت
دغونډې رپوټ